# په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځې پر علیه
# د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق



© UNAMA

UNAMA

OHCHR

کابل، افغانستان، ۹ ډسمبر، ۲۰۱۰

# په افغانستان کې ناوړه دودونه او
# د ښځې پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون تطبیق

د بشری حقونو څانګه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)، کابل

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر دفتر، ژنیو

۹ ډسمبر، ۲۰۱۰

# فهرست


لنډيز ........ i

د اصطلاحاتو قاموس ........ vi

ميتودولوژي ........ viii

۱. زمينه ........ 1

۲. قانوني چوکاټ ........ 2
۲. ۱ د ناوړه دودونو په اړه د اساسي قانون چوکاټ ........ 2
۲. ۲ د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون ........ 3
۲. ۳ نړیوال قانوني معیارونه ........ 4

۳. په افغانستان کې ناوړه دودونه ........ 5
۳. ۱ جبري ودونه ........ 6
۳. ۲ بد یا د کشالو په هوارولو کې د نجونو ورکول ........ 10
۳. ۳ بدل- د نکاح لپاره تبادله ........ 16
۳. ۴ د ماشوم نکاح کول ........ 18
ماشوم ته کوژده کول ........ 23
بې وزلي او د ماشومی واده کول ........ 25
۳. ۵ د ولور لوړه بيه ........ 26
۳. ۶ د کونډو جبري ودونه او د ميراث حقونه ........ 28
۳. ۷ د ښځو پر خوځښت او ازادی محدوديتونه ........ 32
۳. ۸ د ناموس په نوم وژنه ........ 34
۳. ۹ د ناوړه دودونو او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی په مقابل کې د ځان سوځوني غبرګون ........ 37
۳. ۱۰ د ناوړه دودونو او تاوتریخوالی په غبرګون کې له کورونو څخه تېښته ........ 39
۳. ۱۱ ښځو لپاره زده کړو او روغتیایي خدمتونو ته لاس رسي باندې د ناوړه دودونو منفي اغيزې ........ 41

۴. د ناوړه دودونو په وړاندې د دولت غبرګونونه ........ 47
۴. ۱ تر دې دمه د ښځو پر علیه د تاتریخوالی د منع د قانون تطبيق ........ 47
۴. ۲ د قانون پلي کول او عدالت ته لاسرسی ........ 48

۵. د ديني مشرانو ونډه ........ 51

۶. د حکومت ونډه: د اسلام او بشري حقونو په اړه يو ملي ډيالوګ ته وده ورکول ........ 52

۷. د نړيوالی ټولنی غبرګون ........ 53
۷. ۱ د ښځو د بشري حقونو په خوندي کولو او وده ورکولو کې د يوناما د بشري حقونو د څانګې ونډه ........ 53

۸. سپارښتنې ........ 54

## لنډيز

ناوړه دودونه (يا زيان رسوونکی عنعنی او رواجونه) – لکه د ماشومانو ودول، په شخړو کی د نجونو ورکول، په کور کی په اجباری توګه ايسارول، بدل، او د ناموس په نامه وژنه – د دی سبب ګرځی چی په مليونونو افغانی ښځی او نجونی کړاو، شرم او تجريد سره مخ شی. د داسی دودونو بنياد په افغانی ټولنه کی د ښځو د موقف او رول په هکله تبعيض آميزه نظريی او عقايد دی. ډيری افغانان، د ځينو دينی مشرانو په ګډون، دا ډول ناوړه دودونه د اسلام د ناسم تعبير او تفسير په وسيله پياوړی کوی. په زيات شمير داسی حالاتو کی دا ډول دودونه د شرعی قانون او د داخلی او نړيوالو قوانينو سره مطابقت نه کوی، خو د ښځو حقوق تلف کوی.

د يوناما د بشری حقونو د څانګی رپورټ چی " ناوړه دودونه او د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع د قانون تطبيق" نوميږی، ځانګړی دودونه درج کوی چی په افغانستان کی د ښځو او نجونو حقوق پايمالوی، او د داسی دودونو پر وړاندی د افغانستان د اسلامی جمهوريت غبرګون او ځواب څرګندوی او د ختمولو لپاره يی سپارښتنی وړاندی کوی. د يوناما د بشری حقونو څانګی د پراخه تحقيق او ګڼ شمير مرکو له لاری چی د ۲۰۱۰ کال په ترڅ کی د افغانستان په ۲۹ ولايتونو کی د ډيری ښځو، نارينه و، حکومتی چارواکو، دينی مشرانو، د ښځو د حقوقو او مدنی ټولنی فعالينو او ټولنيزو ګروپونو سره تر سره شوی وی، دا جوته کړی ده چی دا ډول ناوړه دودونه د هيواد په هر ځای کی او په مختلفو ټولنو کی په بيلابيلی کچی، په ښاری او هم په کليوالو ټولنو کی، او په ټولو مليتونو کی شته دی. رپورټ دا څرګندوی چی دا ډول دودونه د دی له کبله چی حکومت نه شی کولای چی د ښځو او نجونو له حقوقو څخه ساتنه وکړی، لا پياوړی شوی. رپورټ د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون پر تطبيق ټينګار کوی چی په هغی کی ډيری ناوړه دودونه جرم او د سزا وړ ګڼل شوی. رپورټ دا هم په ګوته کوی چی ډيری ناوړه دودونه هم د افغانستان د قوانيونو له مخی جرم ګڼل کيږی او هم د شرعی قانون سره مطابقت نه لری او په دی اړه د ښځو پر وړاندی د تاو تريخوالی د له منځه وړلو د قانون مربوطه مادی د شرعی قانون د مکمل کوونکو اصولو سره بيانوی. د مختلفو حقوقی او اسلامی ماهرينو سره مباحثی او مشوری د شرعی قوانينو د اصولو د تحليل په برخه کی د يوناما د بشری حقونو څانګی سره مرسته کړی.

همدا شان د ناوړه دودونو د زيات رواج او هم له منځه وړلو په برخه کی د دينی مشرانو، د ټولنی مشرانو او سپين ږيرو او د شخړو د حل عنعنوی ميکانيزمونو رول هم په ګوته شوی دی. دا رپورټ د ناوړه دودونو په هکله د ټولنو نظريی هم وړاندی کوی تر څو چی د حکومت، دينی مشرانو، ټولنو او نړيوالو مرستندويو له خوا د تدابيرو طرح او عملی کول لا ښه کړی څو چی داسی دودونه له منځه يوسی.

د ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت کی، حکومت د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون نافذ کړ چی که چيری په بشپړه توګه عملی شوی وای، نو ناوړه دودونه به يی له منځه وړای وای. د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون غواړی چی ټول هغه دودونه، عنعنی او کړنی له منځه يووړل شی چی د ښځو پر وړاندی د تاو تريخوالی سبب ګرځی او د اسلام د سپيڅلی دين سره په مغايرت کی دی. دا قانون د نورو زيانمنوونکو کړنو سربيره، د واده په مقصد د ښځو پيرل او پيرودل، اجباری واده، د قانونی عمر نه دمخه واده، اجباری تجريد او ايسارول، د ښځو مجبورول دی ته چی ځان ته اور ورواچوی، تعليم، کار او روغتيايی خدمتونو ته د لاسرسی څخه محروموال غير قانونی ګڼی. دا قانون د حکومت اوو وزارتونو ته وقايوی تدابير توضيح کوی چی وکړای شی د ښځو پر وړاندی د تاو تريخوالی د مخنيوی لپاره عالی کميسيون جوړ او په کار واچوی.

د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون د ښځو د قانونی حقوقو د ساتنی په لاره کی يو ستر قدم دی. په عين حال کی د يوناما د بشری حقونو څانګه په دی قانون کی څو ضعفونه هم په ګوته کوی، لکه د ناموس په نامه جرمونه، د جنسی تيری واضح تعريف چی په ښکاره توګه يی له زنا (له واده پرته جنسی مقاربت چی د اسلامی قانون له مخی جرم دی) څخه بيل کړی، او د دی ضرورت چی يو مصدوم کولای شی چی يو قضايی اقدام پيل کړی او يا دوام ورکړی. د دی انديښنو با وجود، د يوناما د بشری حقونو څانګه او ګڼ شمير د ښځو د حقوقو افغانی مدافعان په دی عقيده دی چی د موجوده قانون په هکله پوهاوی لوړول او د دی قانون د بشپړ تطبيق لپاره کار کول اوس مهال ډيره بيړنی اړتيا ده چی د ښځو او نجونو حقوق وساتل شی. په عين حال کی دا هم منی چی

ممکن د نوموړی قانون بیا کتنه او تعدیل ضروري وی تر څو وکړای شی چی په بشپړه توګه د ښځو د حقوقو تضمین وکړای شی.

د یوناما د بشري حقونو څانګی وموندل چی په اکثرو حالاتو کی د قانون تطبیقوونکی چاروکی نه غواړی یا نشی کولای چی هغه قوانین تطبیق کړی چی د ښځو د حقوقو ساتنه کوی او په حقیقت کی همدا د دوی اقدام نه کول دی چی اجازه ورکوی چی ناوړه دودونه دوام پیدا کړی. د یوناما د بشري حقونو څانګی دا جوته کړه چی سره له دی چی پولیس او عدلی ارګانونه د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون څخه خبریږی، دوی په ملی کچه د قانون د تطبیق د څرنګوالی په هکله لا زیاتی لارښوونی او مرستی ته اړتیا لری. په زیات شمیر کلیوالو او لیری ولایاتو کی، ټولنی او حکومتی مأمورین د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون په هکله معلومات نه لری او دا قانون نه تطبیقیږی.

د یوناما د بشري حقونو څانګه یادوی چی ناوړه دودونه د اسلامی لارښوونو سره مطابقت نه لری، خو د اسلامی عقایدو ځانګړی تعبیر څخه د داسی ناوړه دودونو د توجیه لپاره کار اخیستل کیږی. اسلام د افغانستان په اساسی قانون کی مرکزی ځای لری، او دا رپورټ دا بیانوی چی د شرعی قانون له مخی اجباری واده، د شخړو د حل په خاطر د نجونو ورکول او داسی نور ګڼ شمیر کړنی منع دی. د یوناما د بشري حقونو څانګه وړاندیز کوی چی حکومت دی د شرعی قانون د جامع تعبیر وړاندی کولو په برخه کی مخکښ واوسی تر څو وښایی چی هغه حقوق چی په ملی او نړیوالو قوانینو کی یی ضمانت کیږی د اسلام بنیادی لارښوونی بشپړوی.

د بدو تر عنوان لاندی د شخړو د حل په خاطر د نجونو ورکول په افغانستان کی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی تر ټولو شدید شکل دی. د یوناما د بشري حقونو څانګی وموندل چی د بدو ورکول سره له دی چی د افغانستان قوانینو له مخی غیر قانونی عمل دی، په ټول هیواد کی او د ټولو ټولنو په منځ کی رواج لری. د بدو د پراخه رواج سره سره، ګڼ شمیر نارینه او ښځی چی مرکی ورسره شوی وی، د دی عمل پر وړاندی شدید مخالفت څرګندوی. په فاریاب ولایت کی ښځو د یوناما د بشري حقونو څانګی ته وویل چی هغه انجونی چی په بدو کی ودیږی "هیڅکله د نوی کورنی له خوا د احترام وړ نه وی ځکه چی دوی دغه انجلی د هغه نارینه سره تړلی ګڼی چی مجرم دی او دا انجلی هم مجرمه بلل کیږی. او د انتقام اخیستلو د وسیلی په حیث د دی انجلی سره لکه د وینځی چلند کیږی. او کله کله دا انجلی مجبوروی چی د څارویو سره په غوجل کی و اوسی".

د یوناما د بشري حقونو څانګی د ټول هیواد په کچه بحثونو او د ثبتو شوو دوسیو د تحلیل له لاری دا وموندله چی په افغانستان کی زیاتره ودونه اجباری وی ځکه چی د ښځی آزاده او آګاهانه موافقه په کی موجوده نه وی. اجباری ودونه په افغانستان کی بد، بدل، په کم عمر کی ودونه (چی طبیعتاً اجباری وی)، او د کونډو مجبورول دی ته چی د خپل مړ شوی میړه خپلوانو سره واده وکړی، په بر کی نیسی.

د انجونو ودول له ۱۶ کلنی څخه دمخه، او په محدوده پیمانه په ۱۵ کلنی کی، د افغانستان د قوانینو له مخی منع دی. خو لا هم د ډیرو کم عمره انجونو ودول د هیواد په ټولو برخو کی او په ټولو ملیتونو کی ډیر عام دی. سره له دی چی رسمی ارقام موجود نه دی، د یوناما د بشري حقونو څانګه ښئی چی نیمایی افغانی انجونی مخکی له ۱۵ کلنی څخه ودیږی. د ماشومانو د ودولو د پراخه دود سره سره، ټولو نارینه او ښځو چی د دی رپورټ په موخه د یوناما د بشري حقونو څانګی ورسره مرکی کړی، د ماشومانو ودول په هیواد کی د یو جدی ناوړه دود په توګه وپیژندل.

په پراخه کچه ښودل شوی دی چی د ماشومانو د ودولو پایلی د دوی روغتیا، تعلیم او نورو ښیګڼوته زیان رسوونکی وی چی دا زیان بیا د اوږدی مودی لپاره اثر غورځوی. افغانستان په نړۍ کی د میندو د مړینی تر ټولو لوړه کچه ښئی او داسی مړینی زیاتره په هغو میرمنو کی واقع کیږی چی له ۱۶ کلونو څخه کم عمر کی واده شوی وی.

زیات شمیر افغانانو دا موضوع چی کورنی باید د خپلو زامنو د واده لپاره لوړ ولور ورکړی، د یو ناوړه دود په توګه وپیژندل. د افغانستان د شدید فقر په اوسنی حالت کی لوړ ولور د اجباری ودونو، د انجونو پلورلو او د

کورنی تاو تریخوالی لوړی کچی سبب ګرځی. کله کله نارینه د دی له کبله چی د واده د قرضونو د خلاصولو لپاره باید د کلونو کلونو لپاره کار وکړی، د نا امیدئ احساس کوی.

د یوناما د بشری حقونو څانګی هیڅ قانونی او دینی بنسټ د ښځو د ګرځیدو راګرځیدو په برخه کی محدودیت په هکله چی د ښځو حقوق نقض کوی، نه دی موندلی. د ولسی جرګی یوه غړی وایی چی "ما ته اخطارونه راکړل شول چی باید کار و نه کړم، ځکه چی له کور څخه بهر د ښځو کار کول ناروا دی او د شریعت له مخی منع دی. کومه تنخواه چی زه اخلم هغه حرامه ده او زه باید کور کی کښینم"

د یوناما د بشری حقونو څانګی د ناموس تر نامه لاندی وژنو قضیی درج کړی دی چی معمولاً وژل شوی کسان ښځی وی چی د یو یا څو تنو خپلوانو له خوا چی په دی باور دی چی کورنی ته یی شرم اړولی دی، وژل شوی دی. هغه څه چی شرم ګڼل شوی اکثراً د ښځو تیښته له اجباری واده یا د کوم نارینه سره نا روا اړیکی وی. دا ریپوټ سپارښتنه کوی چی د افغانستان د جزاء قانون کی دی د ناموس تر عنوان لاندی وژنو د سزا کمول حذف کړای شی.

د ناوړه دودونو تر ټولو خواشینی کوونکی پایلی د ځان سوزولو پیښی دی چی د افغانستان په ځینو سیمو کی مخ پر زیاتیدو دی. هغه ډاکټر چی په افغانستان کی د سوزیدلو ناروغانو د یواځینی اختصاصی روغتون مشر دی توضیح کوی چی د ځان سوزولو اساسی علت اجباری ودونه دی. "کم عمره انجونی زړو نارینه و ته واده کیږی، یا ورباندی پلورل کیږی او یا هم د میړو او حتی اپینو سره تبادله کیږی... د خاوند یا خواښی له خوا د فشار له امله دوی کله کله ملا یا د ټولنی شورا ګانو ته ورشی او له هغوی نه مرسته وغواړی، خو هلته هم هغوی د شرم او ښکنځلو سره مخ شی."

پولیس او قضایی ارګانونه اکثراً د هغه قانون په تطبیق کی پاتی راځی چی د ښځو حقوقو ته درناوی کوی، او د دی پر ځای چی په بیطرفه توګه عدالت تأمین کړی، خاصی کړنلاری اختیاروی. دوی اکثراً داسی قضیی تعقیبوی چی په هغی کی ادعا کیږی چی ښځو پر ټولنیزو نورمونه تیری کړی دی او کله چی ښځی دی ارګانونو ته د تاو تریخوالی یا د ماشومانو د ودولو په هکله ریپوټ ورکوی، نو دوی وایی چی دا د خلکو "خصوصی معاملی" دی. دا وضعیت د ګڼ شمیر هغه ښځو له خوا بیان شوی چی په زندانونو کی د "د اخلاقی جرایمو" په نامه بندیانی دی. کله چی فرهنګی او ټولنیز شرایط ښځو ته د دی اجازه نه ورکوی چی د ناوړه دودونو پر وړاندی مخالفت وکړی، او یا له تاو تریخوالی څخه خلاصی شی، نو دوی کله کله له کور څخه تښتی. "له کور څخه تیښته" د افغانستان د قوانینو له مخی جرم نه دی. خو سره له دی هم د قانون پلی کوونکی چارواکی اکثراً هغه انجونی چی له کور څخه وتښتی ونیسی، تر عدلی تعقیب لاندی یی راولی او بندیانی یی کړی او اتهام ورباندی "د زنا قصد لرل" ولګوی. ډیری مطالعی ریپوټ ورکوی چی په زندانونو کی نیمایی بندیانی ښځی (تخمیناً ۳۰۰ تنه) په "اخلاقی جرایمو" تورنی دی.

د بیلګی په توګه، په جلال آباد کی پولیس یوه ۱۷ کلنه انجلۍ هغه وخت ونیوله او بندی یی کړه چی هغه یی د یوه هوټل په یوه خونه کی یواځی وموندله او پر هغی یی دا تور ولګاوه چی د زنا قصد یی درلود. د یوناما د بشری حقونو څانګی دا وموندله چی هغه انجلۍ دی ته مجبوره کړای شوی وه چی باید په ۱۳ کلنۍ کی واده وکړی او له تعلیم څخه محرومه شی، او بیا د خسرانو له خوا ورسره بد چلند کیده او ورته اجازه نه ورکول کیده چی له کور څخه بهرلاړه شی او حتی خپله کورنی ووینی.

د یوناما د بشری حقونو څانګی د حکومت له خوا د ناوړه دودونو پر وړاندی غبرګون په برخه کی ځینی پرمختیاوی هم ثبت کړی دی. دولتی چارواکو کله کله د داسی انجونو حمایت کړی چی د اجباری واده پر وړاندی یی اعتراض کړی. د بیلګی په توګه، د ۲۰۰۹ کال په دسمبر کی یوی ۱۲ کلنی انجلۍ د هغی پریکړی سره مخالفت وکړ چی هغه یو ۶۰ کلن سړی ته د ۲ کلنۍ په عمر کی ورکړل شوی وه. لس کاله وروسته کله چی هغه سړی وغوښتل چی نوره دی خبره رسمی شی او انجلۍ دی هغه ته ورواده کړی، نو انجلۍ انکار وکړ او ویی ویل چی هغه نه غواړی چی د یوه ۷۰ کلن سړی ښځه شی. کورنی هغه پیسی چی سړی دوی ته د دی معاملی

لپاره ورکړي وي بيرته ورکړي او پوليس دواړو ته اخطار ورکړ چې دوی نه شي کولای چې انجلۍ په زوره واده کړي.

د يوناما د بشري حقونو څانګې وکتل چې سره له دې چې ناوړه دودونه د اسلامي بنسټيزو عقايدو سره مطابقت نه کوي، ځينې د ټولنې مشران او ديني رهبران داسې ناوړه دودونه تقويه کوي. ګڼ شمير افغان نارينه و او ښځو چې د دې رپورټ په موخه ورسره مرکې وشوې، وويل چې د ناوړه دودونو د ختمولو لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چې ديني مشرانو ته تعليم او ټريننګ ورکړای شي. دوی وويل چې د ديني مشرانو دروند او د احترام وړ غږ کولای شي چې کليوالو ټولنو ته توصيه وکړي چې ناوړه دودونه د ښځو پر وړاندې يو تبعيض دی او د اسلامي قانون سره مطابقت نه کوي.

ځينو ديني مشرانو د ښځو د حقوقو په پلوۍ هم خبرې کړي دي. په ۲۰۱۰ کال کې ښځو د نړيوالې ورځې په مناسبت په جلال آباد کې يو جوړ شوی کنفرانس کې د ننګرهار ولايت ۱۵ تنو علماو وويل چې بايد علما د ناوړه دودونو په برخه کې عامه پوهاوی ته وده ورکړي. د يوناما د بشري حقونو څانګې داسې ديني علماء هم موندل چې د بدل په توګه ودول او د لوړ ولور اخيستل يې تقبيح کول.

د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون د مناسب تطبيق لپاره بايد د قانون پلي کوونکو ادارو د پرسونل ظرفيت لوړولو او زيانمنو شوو وګړو ته د خدماتو رسولو په برخه کې زياته پاملرنه وشي. د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون پر اساس د عاملينو متهم کول او سزا ورکول ښايي له داسې اعمالو څخه د دوی د منع کولو سبب شي. په عين حال کې، بايد د افغانستان خلک په دې خبر شي چې داسې قانون شته او ناوړه دودونه جرم ګڼل. د ناوړه دودونو د ټولنيزو منفي او ناوړه پايلو په هکله د هيواد په کچه د افغاني ټولنو د پوهاوی لوړول هم لازمي دي. مدني ټولنې سره بايد د داسې مسائلو د څارنې، عامه پوهاوی او تبليغ او ترويج يا advocacy فعاليتونو په برخه کې مرستې وشي.

د يوناما د بشري حقونو څانګه په دې باور ده چې تر هغې چې ښځې او انجونې د داسې کړنو سره مخ دي چې هغوی ته د زيان، تحقير او شرم سبب ګرځي او اساسي بشري حقونه يې نقض کوي، د ښځو د حقوقو د تحقق په برخه کې به ډير لږ پرمختګ ممکن وي چې تدوام ولرلای شي. د افغانو ښځو د حقوقو تحقق – لکه د سولې، پخلاينې او بيا پيوستون رواني پروسې په شمول په ورځنيو چارو کې د دوی برخه اخيستل، په کافي اندازه روغتيايي خدماتو او د تعليم او کار کولو فرصتونو ته د دوی لاسرسی – يواځې د کاغذ پر مخ قانوني او بنيادي تحفظ نه غواړي بلکه په کافي اندازه تطبيق او په عمل کې دا ډول تحفظ يې تر هغې لا هم مهم دی. د يوناما د بشري حقونو څانګه پر افغان حکومت، ديني مشرانو، ټولنو، مدني ټولنې او نړيوالو مرستدويو غږ کوي چې د ناوړه دودونه له منځه وړلو او بې له کوم تأخير څخه د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون د تطبيق لپاره دې ټول ممکنه تدابير ونيسي.

## اساسي سپارښتنې

- **د افغانستان اسلامي حکومت** بايد په لوړه کچه، د جمهور رئيس په شمول، په ښکاره او دوامداره توګه تأکيد وکړي چې د ښځو د حقوقو پرمختګ او ساتنه په ټول افغانستان کې د سولې، بيا پيوستون او پخلاينې يوه نه بيليدونکې برخه او د هيواد د سياسي، اقتصادي او امنيتي ستراتيژيو مرکزي ستن ده.
- حکومت بايد د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان تطبيق تسريع کړي، په ځانګړې توګه دې د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون لپاره يوې ملي ستراتيژۍ ته وده ورکړي او عملي يې کړي. د يو بيړني اقدام په توګه، جمهور رئيس کولای شي سم له واره فرمان صادر کړي چې هغه ښځې او نجونې چې "له کور څخه د تيښتې" په جرم بنديانې شوې دې خوشې کړي چې د افغاني قوانينو له مخې جرم نه دی (معمولاً هغه ښځې چې له کوره وتښتي د زنا په نيت لرلو متهمې کيږي).

- **ستره محکمه او لويه څارنوالي** دې ټولو محاکمو او څارنواليو ته هدايات صادر کړي چې د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون تطبيق کړي. پوليس او څارنوالان بايد د قانون سره سم د ناوړه دودونو

په برخه کې ټول هغه شکايتونه درج کړي چې د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون له مخې جرم ګڼل شوی، او څارنوالی دی د داسی قضيو پلټنی او عدلی تعقيب سم له واره پيل کړی.

- **د عدليې وزارت** دی د ښځو په وړاندی د تاو تريخوالی د مخنيوی لپاره عالی کميسيون سره يو ځای د قانون تطبيق کوونکو ټولو مأمورينو ته د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون د تطبيق په برخه کی، د اجباری او د ماشومانو ودونو او د شخړو د حل په مقصد په بدو کی د انجونو د ورکولو د تشخيص، پلټنو او عدلی تعقيب په شمول، د ظرفيت د لوړولو په خاطر روزنيز پروګرامونه برابر کړی.

- **دينی مشران** دی د حج او اوقافو او د ښځو چارو وزارت سره يوځای د ملايانو، امامانو او دينی ښونکو لپاره د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون په هکله د پوهاوی زياتولو روزنيز پروګرامونه جوړ کړی. دينی مشران او علما بايد د ناوړه دودونو په هکله چی د اسلامی هداياتو او اصولو سره مطابقت نه لری عوامو ته خبری وکړی او د شريعت متخصصينو سره دی د اسلام او د ښځو د حقوقو په هلکه آزاد بحثونه پيل کړی.

- **نړيوال مرستندويان** دی د حکومت او مدنی ټولنی هغه ابتکارونه پياوړی کړی چی موخه يی د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی د منع قانون تطبيق او د افغانستان د ښځو لپاره د ملی کاری پلان د تطبيق لپاره هڅی دی.

# د اصطلاحاتو قاموس

**لنډيزونه**

| | |
|---|---|
| CEDAW | د ښځو پر عليه د هر ډول تاوتريخوالی د له منځه وړلو تړون |
| DoWA | د ښځو د چارو رياست (په ولايتونو کې د ښځو چارو د وزارت استازي) |
| EVAW law | د ښځو پر عليه د خشونت د منع قانون |
| MoWA | د ښځو د چارو وزارت |
| NGO | غير حکومتي اداره |
| UNAMA HR | د يوناما د بشري حقونو څانګه |
| UNIFEM | د ښځو د پرمختګ لپاره د ملګرو ملتونو پانګه |

**پښتو، دري او عربي لغتونه**

| | |
|---|---|
| بد (بد ورکول) | د قتل يا ناموس ته د سپکاوي څخه را ولاړو شوو ستونزو حل په موخه د ښځو يا نجونو ودول. |
| بدل | د کورنيو ترمنځ د ازدواج لپاره د نجونو بدلول |
| حديث | د پيغمبر محمد (صلی الله عليه وسلم) د کړنو او ويناوو ريکارډ |
| حرام | د شريعت له مخې منع شوی يا غير مشروع کار |
| حدود | (د حد جمع) هغه جرمونه چې د خدای ( ج) د امر څخه د سرغړونې په څيرمنل شوي او جزا يې اختياري نه بلکه حتمي ګڼل کيږي. اووه جرمونه شته چې د حدود جزا ورپورې منسوب ده: زنا، غلا، داړه ماري، بدنامه کول، تيری، د الکهولو څښل او ارتداد. |
| ايجاب او قبول | د ازدواج د ارادې اظهارول يا د واده وړانديز (د ښځې له خوا) او د هغه قبولي (د سړی له خوا) |
| جرګه | د مشرانو غونډه |
| محرم | د ويني نږدې خپلوان (د ميړه او هغو نارينه وو په ګډون چې ښځه نه شي کولای ازدواج ورسره وکړي لکه پلار، زوی، ورور او نور ...) |
| مرکه | د مشرانو پلاوی چې د کورنيو په منځ کې منځګړيتوب کوي |
| ملک | په يوه ټولنه يا کلي کې لاربنود مشر |
| مهر يا مهريه | هغه تحفه، پيسې يا ملکيت چې د ميړه له خوا ناوې ته يې وعده کيږي او د ازدواج يوه برخه جوړوي. |
| نفقه | د ميړه له خوا د ښځې لپاره د مرستې برابرول چې غذا، کالي، کور، روغتيايي پاملرنه او نورې اړتياوې په کې شاملې دي. |
| د شريعت احکام | د قوانينو مجموعه چې د قران کريم او د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) له ارشاداتو او مثالونو څخه راوتلي دي. |
| شينګري | د تيښتې عمل (پښتو لغت شينګړه) |
| تعزير | هغه جزاګانې چې د شرعي قانون پرته د بل قانون له مخې ټاکل شوي وي |
| ولور، قلين، تويانه | د پيسو مجموعه يا ملکيت چې د ناوې د کورنۍ له خوا له زوم څخه غوښتل کيږي او له مهر څخه علاوه دي چې ناوې ته ورکول کيږي. |
| ولي | په قانوني لحاظ د يوه ناتوانه شخص (لکه ماشوم يا په دماغي لحاظ معيوب شخص) د ګټو ساتونکی |
| وکيل | قانون پوه يا استازی چې د قرارداد له مخې يا په رسمی چارو کې استازيتوب کوي |
| علما | مذهبي پوهان |
| زنا | له واده څخه پرته جنسي اړيکی |

## میتودولوژي

د یوناما د بشري حقونو څانګې چې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر استازیتوب هم کوي په ۲۰۱۰ کال کې په افغانستان کې د دې مسالې په اړه د خپلو دفترونو له لارې یوه څېړنه ترسره کړه. په ټولیز ډول له انفرادي اشخاصو او ډلو سره ۱۵۰ مرکې وشوې. د یوناما د بشري حقونو افسرانو د خشونت له ښځینه قربانیانو، د بشري حقونو د مدافعینو او فعالینو، د ښځو د سازمانونو له استازو، مدافع وکیلانو، اجتماعي کارکوونکو، د روغتیا له ماهرانو، د ولایتي شورا له غړو، ژورنالستانو، د قانون د انفاذ له چارواکو (د تحقیقاتو او پلټنې د چارواکو په ګډون) د روغتیا، مذهبي چارو، د ښځو د چارو، اطلاعاتو او کلتور د وزارتونو له ولایتي چارواکو او همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سره مرکې کړې دي. د یوناما د بشري حقونو افسرانو په ټول افغانستان کې د ښځو او نارینه وو ګروپي غونډې جوړې کړې (جلا او ګډې غونډې) چې ښوونکو، د روغتیا ماهرانو، د پوهنتون او لوړو زده کړو موسسو شاګردانو، د کور ښځو، مذهبي او د ټولنې مشرانو، د علماوو په ګډون په کې اشتراک درلود.

په مباحثو او مرکو کې د امکان تر بریده له مختلفو خلکو څخه استازیتوب شوی دی او د کابل، پروان، کاپیسا، پنجشیر، لوګر، وردګ، کندز، تالقان، فیض آباد، هرات، غور، بادغیس، فراه، بامیان، دایکندی، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، نیمروز، اروزګان، سرپل، جوزجان، بلخ، فاریاب، سمنګان، ننګرهار، لغمان او کنړ ولایتونو په ښاري او کلیوالی سیمو کې ترسره شوې. کوم ځای کی چې د یوناما د بشري حقونو افسرانو و نه شو کړای چې د امنیتي لاملونو په وجه هلته ولاړ شي (د مثال په ډول د نورستان ولایت) کارمندانو د دغو سیمو له خلکو سره په خوندي ځایونو کې لیدلي دي. ټولې مرکې او مباحثې په ناوړه دودونو، د هغوي په پراخوالی، او پایلو چې ښځې او نجونې متاثره کوي او همدارنګه د دولت په غبرګونونو باندې متمرکزې وې. همدارنګه په راپور کې د ناوړه دودونو یو څو نمونې هم شاملې دي چې د یوناما د بشري حقونو افسرانو په تیرو دوو کلونو کې تر څارنې او تحقیق لاندې نیولې دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې د دې راپور د چمتو کولو لپاره یو لړ لیکنې هم په دې باب له نظره تیرې کړې دي.

راپور په افغانستان کې د ناوړه دودونو د ټولو شکلونو بشپړه مطالعه نه ده. د دې راپور هدف دا دی چې د ځینو عملونو د څرنګوالي، د هغوي د لاملونو او اوږدمهاله پایلو په باب اندیښنې راوپښې کړي چې د ښځو د حقونو په پوره کولو او د داسې کړنو د له منځه وړلو او سمون په لار کې خنډونه جوړوی. راپور هغو قضیو ته اشاره کوي، چې د یوناما د بشري حقونو څانګې تر څارنې او تحقیق لاندې نیولې او له دولتي چارواکو سره یې تعقیب کړې دي، څو د بدې استفادې شکلونه او نمونې څرګندې شي او د ښځینه قربانیانو او د بشري حقونو د مدافعینو تجربې سره شریکې کړای شي. د امنیتي لاملونو له وجې ټول هغه معلومات نه دي ځای شوي چې د مرکې ورکوونکو یا قربانیانو هویت او یا نورې حساسې برخې را برسیره کوي.

نوټ: د مبارکه آیاتو ترجمی له تفسیر کابلی څخه اخیستل شوی دی.

## ۱. زمينه

ناوړه دودونه چې ريښې يې دود، دستور او کله هم مذهب ته منسوبيږي، د درد، کړاو، تحقير او د ميليونونو افغان ميرمنو او نجونو د تجريد سبب ګرځي چې د نيمايي نفوس د بنسټيزو بشري حقونو د نقض لامل هم جوړوي. داسې کړنې لکه اجباري ودونه او په ماشومتوب کې ودونه، د کشالو د حل لپاره د نجونو ورکول، په بدل کې ودول او د ناموس په نامه وژنه ناوړه دودونه بللې کيږي.[1] دغه ډول کړنې په ټولنه کې د ښځو او نجونو د نقش او موقف په اړه له تعصب اميزه عقيدو او نظرياتو څخه سرچينه اخلي. په افغانستان کې ناوړه دودونه د پراخې نيستۍ او نا امنۍ له امله نورې هم قوت اخلي، چې افغانان له ديرشو کلونو څخه لا د زياتې مودې راهيسې ورسره مخامخ دي.

ډيرو افغان ميرمنو او نارينه وو چې د يوناما د بشري حقونو افسرانو مرکې ورسره کړي دي ويلي دي چې زيات شمير افغانان په دې باور دي چې هغه عملونه چې ښځې د نارينه وو د ارادې تابع ګرځوي او د دوی د فعاليتونو ساحه ډيره تنګوي، په قران کريم کې ريښې لري. خو لکه څنګه چې په دې راپور کې څرګنده شوې ده، ډيرې ناوړه دودونه په مذهبي اصولو نه دي بنا شوي يا په ځينو قضيو کې دغه کړنې د مذهبي لارښودونو سره په ټکر کې وي. کلتور او دود او دستور ته کله په تاوتريخوالي او جګړو کې د پناګاه په څير کتل کيږي او استفاده ورڅخه کيږي، مګر دا ډول کړنيباید له مذهبي درک څخه فرق شي.

خو بايد وويل شي چې کلتور هيڅکله يو ثابت شي نه دی او دود او دستور تل د بدلون او تکامل په حال کې دی. مذهب کولای شی د ښځو د حقونو لپاره د يوې مثبتې قوې په څير کار وکړی. د مذهب يا عقيدې د آزادئ په باب د ملګرو ملتونو خاص راپورتر په قول "په هغو ملکونو کې چې قراني مفهومونه په ډير دقت کارول کيږي، دغه خبره له ياده وتلې چې قراني مفهومونه د اسلامي عصر څخه د مخه عربي قبيلوي ټولني له کړنو سره چې ښځو په کې حقوقي موقف نه درلود او د انتقال او بخښلو وړ ملکيت شميرل کيدلې، د ښځو د ازادئ او خلاصون لپاره منځ ته راغلې دی."[2] قران کريم ښځو ته ډير حقونه ورکړی دي.[3] دوديزې کړنې چې ښځو ته زيان رسوي ځينې وختونه له مذهبي ښوونو سره په مغايرت کې دي او ډير ځله يا په مطلق ډول د مذهبي مفهومونو په کلتوري تعبيرونو پورې تړاو لري.[4]

د يوناما د بشري حقونو موندنې او همدارنګه د نورو سازمانونو[5] څيړنې څرګندوي چې ناوړه دودونه په معمول ډول د مذهبي غلط فهميو، د ښځو د نقش په باب د ټولنې او کورنيو د درک، د قضايي چارواکو او پوليس د ناکامئ په ذريعه، چې د قانون د انفاذ په برخه کې بيرته پاتې کيږي، او غير رسمي عدلي ميکانيزمونو په واسطه چې د يو جمعی حل په توګه د ښځو فردی حقونو په برخه کی مدارا کوی، پیاوړی کيږی.

---

[1] د ځانګړې استازی راپور د ښځو پر عليه د تاو تريخوالی او د هغو د لاملونو او پايلو په باب، په کورنۍ کې کلتوري دودونه چې د ښځو پر عليه خشونت څرګندوی، راديکا کومارا سوامی، جنوري ۲۰۰۲، E//CN.4/2002/83.

[2] د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازی، عبد الفتاح امور له خوا راپور د مذهب يا عقيدې د ازادئ په اړه، د مذهب او کلتور په رڼا کې د مذهب يا عقيدی د ازادئ او د ښځو د موقف په اړه څيړنه، E/CN.4/2002/73/Add اپريل، ۲۰۰۹ ۷ مخ.

[3] پورتنی ماخذ

[4] پورتنی ماخذ

[5] په افغانستان کې د زيانمنو دوديزو کړنو په اړه د نورو څيړنو لپاره وګورئ: افغانستان: ښځينه بنديانې او په ټولنه کې د دوی بيا په حال کول، يو این او ډی سي، مارچ، ۲۰۰۷، د ښځو د زيږون پرمهال د هغوي په روغتيا باندې د جنسيتي تاوتريخوالی اغيزې، ميډيکا مونديالی/ يو این اف پي ای، په افغانستان کې وختي ودونه، د ښځو او ماشومانو په باب د قانوني څيړنو مرکز، ۲۰۰۸، پريکړې، غوښتنې او تنوع: په افغانستان کې د ازدواج دودونه، ديبورا جی سميت، ای آر ای يو، ۲۰۰۹، د دود دستور په تله کې؛ د کابل ولايت په توقيف ځای کې ښځې او نجونې، ميډيکا مونديالی، ۲۰۰۳.

## ۲. قانوني چوکاټ

دغه راپور د ښځو پر علیه  د تاوتریخوالی د منع د قانون، چې د ۲۰۰۹ په اګست کې نافذ شو،[6] اړونده ماده یادوي، چې د شرعي اصولو په مرسته یو ځانګړي ناوړه دود د یوه جرم په حیث پیژني. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د شرعي قوانینو تحلیل، چې په دې راپور کې ځای شوي د شرعي علومو له ماهرانو او پوهانو له پراخو سلا مشورو وروسته تر سره شوی دی.

### ۲. ۱ د ناوړه دودونو په اړه د اساسي قانون چوکاټ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون (۲۰۰۴) د بشري حقونو د ساتنې او پرمختګ لپاره قانوني چوکاټ تعیینوي، چې په دې کې د ښځو حقونه هم شامل دي او د دې ضرورت یادونه کوي چې له اسلام سره مخالف دودونه باید له منځه یوړل شي. اساسي قانون اسلام ته یو بنیادي او مرکزي موقف ورکوي؛ ډیرې ناوړه دودونه چې په دې راپور کې راغلي دي له شرعي قانون سره سمون نه لري.

**اساسي قانون**

**اوومه ماده**
دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي.

**دریيمه ماده**
په افغانستان کې هیڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

**دوه ویشتمه ماده**
د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.

**څلورپنځوسمه ماده**
کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده. دولت د کورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تامین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

**یو سلو دیرشمه ماده**
محکمې تر غور لاندې قضایاوو کې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو حکمونه تطبیقوي. که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوی چې عدالت په ډیره ښه توګه تامین کړي.

[6] د جمهوري ریاست له فرمان څخه وروسته، رسمي جریده (۹۸۹ شمیره) د قانون د خپریدو نېټه د اګست ۱، ۲۰۰۹.

**شرعي قانون**

او هر څوک چې عمل وکړی له (ځینو) نیکو (کارونو) له نارینه وو او له ښځو حال دا چې دی مؤمن وی نو دغه (نیکوکاران) داخل به شی په جنت کی او ظلم به ونه شی په دوی (په اندازه) د نقیر (هم یعنی پر دوی په هیڅ شی کی هیڅ ظلم نه کیږی)."
(قران کریم، سورة النساء، ۱۲۴ ایت)

"ای خلکو بیشکه مونږ یی تاسی (ټول اصلاً) له یوه سړی چی (آدم) او له یوی ښځی چی (حوا) ده او ګرځولی یی مونږ تاسی څانګی او قبیلی قبیلی دپاره د دی چی وپیژنی یو له بل سره بیشکه چی ډیر مکرم او معزز له تاسی څخه په نزد د الله ډیر متقی ادب لرونکی ستاسی دی. بیشکه چی الله تعالی ښه عالم ډیر خبردار دی."
(قران کریم، سورة الحجرات، ۱۳ ایت)

## ۲. ۲ د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون

په ټول افغانستان کې د ناوړه دودونو او له ښځو سره د همیشني تاوتریخوالي په اړه د اندیښنو په ځواب کې، حکومت د ۲۰۰۹ په اګست کې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون نافذ کړ، چې د ناوړه دودونو په محوه کولو کې یو مهم قانوني ګام دی. د ښځو چارو وزارت او د مدني ټولنې ګروپونو د دې قانون د پرمختګ پروسه رهبري کوله. د نورو هدفونو په څنګ کې ددغه قانون هدف دا دی، چې "د اسلام له دین سره په مغایرت کې د رواجونو، دودونو او کړنو په مقابل کې مبارزه وکړي" او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مخه ونیسي او هغه تعقیب کړي.[7]

د دې قانون ۵ ماده ۲۲ عملونه په ډاګه کوي چې ارتکاب یې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مانا لري: جنسي تیری، جبري فحشا، د یوه قرباني شخص هویت په داسې ډول څرګندول چې هغه ته زیان ورسوي، د یوې ښځې دې ته اړ ایستل چې خپل ځان وسوځوي، د ژوبلیدو یا معیوبتیا باعث ګرځیدل، وهل، د ازدواج په مقصد او یا ددې بهانې تر لاندې د ښځو اخیستل او پلورل، بد (د یوې کشالې د هوارولو په موخه ښځې د جبران لپاره ورکول)، جبري ودول، د میره له انتخابولو څخه منع کول، له قانوني عمر څخه د مخه ودول، بده استفاده، تحقیرول یا بیرول، ځورول یا تعقیبول، په جبري ډول ګوښې کول، په جبري ډول په نشه یې توکو روږدې کول، له کار او روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې کول، جبري کار او د مدني قانون د ۸۶ مادې څخه په انکار کولو سره له یوې څخه زیاتو ښځو سره ازدواج کول.

قانون حکومت مجبوروي چې د قربانیانو د ساتنې لپاره محافظوي او کومکي تدبیرونه ونیسي او د ښځو په وړاندې د ناوړه دودونو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د نورو شکلونو په باب تعلیم ورکړی او د پوهاوي کچه لوړه کړي. د څارنوالی دفترونه باید د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی قضیې په لومړیتوب کې ونیسي او عاجل اقدام وکړي.[8] قانون د حکومت د اوو وزارتونو لپاره مشخصې دندې سپاري او د ښځو په وړاندې د خشونت د مخنیوي لپاره یو ملي کمیسیون ټاکي، چې د حکومت وزارتونه او څانګې به په کې غړیتوب ولري.[9] دغه راز د ولایت په کچه هم کمیسیونونه جوړ شوي دي (یا د جوړیدو په درشل کې دي).

د ښځو د حقونو فعالان نیوکه کوي چې دغه قانون د "ناموس" په نامه جرمونه د جرم په توګه نه ګڼي او په ښکاره د جرمونو تعریف نه وړاندې کوي. د مثال په ډول دغه قانون جنسي تیری یا هغه جبري عنصر تعریف کړی نه دی چې جنسي تیری له زنا (له واده څخه بهر جنسي عمل، چې د اسلامي قانون له مخی جرم ګڼل کیږي)

---

[7] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون، ۲ ماده.
[8] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون، ۷ (۴) ماده.
[9] د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون، دویم فصل، "محافظوي او مرستندویه تدابیر"

څخه تفریق شی. دغه راز قانون له قرباني یا د هغې له خپلوانو څخه غواړي چې شکایت وکړي، مخکې له دې چې دولتي مقامات اقدام وکړي. د دې مانا دا ده چې که چیرې قرباني خپل شکایت بیرته واخلي یا د کورنۍ فشار له امله یا د غچ اخیستنې له ویرې شکایت و نه کړي، له دولت څخه نه غوښتل کیږي چې د ښځو په وړاندې د خشونت د جرم په باب پلټنې وکړي یا هغه تعقیب کړي. دغه نیوکې په ځای دي.

په داسې حال کې چې د دې قانون بیا کتنه ښایي ضروري وي څو د ښځو حقونه په بشپړ ډول خوندي وي، د یوناما د بشري حقونو څانګه او د ښځو ګروپونه په دې باور دي چې که اوسنی قانون په اغیزناک ډول تطبیق شي، کیدای شي چې د ښځو حقونه په اغیزناک او سملاسي ډول وساتل شي او پرمختګ وکړي او په هغو زیانمنو کړنو کې کمښت راشي چې میلیونونو افغان ښځو او نجونو ته زیان رسوي. د ښځو د حقونو افغان مدافعینو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته ویلي دي، چې دا مهمه ده چې له قانون څخه خلک خبر کړي، او هغه عملونه هغوي ته وښیي چې قانون یې جرم ګڼي او د قانون سملاسي تطبیق کول تضمین کړي، په خاص ډول د هغو مادو تطبیق چې ناوړه دودونه محو کوي او مجرمین عدالت ته راکاږي.

## ۲. ۳ نړیوال قانوني معیارونه

افغان حکومت د بین المللي بشري حقونو د تړونونو له مخې مکلفیت لري چې د قانون په وړاندې د ښځو د برابرې حق او د قانون په ذریعه د برابرې ساتنې حق تضمین کړي.[10] د بین المللي قانون له مخې حکومت ژمن دی چې زیار وباسي او د ښځو په وړاندې د خشونت مخنیوی وکړي که دا خشونت د دولتي چاراواکو، انفرادي اشخاصو یا سازمانونو له خوا وي.[11] ټول اړونده نړیوال قوانین د دې راپور په پای کې په تفصیل سره ذکر شوي دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه یادونه کوي، چې د هغو حقونو چې په نړیوالو بشري حقونو په تړونونو کې تسجیل شوي او افغانستان د هغو غړیتوب لري، په اساسي قانون کې د هغو د قانوني ضمانتونو او د اوسنیو افغاني قوانینو په منځ کې چې ځینې مادې یې چې له ښځو سره تبعیض ښکاره کوي، یو ښکاره توپیر شته. د مثال په ډول د شیعه مذهب د شخصیه احوالو قانون چې په ۲۰۰۹ کې نافذ شو، څو داسې مادې احتوا کوي چې د نړیوالو بشري حقونو د تړونونو په وړاندې د افغانستان ژمنتیا، د اساسي قانون او ملي قوانینو، له دې جملې څخه د ښځو پر علیه د خشونت د منع کولو د قانون سره مغایرت لري.[12]

د دې لپاره چې غوره قانوني تحفظ میسر شي، حکومت باید ګامونه اوچت کړي، چې د ټولو قوانینو په منځ کې یو رنګي او توافق پیدا شي او د تبعیض مخنیوی تضمین کړي. په ملي کچه په قوانینو باندې بیا کتنه، چې د عدلیې وزارت له خوا پیل شوې ده او د ښځو په وړاندې د خشونت د مخنیوی عالي کمیسیون، د ښځو سازمانونه او

[10] افغانستان دا لاندې تړونونه تصویب کړي دي: د سیاسي او مدني حقونو نړیوال تړون، د اقتصادي، اجتماعي، او کلتوري حقونو نړیوال تړون، د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو تړون، د ښځو پر علیه  د تبعیض د ټولو شکلونو د محوه کولو تړون، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او توهینونکي چلند یا جزا د محوه کولو تړون، او د ماشوم د حقونو تړون.

[11] وګورئ: د خشونت د محوه کولو د کمیټې عمومي سپارښتنه، شمیره ۹، ۱۹۹۲، دغه راز د عمومي اسامبلې پریکړه لیک د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په باب وګورئ؛ ۱۹۹۳، A/RES/48/104،۴ (ج) ماده، چې وایي دولت باید "پوره زیار وباسي څو د ملي قوانینو سره سم د ښځو په وړاندې خشونت منع کړي، د هغې په باب پلټنې وکړي او مجرمان مجازات کړي، که څه هم  دغه خشونت د دولتي چاروا‌کو او یا نورو اشخاصو له خوا مرتکب شوی وي."

[12] د شیعه مذهب شخصیه احوالو قانون چې د جمهوري ریاست په فرمان په رسمی جریده کې د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۲۷ خپور شو، د دې قانون څو مادې بنسټیز بشري حقونه نقض کوي. له ملي او بین المللي غبرګونونو وروسته ولسمشر کرزي د دې قانون بیا کتنه وغوښته څو د اساسی قانون او د افغانستان د نړیوالو قانوني ژمنو سره د هغه یو والی تضمین شي. سره د دې هم دغه قانون اوس هم ځینې داسې مادې لري چې بشري حقونه نقض کوي او ناوړه دودونو ته دایمي بڼه ورکوي. په دې مادو کې یوازې د کورنۍ نارینه غړو ته د ماشومانو د ولیتوب امتیاز ورکوي، د ښځو ازادي محدودوي، "یوه ښځه کولای شي کور پریږدي که چیرې مشروع هدف موجود وي او محلي دود اجازه ورکړي، د ۱۶ کلنۍ څخه د کم عمر ماشومانو ازدواج ته اجازه ورکوي، د نجونو لپاره قانوني عمر ۱۶ کلنې او د هلکانو لپاره ۱۸ ټاکل شوي، سره ددې هم قانون له ماشوم سره ازدواج ته اجازه ورکوي که چیري د هغه ولي وښولای شي چې ماشوم "د ازدواج لیواله او قابلیت لري" او د بلوغ عمر ته رسیدلی دی؛ میره ته اجازه ورکوي چې د ښځې له ساتلو څخه انکار وکړي، که هغه ده ته له "ودګني حقونو" څخهډه وکړي.

مدني ټولنه په کې شریک دي، کولای شي د قانوني معیارونو په منځ کې او د قوانینو په تطبیق او عملي ډګر کې یو والی او یو مخې راولې. د ماهرانو د دې بیا کتنې وروسته حکومت کولای شي پارلمان ته د دې سپارښتنه وکړي، چې ټول هغه قوانین تعدیل یا لغو کړي چې نه شي کولای په ملي او بین المللي کچه د بشري حقونو ژمنې پوره کړي.

## ۳. په افغانستان کې ناوړه دودونه

"ده زر خریدم ده سنګ میکشم"[13] (په زرو (پیسو) مو اخیستې په ډبرو یې وژنو)

دود او دستور، تاریخ، کلتوري او مذهبي انګیرنې په ټوله نړۍ کې د ښځو حقونه تر اغیزې لاندې راولې.[14] د ښځو په وړاندې د ملګرو ملتونو د خشونت د محو کولو کمیټه ناوړه دودونه داسې بیانوي: "دودیزې انګیرنې دي چې ښځې د نارینه وو تابع ګڼي یا هغو ته کلیشه ای نقش ورکوي" او "په پراخه کچه تاوتریخوالي یا جبر" خپروي "لکه په کورنۍ کې تاوتریخوالی او بده استفاده، جبري ازدواج... دغه ډول تعصبات او کړنې کولای شي د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی ته برائت ورکړي چې د ښځو د ساتنې او یا پر هغو د ولکې د ساتلو د یوه شکل په څیر کارول کیږي. د دې ډول تاوتریخوالي اغیزې د ښځو پر فزیکي او ذهني سلامتیا دا دي چې هغوی نه پریږدي له بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو څخه په مساوي ډول استفاده وکړي، هغه پیاده کړي او په باره کې یې معلومات تر لاسه کړي."[15] د ښځو په وړاندې د خشونت د منع کولو قانون تر اوس مهاله د حکومت له ډیرو مهمو هڅو څخه یوه ده چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی تعریف کوی او هڅه کوي چې هغه کړنې له منځه یوسي چې ښځو ته زیان رسوي او هغوي تحقیروي.

د یوناما د بشري حقونو څیړنې او د قضیو څارنې او هغه مشورې چې په ټولنو کې یې سرته رسولې دي څرګندوي، چې دغه ډول کړنې خپریدونکې دي او په ټولنو کې او د ټولو اجتماعي طبقو په منځ کې په مختلفو درجو کې موجودې دي.

دغه عملونه په بنسټیز ډول په دې عقیده بنا دي او د افغان ټولنې ډیری خلک یې مني چې نجونې د هلکانو په پرتله کم ارزښته دي.[16] ډیری افغانان چې د یوناما بشري حقونو څانګې ورسره مرکې کړي دي وایی چې "هلکانو ته ترجیح ورکول" یو کلتوري دود دی چې د ښځو لپاره منفي اغیزې لري.[17] دغه ترجیح تر یوه حده په دې رواج باندې تکیه کوي چې نجلی ودیږي او د یوه بل چا "ملکیت" ګرځي او هلک یوه ښځه کورته راوړي چې د کورنۍ په خدمت کې وي او د هغې لپاره کار کوي.[18]

د یوناما د بشري حقونو څانګې دغه راز څرګنده کړې ده چې په دې راپور کې توضیح شوې ځینې کړنې، لکه د قرضونو د خلاصولو په مقصد د نجونو خرڅول، یا د کونډو د میراث د حقونو څخه انکار کول د ځینو افغانانو په

---

[13] په دایکندي ولایت کې یو مثل دی چې د مدني ټولنې د استازو له خوا په نیلی کې په یوه جلسه کې وویل شو، دایکندي ولایت، مارچ ۲۰۱۰.

[14] د امور راپور، د مذهب او کلتور په رڼا کې د مذهب او عقیدې د ازادي او د ښځو د موقف په باب څیړنه، ۱۹ مخ.

[15] وګورئ: عمومي سپارښتنه، شمیره ۱۹، ۱۹۹۲.

[16] د اجتماعي فشار په با ب نوی نظریات چې د نارینه ماشوم زیږون ته هرکلی ولري او په دې باب چې په افغان ټولنه کې هلکان څنګه تقدیریږي، وګورئ: جینی نوردبرګ، په افغانستان کې هلکانو ته ارزښت ډیر ورکول کیږي او نجونی ته کم. نیویارک ټایمز، ډسمبر ۲۰، ۲۰۱۰. ازادی او فرصتونه چې نجونې یې د هلکانو په شان ادعا کوي د زیات اهمیت وړ دي.

[17] دغه خبره د یوه مذهبي عالم له خوا چې د یوناما د بشري حقونو څانګې د سرباغ په ولسوالي په سمنګان ولایت کې مرکه ورسره وکړه، رد شوه. هغه وویل چې پیغمبر (ص) هیڅ زامن نه درلودل مګر د هغه د نوم او د کورنۍ نسب د هغه د لور، فاطمې په ذریعه ادامه پیدا کړه، اپریل، ۲۰۱۰.

[18] له ښځینه ښوونکې سره مرکه، د فیض اباد ولسوالی، جوزجان ولایت، اپریل ۲۰۱۰.

نظر داسي عملونه نه دي چې د دوي په کلتور کې ادامه ولري، بلکه دغه کړني د دوديزي متقابلې همکارۍ او اعتماد له منځه تلل ګڼي او د لسيزو جګړو په نتيجه کې د عدم قانونيت او سختو ورځو څرګندويي کوي.[19]

## ۳. ۱ جبري ودونه

"جبري ازدواج زموږ په کلتور کې يو ناوړه دود نه دی. زه د خپلې لور په ګټو پوهيږم. څرنګه چې دا له کوره نه وځي هغه نړۍ نه پيژني او دا ددې لپاره ممکنه يا د منلو وړ نه ده چې د خپل ځان لپاره ميړه انتخاب کړي. هغه دا حق نه لري چې د خپل ځان لپاره ميړه غوره کړي او زه ښه پوهيږم چې د هغې لپاره يې انتخاب کړم."
(د فارياب د ولايتي شورا له غړي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰)

"که يوه ښځه دې ته مجبوره شي، چې خپل ټول ژوند له داسې يوه چا سره تير کړي چې په خوب کې يې هم نه وي ليدلی، دغه کار به د هغې اروا وځوروي، او په کورنۍ او ټولنه کې به د ټولو نورو کسانو په مقابل کې د هغې په چلند او انګيزو اغيزه وکړي. دا له هر چا او هر شي څخه نفرت کوي او يوازې د غچ اخيستنې په فکر کې لويږي. په ځينو قضيو کې ښځو ځان وژلو ته پنا وړې ده چې له هميشني غم او غوسې څخه د خلاصون يوازينی لار ورته ښکاري، يا ښايي هڅه وکړي چې له کور څخه وتښتي. کله چې مور شي، د دې توان نه لري، چې خپل اولاد وروزي، ځکه چې زړه يې سترې وي، په عمومي ډول هغه يوه ښه ښځه او مور نه شي کيدای."
(له يوه نارينه څارنوال سره مرکه، د سمنګان ولايت، اپريل ۲۰۱۰).

جبري ودونه يا ازدواج هغه ازدواج دی چې يوه خوا يا دواړه خواوې په ازاد او بشپړ ډول موافقه ونه لري. په افغانستان کې جبري ازدواج په داسې حالاتو کې کيږي لکه بد (د اختلافونو د رفع کولو په مقصد د نجونو تبادله کول)، بدل (په بدل کې ورکول)، د ماشومانو ودول (په خپل ذات کې جبري کار دی) او د کونډو ښځو مجبورول چې د مړه شوی ميړه له يوه خپل سره وادوه وکړي. د يونيفيم د ۲۰۰۸ کال د راپور له مخې په افغانستان کې له ۷۰ تر ۸۰ ٪ ازدواجونه اجباري شکل لري.[20] د يوناما د بشري حقونو څانګې د پراخو مشورو او د قضيو د تحليل له لارې موندلې ده چې د ازدواج په ډيرو قضيو کې په ازادانه ډول او د معلوماتو په رڼا کې رضايت نه دی ښودل شوي.

اجباري ازدواج د ازاد او بشپړ رضايت له حق سره ټکر کوي، لکه څنګه چې په بين المللي قانون کې راغلي دي، دغه راز د شرعي قانون له مخې د ازدواج لپاره د دواړو خواوو رضايت شرط دی. د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون د رضايت نه پرته ازدواج يو جرم ګڼي.

د يوناما د بشري حقونو څانګه په دې نظر ده، چې د "جبري" "مصلحتی" او "ازاد" ازدواج په منځ کې د ډيرې دقيقې ليکې راکښل ښايي د هغو لاملونو يوه ډير ساده توضيح په لاس راکړي چې په افغانستان کې د ازدواج په تعينولو کې کارکوي.[21] مصلحتی ازدواجونه ډير ځله اجباري ازدواج نه وي. حتی که په ازدواج کې يو جبري عنصر هم شامل وي، خو که چيرې ازدواج په خوشحالي بدل شي، ډيری خلک هغه ته اجباري ازدواج نه وايي.

جبري ازدواج دغه راز سړی او هلکان هم زيانمنوي، ځکه چې په ازدواج کولو کې د هغوی ازادي سلب کيږي. خو هلکان د نجونو په پرتله کم زيان ويني، ځکه ميندې او پلرونه هلکان نه "پلوري" او يو هلک ډير امکان لري

---

[19] د ينيز کانديوتی، د جنسيت د فعاليتونو لمسوني او خطرونه په افغانستان کې، د انتونی هايمن د ياد ليکچرونه. اس او ای اس، د لندن پوهنتون، ۲۰۰۹.

[20] يونيفيم افغانستان، "په افغانستان کې د ښځو حالت" د يونيفيم افغانستان فکټ شيټ، ۲۰۰۸.
[http://afghanistan.unifem.org/media/pubs/08/factsheet.html]

[21] د ژورې شننې لپاره وګورئ: ديبورا جی سميت، پريکړې، غوښتنې او تنوع: د ازدواج دودونه په افغانستان کې، ای آر ای يو، خپرونه، فبروري، ۲۰۰۹.

چي د خپل پلار له انتخاب سره د ازدواج لپاره مخالفت وکړي. که يو سړی په واده کي خوشحاله نه وي، هغه کولای شي بله ښځه وکړي. دغه راز سړي په شريک ژوند کي ډير له خشونت سره نه مخامخ کيږي.

**قانون**

## د افغانستان داخلي قانون

**د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون**

**ځلوريشتمه ماده**
هغه شخص چي ښځه د واده په منظور يا بهانه وپلوري يا يی وپيری يا په هغو کی وساطت وکړي، له احوالو سره سم په اوږده حبس چی له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکوميږي..

**شپږويشتمه ماده: اجباري نکاح**
که چيری يو شخص هغه ښځه چي د واده قانوني سن يي بشپړ کړی، د هغي له رضايت څخه پرته کوژده يا يی واده کړي، له احوالو سره سم په متوسط حبس چي له دوو کلونو څخه لږ نه وي محکوم او کوژده او نکاح د قانون د حکمونو مطابق فسخ کيږي.

**اوويشتمه ماده: د ازدواج له حق سره مخالفت**
که چيری شخص د ښځي د واده خنډ وګرځي يا د ميره (زوج) د غوره کولو حق له هغي څخه سلب کړي، له احوالو سره سم په قصير حبس محکوميږي.

**د جزا قانون**

**پنځسوه اولسمه ماده**
که څوک کونډه ښځه يا نجلی چي د اتلس کلنی عمر يي پوره کړی وي د هغي د رضا او رغبت په خلاف ميره ته ورکړي د حالاتو سره سم په لنډ حبس محکوميږي.

## شرعي قانون

په اسلام کي ازدواج د تعريف له مخي په خپله خوښه د دوو کسانو يو ځای کيدل دي. د دواړو خواوو رضايت (ايجاب او قبول) د هر ازدواج لپاره لازمی شرط دی. ازدواج د نجلی او هلک په دوه اړخيزې موافقې ولاړ دی، نجلی کيدای شي باکره نجلی وي، طلاق شوي يا کونډه ښځه وي. له دي نه علاوه دواړه، ښځه او نارينه د دي ازادي لري چي بيلا بيل شرطونه وضع کړی او هغه د دي موافقي يو جز وګرځوي. د قران کريم مبارک ايتونه (د مثال په ډول د النساء سوره ۱۸ ايت) په ښکاره بيانوي، چي ښځه باکره وي يا نه وي، د هغي اجازه ضروري ده.

د شرعي قانون له مخي د ښځي پلار حق لري چي د هغي انتخاب منظور کړي. دغه کار ددې لپاره دی چي د هغي ګټي او هوساينه خونديې وساتل شي، خو دغه حق د ښځي د هغه حق ځای نه نيسي چي خپل رضايت څرګند کړي، که چيرې يوه طلاق شوي يا کونډه ښځه ازدواج کوي، په دې صورت کي پلار دغه حق نه لري.

يو معروف حديث په ټولو قضيو کي د رضايت ضرورت ته اشاره کوي. د حديث سره سم، يوې ښځي خنساء بنت خدام ويلی دی، چي "زما پلار زه خپل وراره ته واده کړم، خو زه له دې ازدواج سره راضی نه وم، نو ځکه مي

د الله پیغمبر ته شکایت وکړ." هغه مبارک ماته وویل: "هغه څه ومنه چې ستا پلار ستا لپاره ترتیب کړي دي." ما وویل: "زه نه غواړم هغه څه ومنم چې پلار مې ترتیب کړي دي." ده مبارک وویل "نو بیا دغه ازدواج جواز نه لري، ځه او له هغه چا سره واده وکړه، چې ته یې غواړې." ما وویل "ما هغه څه منلي دي چې زما پلار سنجولي دي، مګر زه غواړم چې ښځې په دې وپوهیږي چې پلرونه د لوڼو په کارونو کې حق نه لري."
(فتح الباري، صحیح البخاری ۱۹۴/۹ ابن ماجه کتاب النکاح ۱/۶۰۲).

د پورتنیو سرچینو له مخې، اسلام هغې ښځې ته د واده د انحلال اجازه ورکوي چې په جبري ډول تړل شوې وي، ځکه چې ازدواج مشروعیت نه لري.

د اسلامي شریعت له مخې په اسلام کې د ازدواج لپاره سربیره پر دی چې طرفین باید محارم نه وی، درې ستنې یا شرطونه شته:

۱- هغه خوا چې د ازدواج لپاره وړاندیز کوي، ښځه یا د هغې وکیل دی. قبول تر هغو پورې نه شي کیدای چې وړاندیز نه وي شوي. ددې مانا دا ده چې ښځه دا امتیاز لري چې د ازدواج وړاندیز وکړي. نه دا چې تر فشار لاندې وي او د ازدواج لپاره وړاندیز ومني. د ولي له خوا یا هغه شخص چې د هغه استازیتوب کوي یو وړاندیز (ایجاب) کیږي او نارینه ته وایې چې "زه ............ تاسو ته په ازدواج کې درکوم" یا دې ته ورته جملې. د نارینه له خوا بیاد د قبولی اظهار وشي او وایي "زه یې قبلوم" یا دې ته ورته عبارت. د دې مانا دا ده، چې د عقد دواړه اړخونه په ذهني لحاظ په ښه حالت کې وي چې ازدواج ومني.

۲- ازدواج باید په رسمی ډول اعلان شي او د دې ازدواج لپاره باید لږ تر لږه دوه کسه شاهدان موجود وي.

۳- مهر یو شرط دی او د نارینه له خوا ناوې ته ورکول کیږي.
(سنن ابو داود، ازدواج، کتاب النکاح، ۱۱ کتاب، نمبر ۲۰۹۱)

**مثالي قضیې**

د ۲۰۱۰ په اپریل کې د هرات ولایت د غوریان په ولسوالي کې د یوې ۱۵ کلنې نجلۍ پلار او ورور هغه له دې امله ووهله چې له جبري ازدواج څخه یې انکار وکړ. نجلۍ له کوره وتښتیده، په همدې ورځ نا معلومو کسانو نجلۍ په موټر کې ورسره واخیسته پر هغې یې جنسي تیری وکړ او له څو ساعتونو وروسته یې د سرک په سر پریښوده. یوه سپین ږیري د ولسوالی پولیس له پیښې خبر کړ، پولیسو نجلۍ د محافظت لپاره یوه خوندي کورته بوتله.[22]

د جنورۍ په ۲۰۰۹ کې، یوی شل کلنی ښځې، چې د تخار ولایت د درقاد په ولسوالی کې په څلور کلنی کې په بدو کې ورکړل شوې وه، د دې ولایت د ښځو چارو ریاست ته پناه یوړه چې له جبري ازدواج څخه ځان وژغوري. د ښځو د چارو ریاست دوه میاشتې د قومی مشرانو او سیاست والو تر فشار لاندې و او ښځه یې د درقاد محکمې ته واستوله چې د ازدواج په مشروعیت یې فیصله وشي. د محکمې د جلسې د شروع کیدو په درشل کې وه، چې نږدې ۳۰۰ کسانو چې د جبري ازدواج غوښتونکي وو، د محکمې په ودانۍ برید وکړ، نجلۍ یې وتښتوله او په زوره یې د خسر کور ته یوړه. د یوناما د بشري حقونو څانګې ډیرې هڅې وکړې چې له هغې ښځې سره تماس ونیسي خو بریالي نه شول او د ښځې ځای ځایګی لا درکه پاتې شو.[23]

د اکتوبر په ۲۰۰۹ کې د لوګر په ولایت کې یوه ۱۶ کلنه نجلۍ ۶۵ کلن سړی ته په جبري ډول نامزد شوه. د نجلۍ په وینا، سړی ټینګار کاوه چې هغه د خپل پلار په کور کې له واده څخه مخکې ووینې، هغې ادعا کوله چې سړی د هغه پلار ته ډیرې پیسې ورکړې وې او دا اجازه یې اخیستې وه چې کور ته ورشي او هغه ووینې. په دې

[22] قضیه چې د یوناما بشري حقونو څانګې ته یې راپور راغلی دی، اپریل ۲۰۱۰.
[23] قضیه چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا یې پلټنه شوې ده، جنوري ۲۰۰۹.

وخت کې نجلۍ یوه محلي راډیو سټېشن ته ټیلفون وکړ او مساله یې له نارینه کوربه سره مطرح کړه. دا او نارینه کوربه له یوه بل سره اشنایان شول او ټیلفوني مکالمو ادامه پیدا کړه. وروسته دوي دواړه له لوګر څخه وتښتیدل او لغمان ته په لار کې پولیسو دوي په ننګرهار ولایت کې د زنا په تور ونیول. سړی په ۱۳ کاله بند محکوم شو او په نجلۍ ۵ کاله بند وخوت. د راپورونو له مخې، په نجلۍ په توقیف خانه کې جنسي تیری شوی دی. د یوناما د بشري حقونو څانګې اطلاع تر لاسه کړې ده چې ۶۵ کلن سړی په "جبران" کې د بلې نجلۍ غوښتنه کړې ده او د نجلۍ پلار خپله کشره لور ۱۴ یا ۱۵ کلنه نجلۍ سړی ته په ازدواج کې ورکړې ده.[24]

**د ټولنې اند او فکر**

څرنګه چې رضایت د ازاد ازدواج لپاره ضروري شرط دی، د یوناما د بشري حقونو څانګې په ټولنې کې په دې باب یوه څېړنه پیل کړه چې ازدواج څنګه تړل کیږی او "رضایت" څه ته ویل کیږي. دا ډول څېړنې د تبلیغ او ترویج یا advocay او پالیسۍ په برخو کې له موږ سره مرسته کولای شي، چې د جبري ازدواج ټول شکلونه محوه شي.

که څه هم په مخصوصو ګروپونو کې شاملو افغانانو د فردي رضایت په ضرورت باندې چې د ازدواج لپاره ضروري دی ټینګار نه دی کړي، خو دوي په ټینګه سره د جبري ازدواج ځانګړي ډولونه وغندل چې په ترڅ کې یې کورنۍ د خپلو زامنو او لونو لوړې ګټې په نظر کې نه نیسي. په دغو ډولونو کې په ماشومتوب کې ودونه، د بدو د رفع کولو لپاره د نجونو ورکول (په بدو کې) د یوې نجلۍ ودول هغه چا ته چې یوه یا زیاتې ښځې لري (بن) او هغه حالات شامل دي چې پلرونه د اقتصادي ستونزو د حل لپاره نجونې ودوي.

په افغانستان کې د نجونو ودول او نامزاد کول په دودیز ډول د یوې کورنۍ او یوې ډلې د اندیښنې خبره وي او په انفرادي حقونو پورې نه ده تړلې. هیڅ یوه افغان چې په ۲۹ ولایتونو کې د مخصوصو ګروپونو په مباحثو کې شامل وو نه دي ویلي چې لونې او زامن د خپل ژوند ملګري پخپله غوره کړي. خو ډیرو دا خبره کړې ده چې میندې او پلرونه باید پخپلو اولادونو زور وا نه چوي چې واده وکړي که چیرې د دوي خپله خوښه نه وي.[25]

"ټولنه نه خوښوي چې یوه نجلۍ د مور او پلار له پریکړې سره مخالفت وکړي."
(د لیسې ښځینه زده کوونکې، بامیان، اپریل ۲۰۱۰)

"جبري ازدواج د ...... په سیمه کې یوه قاعده ده. هیڅوک نه شي کولای چې د خپل مور او پلار د خوښې په خلاف واده وکړي"
(د ښوونځي ښځینه ښوونکې، د سروبی ولسوالی، کابل ولایت، مارچ ۲۰۱۰)

"زموږ په کلتور کې د مور او پلار لپاره د شرم خبره ده چې له نجلۍ سره د میړه په انتخاب کې مشوره وکړي."
(اجتماعي چارو کارکوونکی، بلخ ولایت، اپریل ۲۰۱۰)

"که نجلۍ د پلار له انتخاب سره مخالفه وه، د هغې نیکبختي په کورنۍ پورې تړلې ده. که پلار یې مهربانه سړی وي، هغې ته غوږ نیسي او که نه نو نجلۍ اړ ده چې واده شي."
(د شورا ښځینه غړي، کابل ولایت، اپریل ۲۰۱۰)

[24] قضیې چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا یې پلټنې شوې دي، اکتوبر، ۲۰۰۹.

[25] د یوناما د بشري حقونو د څانګې پلټنې څرګندوي چې میندې او پلرونه د لوڼو نیوکو ته دومره پاملرنه نه کوي لکه څومره چې د زامنو خبرې اوري. یو هلک کولای شي (د سلیقې له مخې) د خپلو والدینو په انتخاب نیوکه وکړي او ښایي په خبره یې غور وشي. خو د نجلۍ خاموشانه رضایت د "وقار نښه" بلل کیږي او د یوې نجلۍ غبرګون چې د خپل پلار د انتخاب په وړاندې اعتراض کوي، بې احترامي شمیرل کیږي او خبره یې نه اوریدل کیږي.

د هغو بحثونو او مرکو په وخت کې، چې د یوناما د مخصوصو ګروپونو له خوا ترسره شول، د "رضایت" په باب د یوه تعریف پیدا کول ګران کار و. نارینه وو په عموم ډول داسې فکر کاوه چې که نجلۍ د خپل پلار له انتخاب سره ډیره مخالفه نه وي، ازدواج په دې صورت کې "جبري" نه بلل کیږي. د اسلامي علومو یو شمیر نارینه وو په دې موافقه درلوده چې رضایت په ازدواج کې یو شرط دی، مګر په دې اندازه پراخوالی نه لري لکه څنګه چې د نړیوالو قوانینو معیارونه یې ویني (د بین المللي معیارونو لپاره لومړی شمیره ضمیمه وګورئ). یوه بل سړی ویل چې د اسلامي قوانینو له مخې پلرونه[26] کولای شي په بشپړ ډول د زامنو او نجونو څخه استازیتوب وکړي او په دې کې د رضایت خبره هم شامله ده.

د افغانستان په مرکزي لوړو برخو کې مرکو څرګنده کړه[27] چې میندې او پلرونه ډیر ځله د نامزادي یا واده لپاره د خپلو لوڼو رضایت اخلي، خو یوازې په هغه وخت کې چې دوي د زوم له کورنۍ سره موافقه کړې وي. په دې صورت کې رضایت یوازې یو شکلي اعتبار لري، ځکه ښځه په ګرانه سره کولای شي د مور او پلار له پریکړې سره مخالفه وي. که مخالفه هم وي، مور او پلار یې هغه هڅوي یا یې اړباسي، چې له ازدواج سره "رضایت" وښیې. ځینې افغانانو چې مشوره ورسره شوې ووېل، چې د شکلي "رضایت" اخیستل هم ښه کار دی، که څه هم پریکړه لا پخوا شوې وي.[28]

د نیمروز په ولایت کې مباحثو څرګنده کړه، چې ډیری خلک فکر کوي چې سړی حق لري خپلې لوڼې هغه چا ته ور واده کړي چې د دوي خوښه وي؛ دوي له خپلو لوڼو سره هیڅ سلا مشوره نه کوي. سره له دې هم ګډون کوونکو دا ومنله چې د جبري ازدواج له امله کیدای شي یوه نجلۍ په ټول ژوند کې له خپګان سره مخامخ شي. په مرکزي سیمو[29] کې هغو ښځو چې مرکې ورسره وشوې وویل چې په جنګ ځپلو سیمو کې لکه لوګر او وردګ ولایتونو کې د هغو سیمو په پرتله چې د حکومت تر ولکې لاندې دي، د جبري ودونو شمیر زیات دی.

په اروزګان کې نارینه قاضیانو، څارنوالانو، پولیسو او قومي مشرانو جبري ودول په دې ولایت کې تر ټولو زیات ناوړه دود وشمیره. دغه ګروپ یاده کړه، چې په مرکز یعنی ترینکوټ کې له څو ځایونو پرته نږدې ټول ودونه د ښځې له رضایت پرته ترسره کیږي، یوه مشر وویل، چې که څه هم دې جبري ازدواج د قران کریم له مخې یو نا روا عمل ګڼي، مګر ده خپله کشره لور د هغې له رضایت پرته واده کړه.[30]

> "په اسلام کې د ازدواج یو شرط ایجاب او قبول دی (قبلونه، تصدیق او رضایت). که ایجاب او قبول نه وي ازدواج نامشروع دی. په کلیوالي سیمو کې ډیر ودونه مشروعیت نه لري، ځکه چې له واده سره د ښځو رضایت نه وي اخیستل شوي؛ له دوي څخه هیڅکله د دوي رضایت نه دي غوښتل شوي."
>
> (د ولایت محکمې مرستیال، شمالي سیمې اپریل ۲۰۱۰)

## ۳. ۲ بد یا د کشالو په هوارولو کې د نجونو ورکول

> "بد په هغه وخت کې منځ ته راځي چې ادعا موجوده وي چې زنا ترسره شوي خو ادعا کوونکي و نه توانیږي چې د هغې ثبوت وړاندې کړي. دې مجبور دی چې د بلې کورنۍ د حیثیت د اعادې په موخه دوه نجونې ورکړي."

[26] پلرونه او نیکونه په معمول ډول پریکړې کوي، که څه هم دوي ښایي په پخوا کې د خپلو ماشومانو د ازدواج په باب ښې پریکړې نه وي کړي. ای آر ای یو راپور، ۱۸ مخ. په کابل کې څیړنو ښوولې چې د منځنۍ طبقې کونډې ښځې د خپلو لوڼو د ازدواج پریکړې کوي.
[27] د بامیانو او دایکندي ولایتونه په کې شامل دي.
[28] د بامیانو په مرکز او دایکندي د نیلي په ولسوالی کې د مخصوصو ګروپونو مباحثې او د بامیانو ولایت د کهمرد په ولسوالي او دایکندي ولایت په شهرستان ولسوالی کې مباحثې، مارچ/اپریل ۲۰۱۰.
[29] د کابل، کاپیسا، لوګر، پنجشیر، پروان او وردګو د ولایتونو په ګډون.
[30] په اروزګان کې له سړو سره د مباحثې په وخت کې وویل شو، مارچ ۲۰۱۰.

(په تګاب کې د شورا غړي، د کاپیسا ولایت، اپریل ۲۰۱۰)

"د دې په ځای چې وژونکی جزا وویني، یوه معصومه نجلۍ جزا ویني او هغه اړ ده چې خپل ټول ژوند په مرئیتوب کې تیر کړي او له تاوتریخوالی سره مخ وي."
(د ښوونکو په ګډون د ښځو له یوې ډلې سره مرکه، د خلم ولسوالی، بلخ ولایت، اپریل ۲۰۱۰)

"په بدو کې ورکول عام شکل لري، خصوصاً د شپې په وادی کې (د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه) چې له وژنو، تیښتې او جنسي تیریو له قضیو څخه را ولاړې شوې ستونزې هوارې کړي."
(له یوه محلي ملک سره مرکه، کاپیسا ولایت، مارچ ۲۰۱۰)

په بدو کې ورکول یا د کشالو د هوارولو په مقصد د نجونو ورکول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی یو له ډیرو شدیدو شکلونو څخه په افغانستان کې شمیرل کیږي؛ په بدو کې ورکول ټولنو یا کورنیو ته د دې فرصت ورکوي چې جنایتونه لکه قتل هوار کړي، په تیوري کې د دښمنو ډلو ترمنځ سوله او نظم په دې ډول بیا منځ ته راولي چې د جرم په مقابل کې جزا ښځې یا نجلۍ ته انتقال شي. د غمجنې کورنی "حیثیت یا وقار" په دې ډول "اعاده" کیږي چې ښځه د هغه جرم سزا ویني چې دې نه وي کړي.

په بدو کې ورکول د جدي جرمونو په اړه مخالفتونه هواروي لکه قتل، دغه راز "اخلاقي" جرمونه او کړنې لکه زنا، جنسي تیری او په داسې پیښو کې لکه تښتیدنه (د مثال په ډول، له جبري ازدواج څخه فرار کول). د دې روش ګټه د مخالفتونو په هوارولو کې ډیره شکمنه ده؛ د کورنیو او ډلو ترمنځ جګړې او دښمنې بیا هم جاري وي.[31]

د یوناما د بشري حقونو څانګې موندلې ده، چې د مخالفتونو د رفع کولو په مقصد په بدو کې د ښځو ورکول په ټول هیواد کې دود دی. سره له دې چې دغه عمل ډیر عمومیت پیدا کړی دی، ډیری افغانان له هغه سره سخت مخالف دي. د شخړو د هوراولو د یوې غیر رسمي طریقې په حیث، د یوناما د بشري حقونو د څانګې له نظره، د دې عمل په کارول په مرکزي برخو په هغو ځایونو کې رامنځ ته کیږي چې جګړې موجودې وي او حکومتي ځواک کمزوري وي او مشروعیت نه لري (د مثال په ډول داسې سیمې چې له جګړو څخه ډیرې متاثرې وي لکه د تګاب او اله سای ولسوالي، د کاپیسا ولایت، اوزبین، د سروبی ولسوالی، کابل ولایت) او نورې کلیوالي سیمې چې د قانون حاکمیت په کې کمزوري وي.[32]

د شرعي قانون له مخې په بدو کې د نجونو ورکول د رضایت د اصل د ماتولو مانا لری، ځکه چې رضایت په اسلام کې د ازدواج لپاره ضروري شرط دی چې ازدواج ته مشروعیت ورکوي. په بدو کې ورکول ښځې د یوه جنس په څیر کاروي چې جواز نه لري. دغه راز د افغانستان د قانون له مخې هم دغه عمل ناجایز ګڼل کیږي – د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون او د جزا د قانون له مخې – او د بین المللي بشري حقونو تړونونه چې افغانستان لاسلیک کړی دی هم د دې اجازه نه ورکوي. په بدو کې ورکول د ښځو بنسټیز بشري حقونه ماتوي او د بین المللي قانون له مخې دغه عمل له استثمار او مریتوب سره برابر دی.

[31] د یوناما د بشري حقونو څانګې راپورونه تر لاسه کړي دی. یو شمیر مباحثې او مرکې دی چې په ټول هیواد کې ترسره شوي دي.
[32] د مارچ او اپریل ۲۰۱۰ کې له ښځو او سړو سره مرکې شوې دي چې په کابل، کاپیسا، لوګر، پنجشیر، پروان او وردګ ولایتونو د مختلفو قومي ډلو، ولسوالیو او ټولنوڅخه استازیتوب کوي.

## د افغانستان داخلي قانون

**د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون**

**۳ (۴) ماده**
په بدو کي ورکول: د قتل، جنسی تیری یا له ناوړه دود، دستور او عادتونو څخه په پیروی په نورو احوالو کی د دیت یا سولی په بدل کی میره ته د ښځي ورکول دي.

**پنځه ویشتمه ماده**
(۱) هغه شخص چی په بدو کی د ورکولو په نوم ښځه په نکاح کړي یا يې ورکړي، په اوږده حبس چی له لسو کلونو څخه زیات نه وی، محکومیږي.
د دي مادې په (۱) فقره کی په درج شوی حالت کی ذیدخل اشخاص (شاهد، وکیل، مصلح او عاقد) هر یو له احوالو سره سم په متوسط حبس محکوم او د نکاح عقد، په بدو کی د ورکړل شوې ښځي د غوښتني په صورت کي، د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږي.

**د جزا قانون**

**پنځسوه اولسمه ماده**

(۱) که څوک کونډه ښځه یا نجلی چي د اتلس کلنی عمر يې پوره کړي وي د هغي د رضا او رغبت په خلاف میره ته ورکړي د حالاتو سره سم په لنډ حبس محکومیږي.

(۲) که د پورتنی فقري درج شوي جرم د بدو ورکولو په شکل وي ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چي د دوه کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

## شرعي قانون

د کورنیو یا قبیلو ترمنځ د شخړو د حل په مقصد د نجونو ورکول او د نجونو تبادله په اسلام کي په قطعي ډول د لاندنیو اصولو له مخي منع ده:

- یو انسان د وقار درلودونکی دی او له دي امله په هیڅ صورت د ملکیت نسبت ورته نه شي کیدای. دغه اصل باید په ټول انساني سلوک او مراوده کي مراعات شي. د یوې شخړې د حل کولو په مقصد له ښځي سره ازدواج کول د هغي وقار ته سپکاوی دی چي اسلامی اصولو هغې ته ورکړې دي.
- د شخړو د حل کولو په موخه د یوي نجلی ورکول د رضایت اصل تر پښو لاندي کوي، ځکه چي ښځه د ازدواج لپاره مجبوره کیږي. د رضایت څخه پرته واده د باطل کولو لپاره د رضایت اصل کافی دی - که چیرې نجلی له یوه چا سره ازدواج کوي ددي لپاره چي شخړه هواره شي، په دې صورت کي اسلامی شرط په تخنیکي لحاظ پوره شوی دی، خو په داسي حالت کي رضایت باید په هیڅ شکل جبري نه وي بلکه په خپله خوښه شوی وي. د شریعت اصل چي "په جبري توګه ښځه په میراث کي اخیستل" غیر قانوني او غیر مجاز ګڼي همدارنګه دا مانا لري چي په بدو کي د ورکولو دود د اسلام د اصولو سره مغایرت لري. د اسلام د ظهور څخه تر مخه ښځي د شتمنی او ملکیت په څیر شمیرل کیدلي او په دې توګه عملاً په "میراث وړل کیدلي". قران کریم دغه ناوړه دود له منځه یوړ(وګورئ: صحیح المسلم، د نکاح کتاب (کتاب النکاح، ۹

ځپرکی). دا اصل په دی معنی دی چی ښځی د شخړو د حل په موخه نه شی ورکول کیدای. سر بیره پر دی، د یو شخص جزایی مسؤولیت بل شخص ته نه انتقالیږی. د بدو د رواج له مخی د مجرم پر ځای سزا یوی نجلی ته ورکول کیږی. خدای تعالی (ج) په قران کریم کی فرمایی: "او کسب نه کوی (د بدی) هیڅ یو نفس مگر (ضرر یی دی) پر (ذمه د) ده، او نه باروی هیڅ نفس گنهگار گناه د بل نفس (بلکه هر څوک خپل بار وړی)، بیا خاص طرف د رب ستاسی ته بیرته ورتلل ستاسی دی (په قیامت کی) نو خبر به کړی تاسی په هغه شی چی وی تاسی چی په هغه کی به مو اختلاف کاوه (په دنیا کی په دینی امورو کی)."
(سورة الانعام، آیت ١٦٤)

د شریعت د قانون سره سم داپه مور او پلار واجبه ده چي د خپلو اولادونو د منفعت سره سم عمل وکړي. د مادي او نورو ګټو لپاره نامزادول او په نکاح ورکول په دې توګه د شریعت د قانون سره په مغایرت کې دي. ددې سربیره هوکړه او یا موافقت چې د شرعي قانون له مخې یو نه باطل کیدونکی اصل دی د نکاح د هر تړون لپاره یو لازمي شرط دی.

د قران کریم دا لاندني ایتونه په دې تاکید کوی چې مور او پلار باید د خپلې کورنی د ګټو سره سم عمل وکړي، چې په دې کې د کورنی هر غړي شامل دی. دا شرط اختیاري نه بلکی لازمي دي.

"ای هغو کسانو چي ایمان یی راوړي دی (یعنی ای مؤمنانو) وساتی تاسی ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه چي خس اور لګونی بالنړ د هغه سړی او تیږی (ګټی) دی ..."
(قران کریم، سورة التحریم، ٦ ایت)

ځيني اسلامي مفکرين او علماء چې ورسره د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مشوره شوې ده دغه ايتونه داسې تفسيروي چې که چيرې يوه نجلی د هر ډول شخصي منفعت او ګټې پر بنسټ د هغې د ارادې پر خلاف واده شوې وي دا د شريعت د اصولو سره تضاد لري او دا کولای شي داسې چاپيريال رامنځ ته کړي چې د هغې نجلی معنوي ژوند زيانمن کړي.

**مثالي قضيې**

د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې د پنجشیر ولایت د پریان په ولسوالی کې یوې کورنی د جبران او تاوان په بدل کې، چې د یوې بلې نجلی د تیښتې له امله چې د جبري واده څخه په تیښته کې وه، یوه نجلی تر لاسه کړه. دغه بله نجلی د خپل مین سره تښتیدلې وه. د راپور له مخې محلي شورا په دغه قضیه کې مداخله وکړه او پریکړه یې وکړه چې د هلک کورنی چې د چا سره دغه نجلی تښتیدلې ده باید ۵۰۰۰۰۰ افغانی د هغه سړی کورنی ته ورکړي چې ورسره په لومړی سر کې نامزده شوې وه. وروسته شورا پریکړه وکړه چې د پیسو سربیره د هلک پلار باید خپله یوه لور د "جبران" په توګه دغې کورنی ته ورکړي- دا ومنل شوه او ددغه سړي ۱۹ کلنه لور د یو ۱۳ کلن هلک سره واده کړای شوه. د نجلی د تښتونکی هلک پلار دا شکایت درلود چې دې ته اړ دی څو خپل ټول څاروي وپلوري او د خپلې ځمکې یوه برخه په اجاره ورکړي څو دغه غوښتل شوې پیسې تادیه کړي. هغه د یوناما د بشري حقونو څانګې ته همدارنګه وویل چې نوموړی د کلیوالو سره په وسله والو نښتو کې ښکیل دی او له همدې کبله غواړي چې د خپلې کورنی سره کابل ته کډه شي څو په امن کې وي.[33]

په اروزګان کې د یوې پیښې په اړه نړیوالو رسنیو کې ډیر څه خپاره شول کله چې د ټایم د مجلې په لومړی مخ کې د قرباني شوې نجلی انځور راغي.[34] کله چې عایشه ۱۲ کلنه وه، د هغې پلار د راپورونو له مخې نوموړې او د هغې کشره خور د وینې د پور د شخړې د حل لپاره په بدو کې ورکړې؛ د نوموړې پر کاکا دا تور وو چې

---

[33] دغه قضیه د یوناما د بشري حقونو څانګې ته راپور شوې ده، د نجلی او پلار سره یې مرکې شوئ دي، د ۲۰۱۰ کال د اپریل میاشت.
[34] ارین بکر وګورئ: افغان میرمنې او د طالبانو راستنیدنه. د ټایمز مجله، ۲۰۱۰ د اګست ۹ او د روډ نارډلاند د مجلې پر لومړی مخ د افغان نجلی د ځیرې ویجاړول منا ظره را پاروي ، نیویارک ټایمز، ۲۰۱۰ د اګست ۴.

هغه د هغه سړي یو خپلوان وژلی دی چې عایشه ورته د واده کولو لپاره استول شوې ده. د میړه په کور کې د عایشې خسرخیلو دغه نجونې د څارویو په اخور ځای کې ځای پر ځای کړې، د هغوي سره یې د مرئیو په څېر چلند کولو، تل به یې وهلې څو د هغوي د تره د جرم بدله واخلي. عایشه وتښتیدله خو میړه یې ونیوله او ور څخه یې دواړه غوږونه او پوزه د مجازاتو په توګه پرېکړل، د نوموړې څخه وینې روانې وې او بې سده شوله (یو سړی چې د خپلې میرمنې له خوا د شرم سره مخ شوی وي لکه چې خپله پوزه یې چې له لاسه ورکړې وي، نو ځکه دا داسې ښکارې چې عایشه د دې په بدله کې مجازات شوه).

عایشې وکړای شو چې ددغه ګوزار څخه ژوندۍ راووځي، د افغان میرمنو سازمانونو د نوموړې سره مرسته وکړه او په پای کې نوموړې د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړ څو هلته یې د پوزې او غوږونو د پلاستیکي جراحی چاره ترسره شي. د نوموړې لس کلنه خور په اروزګان کې پاتې ده او د خسرخیلو د خشونت لاندې ژوند کوي.

### د ټولنې اند او فکر

"نجلۍ ته هیڅکله هم د نوې کورنۍ له خوا نه درناوی نه کیږي ځکه چې هغوي یې د هغه نارینه د خپلوانو سره تړي چې جرم یې کړی دی او نوموړې د یوې مجرمې په توګه محکوموي. د نجلۍ سره د یو نوکر په توګه او د پور او انتقام د اخیستنې د یوې وسیلې په حیث چلند کیږي. ځینې وختونه هغه دې ته اړ ایستله شي چې د څارویو په غوجل کې بیده شي."
(د پښتنو ښځو د یوې ډلې سره د فاریاب د ولایت د قیصار په ولسوالۍ کې مرکه، ۲۰۱۰ اپریل)

په مرکزي سیمو کې د پښتنو، تاجکو (پنجشیر) پشه یانو (د کاپیسا د اله سای ولسوالی) او سیدانو (د پروان ولایت) د ټولنو ترمنځ د بدو په اړه راپورونه شته. د یوناما د بشري حقونو که څه هم د مرکو او د فوکس ګروپونو سره د مباحثو د لارې دا موندنې تر لاسه کړې دي چې د شخړو او لانجو د حل لپاره د نجونو په بدو کې د ورکولو د دود په اړه قوي مخالفت وجود لري. د ډیرو نارینه وو او ښځو سره چې مرکې شوې دي دا یې ویلي دي چې دمیړه کورنۍ هغه نجلۍ او ښځه چې ورته ورکړل شوې ده ورسره د خپلې "شتمنۍ" په توګه چلند کوي. هغوي همدارنګه وویل چې په بدو کې د ورکړل شوو نجونو سره د غلامانو په حیث سلوک کیږي- هغوي د ناوړه چلند، فزیکي تاوتریخوالی او سپکاوي سره مخ وي څو د هغه جرم چې د کورنۍ د یو نارینه غړي له خوا ترسره شوي دی غچ او پور واخیستل شي. د بیلګې په ډول په سهیل کې،[35] د نارینه وو او ښځو د فوکس ګروپونو غړو وویل چې په بدو کې ورکړل شوې نجلۍ د ځانګړو ګواښونو سره مخ وي، ځکه چې د هغې خپل ورور او یا هم بل خپلوان د هغې کورنۍ چې نوموړې ورکړل شوې ده د کورنۍ د یو غړي د وژلو مسؤولیت لري. واده پرته له کومو غټو مراسمو ترسره کیږي او دا داغ چې هغه په بدو کې ورکړل شوې ده د هغې پر تندې د تل لپاره پاتې وي. د دې سربیره چې په تیوریک لحاظ په بدو کې د یوې نجلۍ ورکول باید د قتل شخړه پای ته ورسوي، په عمل کې، د نجلۍ میړه او خسرخیل خپله غصه او خپګان پر نوموړې نجلۍ راوړي. سپکاوی او وهل رټل عام وي، او په ځینو حالاتو کې د میړه کورنۍ د نجلۍ ټولې اړیکې د هغې د مور او پلار او خپلوانو سره ردوي.[36]

د یوناما د بشري حقونو د فوکس ګرپ یو غړی د اروزګان په ولایت کې پخپله ټولنه کې د بدو داسې توضیح ورکړه چې په لاندې توګه واقع کیږي:
"نجونې ځینې وختونه د تلافی لپاره د قتل په قضیو کې تبادله کیږي څو د کورنیو ترمنځ دښمني پای ته ورسوي او یا یې مخنیوی وکړي. په عامه توګه د قاتل د کور څخه یو پلاوی د قرباني کورنۍ ته ورځي. دغه ډول پلاوی ته مرکه وایي. هغوي د ځان سره نقدې پیسې، ټوپکې او میږې راولي. که چیرې د قرباني کورنۍ د پلاوی غوښتنه د پخلاینې لپاره ومني نو میږه حلالیږي څو ددغه حالت جشن او خوښي ونیوله شي. ټوپکې منل کیږي خو په عمومي صورت پیسې په دې وجه رد کیږي چې د انسان د ژوند لپاره څه بیه نه شي ټاکل کیدلای. که چیرې داسې واقع کیږي نو پلاوي به دا وړاندیز کوي چې یوه یا زیاتې نجونې د قاتل د کورنۍ څخه د قرباني د

[35] د اروزګان او نیمروز په ولایتونو کې څیړنې او مباحثې، ۲۰۱۰ اپریل/مۍ
[36] د متمرکز ګروپ د مباحثو پر بنسټ چې د ۲۰۱۰ په مارچ کې د ارزوګان په ولایت کې شوې دي.

کورنۍ غړو ته په نکاح کړي. دا بد دي."

(د نارینه وو د فوکس ګروپ بحث چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا ترسره شو، ۲۰۱۰ اپریل)

ځینو هغو کسانو چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا ورسره د هیواد له بیلا بیلو برخو څخه مرکې شوې دي په دودیز ډول د دغه شان خونړیو شخړو د حل ګټې د کورنیو لپاره بیان کړي.[37] هغوي د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې د بدو یوه موخه دا هم ده چې د هغو کورنیو او قبیلو ترمنځ اړیکې راژوندۍ کړي چې سره په شخړه کې دي دا کار هغوي د ګډو ګټو او "مخلوط شوې وینې" د لارې ترسره کوي. د ډیرى هغو کسانو سره چې مرکې شوې دي دا یې منلې ده چې یوه نجلۍ چې په نکاح کې ورکړل شوې وي هغې ته د خپلې کورنۍ د نارینه د هغه جرم سزا ورکول کیږي چې دغه نارینه په اصل کې سرته رسولی وي. هغه کورنۍ چې ورته نجلۍ ورکړل شوې ده نوموړې تر خشونت او تیرى لاندې ددې لپاره راولي چې پور واخلي. هغوي؛ نارینه او هلک چې ورته دغه نجلۍ ورکړل شوې ده زیاتره وخت ځانته په اصطلاح بله "مناسبه" میرمن پیدا کوي.
په شمالي سیمو کې،[38] د بحثونو پر مهال پښتنو میرمنو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې بد هغه وخت کارول کیږي چې نوى میره ته دا څرګنده شي او هغه په دې وپوهیږي چې د نوموړې ښځه پیغلتوب او بکارت نه لري. هغه دغه ناوې د خپل پلار کورته استوي او په بدله کې یې باکره خور د تلافى او جبران په توګه اخلي.[39] د محلي ټولني مشران، د کلي مشران، محلي قوماندانان او د دواړو کورنیو نارینه په هر هغه منځګړیتوب کې برخه اخلي چې موخه یې د خفه شوو کورنیو ترمنځ د اړیکو بیرته جوړول وي.[40]

په داسې حال کې چې په شمال کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا کومې مرکې وشوې هغو کې وویل شول چې د شمال په صفحاتو کې په ټولو پنځوو ولایتونو کې **بد** شتون لري او هغوي همدارنګه دا بیان کړه چې د **بدو** د غیر قانونیت په اړه پوهاوي شتون لري، ځینو یې دا هم وویل چې **بد** د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالى د له منځه وړلو د قانون له مخې هم یو غیر قانوني عمل دى. د یوې محلي شورا غړو دا هم وویل چې د هغوى ټولنې نور **بد** د یوې دودیزې کړنې په توګه نه مني.[41] د یوې محلي رادیو ښځینه مشرې په دې توګه وویل چې په لیرو پرتو کلیوالو سیمو کې دغه دود او دستور لا هم دوام لري.[42]

لکه چې د ولایتى شورا یو غړي وویل:

"واقعیت دا دى چې دغه دودونه د وخت په تیریدو سره بدلیږي او یا هم کمښت په کې راځي. د بیلګې په ډول بد اوس په ټولنو کې دومره عام نه دي. خلک حتى اوس په کلیوالو سیمو کې غواړي د بدو په وړاندې مقاومت وکړي ځکه چې هغوي په دې پوهیدلى دى چې بد ناوړه پایلې لري او اوس غواړي د خپلو کورنیو غړو درناوي وکړي."[43]

---

[37] "په ځینو حالاتو کې د بدو د لارې واده ښه وي ځکه چې دې سره د نورو وژنو مخنیوى کیږي؛ د پښتنو میرمنو د هغه ګروپ سره مرکه چې د بلخ ولایت د چمتال په ولسوالى کې د ۲۰۱۰ په اپریل کې شوې وه."

[38] په شمالي صفحاتو کې پنځه ولایتونه بلخ، سمنګان، سرپل، جوزجان، فاریاب چې په ټولیز ۵۴ ولسوالى لري چیرته چې د بیلا بیلو قومونو لکه ازبک، تاجک، ترکمن، هزاره، عرب، پښتانه او تاتاران اوسیږي.

[39] د پښتنو میرمنو د یوې ډلې سره مرکه چې د ۲۰۱۰ په اپریل کې د بلخ ولایت د چمتال په ولسوالى کې شوې ده.

[40] د افغانستان د بشري حقونو د سازمان د مدافع وکیل سره د بلخ په ولایت کې مرکه، ۲۰۱۰ اپریل.

[41] د محلي شورا د غړو سره مرکه چې د سمنګانو د ولایت د تاجک قوم څخه چې د خوران او سرباغ په ولسوالى کې د ۲۰۱۰ په اپریل کې شوې ده.

[42] د بلخ ولایت د محلى رادیو د ښځینه مشرې مرکه، اپریل، ۲۰۱۰.

[43] د سرپل ولایت د ولایتي شورا د پنځو غړو سره مرکه (نارینه او ښځینه)، اپریل ۲۰۱۰.

## ۳. ۳ بدل- د نکاح لپاره تبادله

دریو ترکمنو میرمنو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې هغوي په ډېر تنکي عمر کې د دوي د کورنیو له خوا د نکاح لپاره تبادله شوي دي. هغوي وویل چې دوي دا څکه منلي ده چې دغه ډول تبادله او مصلحتونه د دوي د کورنیو په ګټه دي. هغوي دا هم وویل چې دوي د فزیکي او ذهني تاوتریخوالی سره د خپلو اړوندو خسرخیلو له خوا څکه مخ شوي دي چې په جهیز کې په کافي مقدار تحفې ورسره نه دي راوړي، یا دا چې اولاد یې نه کیږي او یا دا چې د کورونو چارې یې په سمه توګه نه دي سمبال کړي. لکه چې یوې میرمنې په ډاګه کړه چې "پرته د تېښتې ما بله چاره نه درلودله دا چې دغه خشونت وزغمم."[44]

د **بدل** یا تبادلې ودونه د دوو کورنیو ترمنځ ګډ تفاهم او ترتیبات دي څو خپلې لوڼې سره یو بل ته ورکړي. کورنۍ د پیسو په اړه نه غږیږي او دا چې لګښت او د پوروړي کیدو د خطر په برخه کې هم څه سره نه وایي. هغو کسانو چې ورسره د یوناما د بشري حقونود څانګې له خوا مرکه وشوه د بدل وادونه په ټول افغانستان کې یاد کړل، خو دا یې هم وویل، چې **د بدل** دود د جوزجان ولایت د ازبکو په قوم کې په ټولیز ډول نشته.

ددغه دود له مخې ښځې ددې حق څخه محرومیږي چې په ازادانه توګه د موافقت له مخې د نړیوال، ملي او شرعي قوانینو له مخې واده وکړي. دغه دود همدارنګه د شرعي قانون د دې غوښتنو سره هم په تناقض کې دی چې خپله لور د بلې په بدل کې ورکړي څو په دې ډول د مهر (د جهیز د پیسو ورکولو) څخه ازادوي.

یوه بله پراخه پایله د دغه ډول ودونو دا ده چې خسرخیل ناوې ګانې په متقابل ډول هغه وخت تر مجازاتو لاندې نیسي کله چې ورته د دوي د لوڼو سره د ناوړه سلوک او مجازاتو خبر ورسیږي. د بیلګې په ډول که چیرې یوه میرمن چې د نکاح لپاره په بدل کې ورکړل شوې ده کله چې د خسرخیلو له خوا رټله او وهل کیدله نو په بدل کې یې د پور او غچ په توګه د مقابل لورې له خوا هغه بله میرمن تر وهلو لاندې راتلله. که چیرې د بدل له مخې د جوړ شوو جوړو څخه یوه یې سره جلا کیږي نو بله جوړه یې هم دغه کار کوي. ددغه دود له مخې همدارنګه د یوې میرمنې دا حق تر پښو لاندې کیږي چې په ازادانه ډول په خپلې رضا او خوښۍ سره واده وکړي او د دې سره د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی پراخیږي.

**قانون**

**د افغانستان داخلي قانون**

**د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون**

**شپږ ویشتمه ماده**
که چیرې یو شخص، هغه ښځه چې د واده قانون سن یې بشپړ کړی، د هغې له رضایت پرته کوژده یا یې واده کړی، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لیږ نه وی محکوم او کوژده او نکاح د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږی.

**د جزا قانون**

**پنځه سوه اولسمه ماده**

(۱) که څوک کونده ښځه یا نجلی چه د ۱۸ کلنی عمر یی پوره کړی او دهغی د رضا او رغبت په خلاف میره ته

[44] د جوزجان ولایت د خواجه دوکوه د ولسوالی د عرب کلا په کلی کې ډله ییزه مرکه، اپریل، ۲۰۱۰.

ورکړی د حالاتو سره سم په لنډ حبس محکومیږی.

**شرعي قانون**

په اسلام کې یوازې یو ډول نکاح چې په کې د دواړو خواوو رضایت او خوښه شامله وي د منلو وړ ده (پورته "جبري نکاح" وګورئ).

د شغار نکاح، د ښځو د خوښې او لازم مهر (هغه جهیز چې ښځې ته ورکول کیږي) پرته د هغوي تبادله کول منع دی. عبد الله بن عمر (د پیغمبر (ص) صحابي) ویلي دي چې د الله پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) شغار منع کړی چې مانا یې دا ده چې د یو سړي لپاره دا حرام دي چې خپله لور بل سړي ته په دې شرط نکاح کې ورکوي چې هغه به خپله لور ده ته په نکاح کې پرته له جهیز څخه ورکوي.
(صحیح المسلم، کتاب ۰۰۸، کتاب النکاح، ۷ څپرکی، ۳۲۹۵ ګڼه)

د بدل په نکاح ګانو کې د رضایت اصل او د مهر شرایط تر نظره غورځول کیږی.

**مثالي قضیې**

په یوه ستره قضیه کې چې د ۲۰۱۰ په مې کې وشوه په کې دوه نجونې چې عمرونه یې د ۱۳ او ۱۴ کلونه وو د غور په ولایت کې په جبري توګه د بدل نکاح ته اړې کړای شوې، هره نجلۍ د بلې کورنۍ زاړه نارینه ته په نکاح کړای شوه. د راپورونو له مخې دغه نجونې د خپلو میړونو له خوا وهل کیدلې ځکه چې هغوي د دې یو والی سره مخالفت څرګندولو. پولیسو دغه نجونې په زور سره په لیرې پرته سیمه کې د هغوي کلي ته ولیږدولې چې هلته محلي ملا او پخواني قوماندان په عام محضر کې په دورو ووهلې په دې ګناه چې د تیښتې جرات یې کړی دی. دغه قضیه هغه مهال را څرګنده شوه چې د نجونو د دورو وهلو ویډیو د ولسوالۍ څخه په پټه سره راوړل شوه. دغه دواړه نجونې ډیرې نیکمرغه وې چې په پای کې ورته طلاق ورکړای شو او خپلو کورونو ته واستول شوې.[45]

د بامیانو په ولایت کې د مدني ټولنې استازو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د یوې قضیې په اړه معلومات ورکړل چې په هغې کې دا جوته شوه چې دوه ۵۰ کلنو نارینه وو د پنجاب په ولسوالۍ کې خپلې د ۱۳ او ۱۴ کلونو لونې سره په بدل کې نکاح کړي دي. هر یوه د بل لور په نکاح کړې ده.[46]

**د ټولنې اند او فکر**

افغانانو په ګڼو سیمو کې اقتصادي اړتیا د **بدل** د نکاح لپاره اساسي لامل او علت ګڼلی دی.[47] **بدل** کورنیو ته د دې امکان ورکوي چې د ناوې لپاره د زیات لګښت څخه ځان وژغوري.[48] ځینو هغو افغانانو چې ورسره مرکې شوې

---

[45] وګورئ، رودنورلاند، ماشومې ناوې د نکاح څخه تښتیدلې خو د دورو څخه نه، نیویارک ټایمز.
[46] لکه چې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د مدنې ټولنې د استازو له خوا په بحث کې راپور ورکړل شو، ۲۰۱۰ مئ.
[47] د فاریاب په ولایتي شورا کې د ښځینه غړي سره مرکه، ۲۰۱۰ اپریل. بې وزلي او اقتصادي اړتیا د بدل لپاره یو تصادفي فکتور دی چې د هیواد په مرکزي سیمه کې د بحث پرمهال پرې څرګندونې وشوې، مارچ ۲۰۱۰، او په هغو مرکو کې چې د بامیانو په ولایت کې د مدنې ټولنې د غړو سره شوې دي. او د اروزګان په ولایت کې د نارینه وو سره (مارچ ۲۰۱۰)؛ هغوي دا څرګنده کړه چې د بد ل نکاح کورنیو ته دا امکان ورکوي چې د پور اخیستو څخه فارغ وي او دا چې ځینې وختونه پیسې هغه وخت ورکولې شي چې د بدل مقایسه "نابرابره" وګڼل شي.
[48] د مرکه کوونکو یوې ډلې څرګنده کړه چې د بلخ ولایت د خلم د ولسوالۍ ځینې پښتنې کورنۍ همدارنګه د بدل دود د دې لپاره ساتي چې په دې توګه متقابل پرستیژ او ټولنیز حیثیت وساتي، اپریل ۲۰۱۰.

دي وویل چې زیاتي کورنی بدل د نکاح او یا واده لپاره د زیاتو لګښتونو یوازینی لار بولي[49] چې په بدل کې ورکړل شوې لوڼې یې غوښتنه لري. د بحث پرمهال د اروزګان په ولایت کې د نارینه وو یوې ډلې دا وویل چې لازمی نه ده چې د واده مراسم سملاسي ترسره شی، څه چې تبادله کیږی هغه موافقه یا ژمنې دي.[50]

په مرکو او بحثونو کې چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ګڼ شمیر خلکو سره شوي دي د بیلګې په ډول د پښتنو میرمنو سره، هغوي **د بدل** د وادونو څخه دفاع کړې ده چې دا یې "د خلکو په ګټه بللي دي چې د وادونو لګښتونه راټیټ کړای شي."[51] نورو یې بیا دا ویلي دي چې ددې کار سره د واده ارزښت بې مانا کیږي او دا په یوې اقتصادي معاملې اوړي.[52]

## ۳. ۴ د ماشوم نکاح کول

"که چیرې تاسو یوه نجلی پخپله پګړی (خوله) باندې ووهئ او هغه ونه غورځې، نو دا د دې وخت دی چې هغه واده کړئ."[53]

د ماشومي نجلۍ په نکاح کول د تاوتریخوالي او خشونت تر ټولو زیات تیری دی چې په ډیره نا متناسبه منفي توګه پر کوچنی نجلی باندې اغیز لري. دا همدارنګه د جنسیتي تبعیض ډیر ستر لامل او ناوړه پایلې دي. دغه دود نجونو ته د هغوي د ماشومتوب د پامه غورځولو او هغوي په جبري توګه واده ته د اړ کولو د لارې زیان رسوي (د ماشوم په توګه هغوي په دې نه توانیږي چې په ازادنه توګه او د خپلو معلوماتو له مخې پخپله خوښه د خپل راتلونکي لپاره د ملګري انتخاب ولري). دغه دود همدارنګه د نجونو د تعلیم او روغتیا حقونه له پامه غورځوي، ځکه چې په کم عمر کې ودونه د وخت څخه وړاندې د زیږون لامل ګرځې چې د دې لپاره نجونې په ذهني او فزیکي لحاظ چمتو نه دي. د ډیرې پراخې بې وزلۍ له امله د ماشوم واده کول همدارنګه د نجونود "خرڅلاو" زمینه برابروي، په تیره بیا ډیرو زړو او عمر خوړلو نارینه وو ته چې کولای شي بې وزلو کورنیو ته د ډیرې ځواني نجلۍ د واده په بدله کې پیسې ورکړي. له هغه ځایه چې زاړه نارینه زیاتره وخت ځواني نجوني د اضافي میرمنو په توګه واده کوي نو د څو ښځو د درلودلو دود لکه چې یو ګڼ شمیر افغانانو د مرکې پر مهال د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل، د کوچنیانو ودونو ته لار پرانیزي.[54]

په کوچنیوالی کې ودونه په ټول افغانستان کې په ټولو سیمو او د ټولو قومونو ترمنځ عام دي. د یونیفیم او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د اسنادو له مخې ۵۷ سلنه افغاني ودونه د کوچنیوالی د عمر ودونه

---

[49] دا کیدلای شي چې ۱۲۰۰۰۰۰(نږدې ۲۸۰۰۰ ډالرو) ته ورسیږي.

[50] د نارینه وو د نظر لاندې ډلې هغه مباحثه چې د ارزوګان په ولایت کې د ۲۰۱۰ په مارچ کې وشوه.

[51] د ښځو یوې ډلې چې د بلخ ولایت د چمتال په ولسوالۍ کې او زیاتره یې پښتنې وې، همدارنګه دا څرګنده کړه چې د بدل واده "یو ښه دود دی ځکه دا د دې امکان برابر وي چې خپلې لوڼې او زامن پرته د زیاتو لګښتونو څخه واده کړو." اپریل ۲۰۱۰.

[52] د ازبکي علماوو او ښوونکو د هغې ډلې سره په مرکه کې چې د فاریاب د ولایت د خان چهارباغ په ولسوالۍ کې وشوه، هغوي څرګنده کړه چې "د قالینو شمیره د نجلۍ په مهارت پورې اړه لري. که چیرې یوه نجلۍ ښکلې وي او یا کولای شي عاید لاس ته راوړي (د قالین اوبدونکې، خیاطې او د دستکارۍ د ماهرې په توګه) نو د دې سره د هغې قالینې هم زیاتې وي." د واده په صورت کې پر مادي معاملاتو باندې د تاکید پر مهال یوې مرکه کوونکې وویل "د ترکمنانو ترمنځ د یوې کونډې میرمنې بیه د یوې نا واده شوې نجلۍ څخه زیاته ده. دا ځکه چې کونډه میرمن د قالین اوبدلو په کار کې د نا واده شوې نجلۍ څخه زیاته تجربه لري. په دې بنسټ د یوی کونډې ناوی بیه په شما ل کې نږدې ۴۷۰۰۰۰ افغانۍ (نږدې ۱۰۰۰۰ ډالره ) ده."

[53] د بلخ د ولایت د چمتال په ولسوالۍ کې د ښځو د یوې ډلې ویناوې، اپریل ۲۰۱۰.

[54] د نارینه او ښځیه یو شمیر ګډون کوونکو سره چې په ځینو ولایتونو کې ورسره د هیواد په کچه مرکې شوې دي څرګنده کړه چې د زیاتو ښځو د درلودلو دود په افغانستان کې د کوچني عمر د واده لامل فکتورونو څخه دي. د دیني عالم سره چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکه شوې ده څرګنده کړه چې نارینه اکثره وخت دوهمه میرمن هغه وخت واده کوي چې لومړنۍ یې نارینه اولاد نه راوړي او یا هم هیڅ اولاد نه لري، او همدارنګه د دې له امله چې د څلورو میرمنو درلودل روا دي، خو په دې شرط چې نارنیه خپلو ټولو میرمنو ته مساوات برابر او ورسره عادلانه چلند وکړي. د دینې عالمانو او د نارینه وو د فوکس ګروپونو سره په هغو مباحثو کې چې د بلخ او فاریاب په ولایتونو کې د ۲۰۱۰ په اپریل کې شوې دي. په قران کریم کې راغلي دي: "د ښځو سره واده وکړئ چې تاسو ته غوره ښکاري، دوه، درې او څلور، خو که تاسو د دې ډار لرئ چې عدالت نه شي کولاۍ، نو بیا یوازې یوه." د قران پاک ۴ سوره، آیت ۳) "تاسو به هیڅکله د دې توان ونه لرئ چې د خپلو میرمنو ترمنځ برابري وکړئ، که څه هم تاسو هر څومره وغواړئ دغه شان وکړئ." (د قران کریم ۴ سوره، ۱۲۹ ایت).

دي- چيرته چي د يوې خوا عمر د ۱۶ کلونو څخه کم وي.[55] د هغې مطالعي له مخې چي د ۲۰۰ په خواو شا کي د کوچني عمر د نجونو سره چي واده شوې وي ترسره شوه ۴۰ سلنه يې د ۱۰ او ۱۳ کلونو ترمنځ، ۳۲,۵ سلنه يې د ۱۴ کلونو او ۲۷,۵ سلنه يې د ۱۵ کلونو په عمرونو کې واده شوې وې.[56]

د دې سره چي په افغانستان کي د ماشومانو وادونه ډير دي د يوناما د بشري حقونو څانګي د فوکس ګروپونو سره د مباحثې پرمهال دا ومونډله چي نارينه وو او ښځو د ماشومانو وادونه د هيواد په کچه يو له ډيرو جدي زيان راوړونکو دودونو څخه تشخيص کړی دي.

تناقضات او قانوني تضادات لا زيات دي کله چي د افغانستان په قوانينو کي د ماشوم د واده مسلې ته راشو.[57] د جزا د قانون له مخې د بيلګې په توګه "زنا" (د واده څخه پرته جماع تعريف شوې ده) او يا هم "د يو چا پر ناموس باندی تجاوز" چي لا د ۱۸ کلنی عمر ته نه دی رسيدلی ناوړه تيری بلل کيږي. همدارنګه جنسي تيری چي اوس په واضحه توګه د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو د قانون له مخې يو جنايت دی،[58] که چيری قرباني يی د ۱۸ کلونو څخه لږ عمر ولري شديد جرم بلل کيږی. په عين شکل د يو ماشوم سره جنسي جماع هغه صورت کې چې د "واده، نکاح" تر پوښښ لاندې کيږی، روا بلل شوی.[59] سربيره پر دې د ۱۵ کلنی د عمر څخه د لاندې نجونو وادونه په عمومي توګه پرته د مجازاتو پاتې کيږي. د يوناما د بشري حقونو څانګه د دې وړانديز کوي چي دغه ډول ناخوالي او عدم تسلسل له منځه ولاړ شي او د ماشوم د حقونو تحفظ وشي، د افغانستان ټول قوانين بايد د "ماشوم" دا تعريف ولري چي هغوي هغه هلکان يا نجوني دي چي د ۱۸ کلنی څخه کښته عمرلري چي دا کار د افغانستان د هغو ژمنو سره په ليکه کي دی چي د نړيوالو بشري حقونو په لړ کې يې لري.

د مدني او سياسي حقونو دنړيوال ميثاق د غوښتنو په اړه په عمومي تبصره کي (چې په هغه کي افغانستان يو دولتي اړخ دی) راغلي دي:

"نارينه او ښځې د دې حق لري چي په ازادانه او پوره رضايت يو له بله سره واده وکړي، او دولتونه د دې مکلفيت لري چي په برابر ډول د دغه حق څخه د ګټې اخيستنې تحفظ وکړي. ډير داسې عوامل شته چي هغه کولای شي ښځې د دې څخه منع کړ ي څو هغه وکولای شي ددې پريکړه وکړي چي په ازادانه توګه ودونه وکړي. يو ددې فکټورونو څخه د واده لپاره د حد اقل عمر سره تړلی دی. دغه د عمر اندازه بايد د دولت له خوا د نارينه وو او ښځو لپاره د برابرې مشخصې او معيار له مخې وټاکله شي. دوهم عامل دا دی چي په ځينو دولتونو کي کيدلای شي چي يا خو د قانون او يا هم د دوديز قانون له مخې يو ساتونکی چي عموماً نارينه وي له

[55] يونيفيم افغانستان، "په افغانستان کې د ښځو حالت"، د افغانستان د يونيفيم فاکټ شيټ، ۲۰۰۸.
[http://afghanistan.unifem.org/media/pubs/08/factsheet.html], د ياکين ايرتوک په راپور کې چې د ښځو په وړاندې د خشونت په اړه ځانګړې راپورتر دی نقل قول شوی دی، د دې لاملونه او پايلې، د افغانستان ماموريت، فبروري ۲۰۰۶، .E/CN.4/2006/61/Add.5, p. 7

[56] وګورئ: په افغانستان کې د لږ عمر وادونه، د ښځو او ماشومانو د قانوني څيړنی بنياد، ۲۰۰۸.

[57] د ماشوم واده او قانون، د قانوني اصلاحاتو د نوښت د پاڼې سلسله، يونيسف، جنوري ۲۰۰۸.

[58] د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالی د منع د قانون ۱۷ ماده دا تصريح کوي چې: "که چيرې يو شخص پر يوې بالغې ښځې باندی جنسي تيری کوي نو هغه به د جزا د قانون د ۴۲۶ مادې د احکامو سره سم په عمر قيد کيږي، او که چيرې د دغه عمل په نتيجه کې قرباني وژل کيږي نو تجاوز کوونکي شخص ته د مرګ سزا ورکول کيږي." ۱۷ (۲) "که چيرې يو شخص پر يو لږ عمر ښځې باندی جنسي تيری کوي نو هغه ته به د عمر قيد سزا د جزا د قانون د (۴۲۶) مادې سره سم ورکول کيږي، او که چيرې د دغه عمل په نتيجه کې قرباني وژل کيږي، نو تجاوز کوونکي ته د مرګ سزا ورکول کيږي." د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون په دې کې پاتې راځي چې په څرګند ډول د "جنسي تيری" هغه عناصر بيا ن کړي چې په دغه جرم کې راځي. او ۱۷ (۵) " که چيرې قرباني د دغې مادې د څلورم پراګراف له مخې ۱۸ کلونو ته نه وي رسيدلی او يا هم متجاوز يا مجرم د قرباني د دريمي درجې نږدې خپلوان دي، ښوونکی، نوکر او يا ډاکټر دی او يا هم دا چې مجرم پر قرباني باندې اغيز او نفوذ لري نو پدې صورت کې مجرم به د اوږدې مودې لپاره زندانی کيږي چې د شرايطو په پام کې نيولو سره د لسو کلونو څخه زيات به نه وي."

[59] آيتيک د ماشوم واده او قانون، يونيسف.

واده سره د ښځې د ارادې پر خلاف موافقه وکړي، په دې توګه ښځې ددې څخه منع کوي چې ازادانه انتخاب ولري."[60]

د سيډا (CEDAW) کميټه د "ماشومي د واده" اصطلاح د هر هغه چا لپاره کاروي چې د ۱۸ کلنۍ څخه په کم عمر کې واده کوي، خو په افغانستان کې مدني قانون د نجونو لپاره ۱۶ کلونه او د هلکانو لپاره ۱۸ کلونه ټاکلي دي. افغان مدني قانون همدارنګه د نجلۍ پلار ته او يا هم يوې با صلاحيته محکمې ته د دې اجازه ورکوي چې د يوې ۱۵ کلنې نجلۍ د نکاح لپاره د "موافقت" اظهار وکړي خو د دې مانا دا ده چې ددې څخه په نازکو او خاصو حالاتو کې کار واخيستل شي.[61]

## مثالي قضيې

د ۲۰۱۰ په فبروري کې د بغلان په ولايت کې يوې محلي شورا پريکړه وکړه چې يوه ۱۳ کلنه نجلۍ بايد يو ۶۵ کلن شخص ته په نکاح شي چې هغه ۳۰۰۰ ډالر د دغې ماشومې لپاره وړانديز کړي و. دغه نجلۍ په درې کلنۍ کې يتيمه شوې وه او د ګاونډي تر سرپرستۍ لاندې وه. کله چې ددغې نجلۍ ورور هڅه وکړه چې خپله خور د نوموړي ګاونډي له کور څخه وباسي، ګاونډي يې مقاومت وکړ دا چې هغه ته بايد د پام وړ پيسې په نقده توګه ورکړای شي ځکه چې د ۱۰ کلونو په موده کې يې د دې پاملرنه کړې ده. دغه قضيه وروسته د يوې شورا له خوا "حل و فصل" شوه ، ګاونډي او د هغې ورور د نکاح پيسې سره وويشلې.[62]

د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې د پروان په ولايت کې د يوې ۱۳ کلنې نجلۍ مور او نا سکه پلار هغه يو ۳۲ کلن سړي ته په نکاح کړه چې د هغه لومړنۍ ښځه مړه شوې وه او ور څخه څلور ماشومان پاتې و. د نوموړې نجلۍ مور د خپلې لور د واده لپاره پيسې تر لاسه کړې. ددغې نجلۍ ميړه يو معتاد انسان وو او نوموړې يې وهله؛ نجلۍ د ښځو د چارو رياست ته شکايت وکړ. د دې اندېښنې له امله چې ميړه به يې د محلي قوماندان په زور دغه نجلۍ خپل کور ته بيرته بوځي، د يوناما د بشري حقونو څانګې د پوليسو د مشر او د ښځو د چارو د رياست د مشرې سره په ګډه د دغې نجلۍ مور ته قناعت ورکړ چې خپلې لور ته اجازه ورکړي څو هغه د ښځو د مراجعې مرکز ته ولاړه شي چې هلته نوموړې د څو اونيو لپاره پاتې شوه. د حالاتو په کره کتنې سره او د قضيې د ټولو اړخونو په پام کې نيولو سره محلي چارواکي دې موافقې ته ورسيدل چې نجلۍ د خپلې مور پر ځای د ميړه په کور کې وای ځکه چې ناسکه پلار هم تيری کوونکي وو او د نجلۍ مور د هغې څخه غوښتل چې خپل ميړه نه تفريق واخلي. مور يې د بل سړي سره ژمنه درلودله چې د مالي ګټې لپاره يې ورته په نکاح کړي. د هغه تضمين له مخې چې د کلي د مشرانو له خوا برابر شوی وو چې د نجلۍ ميړه به نور د هغې سره تاوتريخوالی نه کوي، محلي چارواکو نجلۍ بيرته خپل ميړه ته وسپارله. د ماشومانو د ساتنې د عمل ولايتي شبکه دې ته ادامه ورکوی چې قضيه تعقيب کړي چه نجلۍ په باوري توګه په امن او سوکالۍ کې ده.[63]

---

[60] وګورئ: د بشري حقونو کميټه، عمومي تبصره ۲۸، د نارينه وو او ښځو ترمنځ د حقونو برابري. (۳ ماده) د ملګرو ملتونو سند. CCPR/C/21/Rev.1/Add.10 ۲۰۰۰. د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق په ۳ ماده باندې تبصره، چې افغانستان د دغه ميثاق دولتي اړخ دي.

[61] د مدني قوانينو ۷۰ ماده وايي چې "واده (نکاح) تر هغې پورې کامله او مساوي نه ده څو پورې چې نارينه ۱۸ کلن او نجلۍ ۱۶ کلنه شوې نه وي. " (۱) ۷۱ ماده وړاندې وايي "کله چې نجلۍ هغه عمر چې د دې قانون د ۷۰ مادې له مخې نه وي بشپړ کړی نو د هغې نکاح بايد د هغې د پلار او يا هم د يوې با صلاحيته محکمې له خوا ترسره شي." (۲) "د يوې نا بالغه او کوچنۍ نجلۍ نکاح چې عمر يې د ۱۸ کلونو څخه کم وي هيڅکله مجاز نه ده."

[62] دغه قضيه د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ۲۰۱۰ په فبروري کې څېړل شوې ده.

[63] قضيه د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ۲۰۱۰ په جنورۍ کې څېړل شوې ده.

## قانون

### د افغانستان داخلي قانون

### د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون

**اته ویشتمه ماده**

که چیرې شخص هغه ښځې چې د واده قانونی سن یی نه وی بشپړ کړی او د مدنی قانون په (۷۱) ماده کی د درج شوی حکم له پام کی نیولو پرته یی د نکاح په عقد کی راولی، له احوالو سره سم په متوسط حبس چې له دوو کلونو څخه لږ نه وي، محکومیږي او نکاح د ښځې د غوښتنی په صورت کی د قانون د حکمونو مطابق فسخ کیږی.

**مدني قانون**

**اویایمه ماده**

نکاح تر هغې پورې بشپړه او سمه نه ده ترڅو پورې چې نارینه ۱۸ کلنی او ښځه د ۱۶ کلنۍ عمر ته نه وي رسیدلي.

**یو اویایمه ماده**

۱) تر هغې پورې چې نجلۍ هغه عمر نه وي بشپړ کړي چې د دې قانون په ۷۰ ماده کې یې یادونه شوې ده نو نکاح کیدلای شي چې یواز ې د نجلۍ د پلار او یا هم با صلاحیته محکمې له خوا وتړل شي.

۲) د یوې کوچنۍ نجلۍ نکاح چې عمر یې د ۱۵ کلونو څخه کم وي هیڅکله هم جایزه نه ده.

### شرعي قانون

لکه چې پورته د جبري نکاح به برخه کې یې یادونه شوې ده د اسلام د مبارک دین د احکامو له مخې د هر ډول نکاح لپاره د دواړو خواوو موافقه او خوښه یو لازمي شرط دی. نکاح د هغه ښځې او سړی ترمنځ یو قراردادي تړون دی چې شرایط یی پوره کړی وی، که څه هم ښځه باکره وي، طلاق شوې او یا هم کونډه وي.

که څه هم په قران کریم کې په ښکاره ډول د نکاح لپاره د لږ تر لږه عمر حد نه دی ټاکل شوی، ځینې اسلامي علماء په دې باور دي چې اسلام د هغه ماشوم لپاره د نکاح اجازه ورکوي چې بلاغت ته رسیدلي وي. ګڼ شمیر دینی ماهرینو سره چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مشورې شوي دي هغوي په دې باوري دي چې له هغه ځایه چې یو ما شوم پر خپل بلوغیت پوهاوي نه لر ي چې په ازادانه توګه په یو قراردادي تړون کې شامل شي چې د نکاح لپاره په اسلام کې ضروري ګڼل کیږي، د یوماشوم  نکاح کول مجا ز نه دي.

### د ټولنې آند او فکر

د فوکس ګروپونو په ټولو هغو بحثونو کې چې ددې راپور لپاره جوړ شوي و، افغانو نارینه وو او ښځو له خوا د ماشوم واده یوه ناوړه دود پیژندل شوې، په شمالي سیمه کې هغوي وویل چې د ماشومانو ودونه د کلیوالو سیمو د

بې وزلو ترمنځ د ښاري ښتمنو کورنيو[64] په پرتله ډېر زيات دي خو دغه د وخت څخه وړاندې ودونه- د هغو ماشومانو ودونه څوک چې بلوغيت ته رسيدلي دي (د ډېرو افغانانو له خوا د شريعت د قانون مطابق بلوغيت ټاکونکی او په دې توګه د نکاح لپاره قانوني عمر ګڼل کيږي) خو هغوي چې د افغانستان د قانون له مخې ماشومان ګڼل کيږي همدغه منل شوي نورم دی. د سمنګان په ولايت کې د ولايتی شورا يو غړي وويل چې ډېرې کورنۍ غواړي خپل نجونی ماشومان په ۱۴ کلنی کې واده کړي.[65]

په هغه ورکشاپ کې چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا جوړ شوی وو يو تن ولسوال وويل چې د ګوجرو قبيله په نورستان کې معمولاً کوچنۍ نجوني او کوچني هلکان سره نکاح کوي او حتی دا چې دوي يو ځای سره اوسيږي او هغه هم د ميړه او ښځې په توګه ترڅو بلوغيت ته رسيږي. هغه د يوناما د بشري حقونو څانګې ته وويل چې نوموړې غوښتل چې په ټولنه کې د دغه موجودو "منفي او غير اسلامي دودونو" د له منځه وړلو لپاره کار وکړي.[66]

يو تن د ولايتي شورا مشر چې خپله لور د څلورو کلونو په عمر کې نامزده کړه د دغه دود او دستور څخه يې دفاع وکړه: "زما پلار هم همدغه ډول کار کړی وو، همدا دود دی او دی کې څه غلطي نشته."[67] نورو چې په کې د ښځو د حقونو مدافعين هم شامل و، دغه دود عملي وبللو. يوې ښځينه کارمندې وويل چې نوموړې او نورو ډېرو کورنيو چې هغه يې پيژني خپلې لوڼې په کوچني عمر کې ورکړې دي څو چې هغوی ته د ممکنه اختطاف، جنسي تيري او د محلي قومانداناتو د ناقانونه وسله والو ډلو د غړو سره د جبري واده کولو څخه نجات ورکړي.[68]

هغو افغانانو چې ورسره د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې وشوې همدارنګه دا ډار يې څرګندولو چې هر څومره د زيات وخت لپاره يوه نجلی پرته له واده څخه پاتې کيږي، هغومره زيات د دې امکان وي چې هغه خپل بکارت له لاسه ورکړي.[69] او په دې توګه د نکاح لپاره هر ډول "ارزښت" د لاسه ورکوي.[70] نورو يې بيا دا څرګنده کړه چې يا خو دوي اړ دي چې خپلې لوڼه د وخت نه وړاندې واده کړي او يا هم دا چې په راتلونکې کې د هغو په کور کې د پاته کيدو له خطر سره مخ شي.[71] ځينو يې بيا وويل چې نارينه دې ته ترجيح ورکوي چې د ځوانو نجونو سره واده وکړي، دا د يو تن ميړه او خسرخيلو لپاره اسانه ده چې پر هغوي باندې کنترول برقرار کړي او وربانډې کنترول ولري.[72]

د اروزګان په ولايت کې هغه نارينه اوښځې چې د فوکس ګروپونو په بحثونو کې يې ګډون درلود وويل چې د ماشومانو ودونه[73] د هغوي په ولايت کې عام دي[74] او داسې يې اټکل کړه چې ددغه ډول ودونو شميره د کليوالو

[64] د متمرکزې او د نظر لاندې ډلې بحث، د بلخ ولايت، اپريل ۲۰۱۰.

[65] د ولايتی شورا د غړي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[66] د هغه کنفرانس په ترڅ کې چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا يې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون سره په همغږۍ کې د نورستان په ولايت کې سازماندهي شوې وه يو تن ولسوال دغه مثال راوړ. هغه همدارنګه د کنفرانس د نورو غړو څخه چې په کې د قبيلې مشران او مذهبي عالمان شامل وو وغوښتل چې د دولت سره ملاتړ وکړی څو دغه ډول دودونه له منځه ولاړ شي.

[67] د د هيواد په يو شمالی ولايت کی د ولايتی شورا د نارينه غړي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[68] د جوزجان په ولايت کې د ۲۰۱۰ په اپريل کې د بشري حقونو د يوې انجو د غړي سره مرکه، چې په کې نوموړې دا بيان کړه چې هغې پخپله او نورو ډېرو کورنيو خپلې لوڼه د دې کبله له وخت څخه وړاند ې واده کړي دي. د فارياب ولايت د ميمنې په ښار کې د يوې انجو مشر همدارنګه څرګنده کړه چې کورنۍ دې ته اړې دي چې له وخت څخه ترمخه وادونو ته غاړه کيږدې، څو چې خپلې لوڼه ددې څخه وژغوري چې په جبري توګه د محلي قوماندانو له خوا واده نه شي، چې هغوي زياتې ښځې لري او د ځوانو نجونو واده کول د خپل ځواک او قوت لپاره يوه څرګندونه بولي.

[69] ځينو روغتيايي کارکوونکو وويل چې يوه د بې عزته کولو دود (او د عدلي طب په لحاظ مشکوک) دا غوښتنه ده چې د باکره ناوو څخه کيږي دا رسم دی چې نا واده شوې نجونې دې ته اړباسلې شي چې د "بکارت ټسټ" د "متخصص" ډاکټر په لاسونو وکړي. د جوزجان د ولايت د روغتيايي کارکوونکي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[70] د بلخ په ولايت کې د محلي راډيو د ښځينه مشرې سره مرکه، د يو اين ايچ سی آر د جنډر د ارتباط د غړي سره د بلخ په ولايت کې مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[71] د فارياب ولايت د خواجه سبز پوست په ولسوالۍ کې د ازبکو ميرمنو د يو فوکس ګروپ سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[72] د سرپل ولايت د سوزما قلعه د داخلي بيځايه شوو کسانو په کمپ کې د ديني علومو د يو ښوونکي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[73] په اروزګان کې "ماشوم" هغه چاته ويل کيږي چې لا هم د بلوغ عمر ته رسيدونکي وي، او حتی ۸- ۱۲ کلن هم بالغان ګڼل کيږي. د مباحثو پر مهال ګډون والو په ځانګړی ډول هغو هلکانو ته د بلوغت اشاره درلودله چې د ۱۸ کلونو څخه د کم عمر وو او نجونې د ۱۶ کلنی کښته وي. اپريل ۲۰۱۰.

ودونو نيمايي جوړوي. هغوي څرګنده کړه چې د رسنيو مثبته اغيزه په ښارونو کې داسي يو عامل دی چې دغه دود په ښاري سيمو کې وکارول شي، او په کليوالو سيمو کې بې وزلي د لوڼو پلورلو ته زمينه برابروي. نارينه او ښځې چې د بحث په ګروپونو کې وو، دا يې جوته کړه چې دا د هلکانو او نجونو دواړو لپاره يوه عنعنه ده چې هر څومره ژر چې کيدلای شي واده کړای شي، او دا هم د بيلا بيلو لاملونو له کبله: نجوني چې د واده څخه ترمخه اړيکو څخه وژغورلې شي او هلکان د وياړ لپاره؛ په واقعيت سره چې کورنی په کلي کې دا يوه ډول سيالي بولي. هغوي همدارنګه دا څرګنده کړه چې هلکان يوه بله ښځه کور ته راولي چې د کور په چارو کې مرسته وکړي، او دا مثبته ده.[75]

د نيمروز په ولايت کې د نارينه وو او ښځو د بحث ګروپ په غونډه کې وويل شول چې والدين زياتره خپلې لوڼې هغه وخت په نکاح کې ورکوی چې عمرونه يې د ۱۰ او ۱۵ کلونو ترمنځ دي، خو ځينې بيا د دغه ولايت په مرکز د زرنج په ښار کې له دې څخه هم په کم عمر کې واده کيږي.[76] په داسي حال کې چې د پاخه عمرد نارينه وو او نجونو ترمنځ ودونه په کليوالو سيمو کې عام دي، د يوناما د بشري حقونو څانګه د داسي قضيو څخه د زرنج په ښار کې معلومات لري چې يوه نمونه يې دا ده چې يو ۴۵ کلن سړی د يوې لس کلنې نجلۍ سره واده وکړی.

د هيواد په شمال کې د ترکمنو د قوم والدينو وويل چې هغوي دې ته ترجيح ورکوي چې خپلې لوڼی د ۱۸ او ۲۰ کلنی د عمر څخه ترمخه په واده کې ور نه کړي. ترکمني نجوني د عمر په لومړيو وختونو کې د قالينو د اوبدلو مهارت زده کوي او خپلو کورنيو ته نقد عايد راوړي.[77] د عايداتو د تر لاسه کولو د ظرفيت د درلودلو له امله هغو افغانانو سره چې مرکې وشوې وويل چې د ترکمنو کورنيو نجوني کولای شي د خپلو راتلونکو ميړونو څخه د ناويتوب لپاره زيات ولور وغواړي. له هغه ځايه چې د دوي مهارتونه کولای شي چې دغې نجوني د وخت څخه ترمخه ودونو څخه محافظت کړي، هغوي زيا تره له ښوونځيو څخه محروميږي ځو چې په کورونو کې قالينې جوړې کړي.[78] د هغو ميرمنو سره چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې شوې دي وويل چې عموماً والدين ترکمنې نجونې د ۱۳ کلنی د عمر څخه وروسته له ښوونځيو څخه وباسي او دا هم له دې ډاره چې هغوي به "بد اخلاقه شي، خپل نزاهت او پاکوالی به له لاسه ورکړي او داچې د نارينه وو سره جنسي اړيکې و نه لري."[79]

داسی ښکاری چې د نجونو تعليم يو اساسي عامل دی چې د نکاح عمر اغيزمنوي. د يوناما د بشري حقونو د څانګې کسانو د کاپيسا ولايت د کوه بند په ولسوالی کې د نجونو د ډيرو ښوونځيو څخه ليدنه وکړه چيرته چې پرته د يوې ۱۴ کلنې نجلۍ څخه هيڅ يوه يې هم د ۱۶ کلنې څخه په لږ عمر کې نه وه نامزده شوې.

**ماشوم ته کوژده کول**

د ماشوم د نکاح له منځه وړل همدارنګه د ماشوم د هغه عمر سره تړاو لري چې په کې ماشوم نامزاد او يا هم د واده لپاره يې ژمنه کيږي. په ځينو حالاتو کې د ماشومی نامزدي په ډير کم عمر کې موافقت کيږي خو نجلۍ بيا ډير وروسته واده کيږي- د هغې "موافقت" د نکاح لپاره په دې ډول له پامه غورځول کيږي، چې دا د اسلامي

[74] د متمرکزې ډلې برخه والو وويل چې د هزاره قوم د اوسيدو په سيمو کې چې په خاص ارزوګان او ګيزاب کې دي (چې د ارزوګان د ولايت له لارې اداره کيږي خو د دايکندي برخه ده)، په دوديز لحاظ د ماشومانو ودونه نشته. د ولايت په مرکز ترينکوټ کې د ماشومانو ودونه ډير لږ دی، په ولسواليو کې زيات دي، مارچ ۲۰۱۰.

[75] د متمرکزو ډلو سره چې د نارينه وو او ښځو څخه جوړې وي بحثونه (په جلا ډول)، د ارزوګان ولايت، مارچ ۲۰۱۰.

[76] د يوناما د بشري حقونو څانګې د لوستو ښځو او ښځينه ښوونکو، پوهانو (عالمانو)، د مدني ټولنې د غړو، او د دولتی نارينه او ښځينه کارمندانو سره چې په کې د ښځو د چارو د رياست کسان هم شامل و يوه غونډه درلودله، ۲۰۱۰ اپريل.

[77] د يوناما د بشری حقونو د څانګې له خوا د ساختماني چارو د نارينه کسانو سره انفرادي مرکه، د آقچې ولسوالۍ، جوزجان، اپريل ۲۰۱۰.

[78] "ترکمنان ماشومه نجلی د لور، مور او يا هم ښځې په توګه نه خوښوي. هغوي ښځينه ماشومان د غلامۍ لپاره روزي. لکه قالين اوبدونکي ماشينونه." د بلخ په ولايت کې د يوې انجو د مشرې سره مرکه، اپريل، ۲۰۱۰.

[79] د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ښځينه ګروپ او د ساختماني چارو د نارينه کارګرانو سره د جوزجان د ولايت د آقچی په ولسوالی کې مرکې، اپريل ۲۰۱۰.

قانون سره په مستقيم مغايرت کې ده. د نجلۍ دا بشري حق چې پخپله اراده او په ازادانه توګه د خپل بلوغ په عمر کې د خپلې خوښې د شخص سره واده وکړي تر پښو لاندې کيږي. نړيوال قانون د افغانستان له دولت څخه غواړي څو دا باوري کړي چې نارينه او ښځې په برابره توګه او يوازې د هغوي په پوره رضايت سره واده وکړي. د رضايت او موافقې د ښکاره نشتوالی سره سره د ماشوم نامزدول د افغانستان د قانون په اساس په واضحه توګه غير قانوني نه ګڼل کيږي.

د دايکندي په ولايت کې د مدني ټولنې استازو د يوناما د بشري حقونو څانګې ته دا معلومات ورکړل چې د يو کال عمر د ماشومانو په هکله د نکاح لپاره نارينه خواستګارانو ته وعدې ورکړل شوې دي.[80] د هيواد په شمالی سيمو کې هغو افغانانو چې مرکې ورسره شوې دي، وويل چې والدينو نجونې ماشومانې د نکاح لپاره ورکړې دي څو د کورنيو ترمنځ اړيکې ټينګې کړي او يا هم دا چې د کورنيو ترمنځ شخړې پای ته ورسوي. په ځينو حالاتو کې والدينو د نجلۍ د زيږون سملاسي وروسته د هغې نامزدي ترتيب کړې ده.[81] دغه ډول ترتيباتو يوازې د نږدې کورنيو ترمنځ صورت موندلی دي او هغه ډير کم د نجلۍ په غوښتنه فسخ شوې دي.[82]

**د ټولنې آند او فکر**

ځينو افغانانو وويل چې ځينې وختونه د يو تن ماشوم نامزدي هغه وخت په رسمي محفل کې چې پکی نکاح تړل کيږي تر سره کيږي، چې په هغې کې يو ملا د قران کريم د اړوند آيتونه تلاوت کوي او په دې توګه د دواړو اړخونو ترمنځ دا لازمي کوي چې د واده لپاره چمتوالی ونيسي. چيرته چې نامزدي رسميت نه مومي، ځينې وختونه د کورنۍ غړي هغه په عام محفل کې اعلانوي. د اعلان له وخته د دواړو کورنيو عزت او وياړ واده او نکاح پورې سره تړاو مومي، او هر ډول داسې هڅه چې نجلۍ د ميره د غوره کولو لپاره مقاومت څرګند کړي نو دا کيدلای شي د دې لامل شي چې نجلۍ د کورنۍ د عزت او ناموس پر خلاف تيری کړی دی، چې دا ځانته ټولې پايلې لري.[83] د يوې ولايتي شورا مشر د يوناما د بشري حقونو څانګې ته وويل چې نوموړی د خپلې اوسنی ۱۴ کلنې لور نامزدي هغه وخت ترسره کړه چې هغه څلور کلنه وه "څو چې هغه ښه راتلونکې ولري."[84]

په مرکزي سيمو کې د يوناما د بشري حقونو څانګې ته وويل شو چې د وخت وړاندې نامزد کول د کوچنې عمر د ودونو په پرتله ډير عام دي (والدين معمولاً تر دې پورې انتظار کاږي چې نجونې بلوغ ته ورسيږي چې په دې توګه د واده مراسم ترسره شي). د مثال په ډول د کابل ولايت د سروبی په ولسوالی کې د يوناما د بشري حقونو څانګې له خوا چې د چا سره مرکې شوې دي هغو وويل چې دغه ډول نامزد کول ډير عام دي او دا کار اکثر وخت د دې لپاره کيږي څو د کورنيو ترمنځ اړيکې لا ټينګې کړي. کورنۍ کولای شي چې خپلې لونه د زيږون پرمهال په نامه کړي او هغوي د ۱۶ کلنی څخه ترمخه واده کړي.[85]

د نيمروز په ولايت کې د هغو کسانو سره چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې شوي دی وويل چې د زرنج په ښار کې د يو پر دريمې برخې څخه زيات کوچنيان نامزد کيږي، او په ډيرو کليوالو سيمو کې دوه پر درې څخه زيات دي. هغوي وويل چې دغه دود د ډيرو باورونو له امله دي: پلرونه دغه ډول نامزدتياوو ته په دې نظر ګوري چې د دې سره هغه دوستي تقويه کيږي چې دوي يې د نورو سره لري، خلک داسې فکر کوي چې که چيرې د ماشوم مور او پلار ښه خلک وي نو ماشوم به هم هغسې وي ، په دې توګه ددغه ډول ماشوم سره واده راتلونکې خطره نه لري، پلرونه همدارنګه په دې باور دي چې د دوي د ماشوم راتلونکې ښيګڼه په څه کې ده.[86]

---

[80] د دايکندي ولايت د خدر، کيتي او د بندر سنګ تخت د ولسواليو د هغو کسانو سره مرکې چې په ځانګړي توګه د دغو ولسواليو د ځينو برخو څخه يې استازيتوب کولو، مارچ، ۲۰۱۰.

[81] د بلخ ولايت د تخنيکي همکارۍ او پرمختيا د نمايندګۍ (اکتيد) له استازي سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[82] د بلخ په ولايت کې د افغانستان د ملي پوليسو د کورني خشونت او د کورنۍ د غبرګون د څانګې د مشر سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[83] د بلخ په ولايت کې د ټولنيزو کارکوونکو او ښځينه پوليسو افسرانو سره مرکې، اپريل ۲۰۱۰.

[84] د هيواد په يو شمالی ولايت کی د ولايتي شورا د غړی سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[85] د کابل ولايت د سروبی په ولسوالۍ کې د متمرکزې ډلې سره مرکه، مارچ ۲۰۱۰.

[86] د لوستو ښځو، ښځينه ښوونکو، پوهانو (ديني عالمانو) د مدني ټولنې او د دولتي نارينه او ښځينه کارمندانو د متمرکزو ډلو سره مابحثې، ۲۰۱۰ اپريل.

**بې وزلي او د ماشومی واده کول**

د ۲۰۱۰ په جنوری کې د یوناما د بشری حقونو څانګې یوه قضیه وڅیړله چې یوې کورنۍ خپلې څلور لونۍ د ۴ څخه تر ۱۴ کلنۍ پورې د هرات د ولایت د ګذرې په ولسوالۍ کې د دولت ضد پر عناصرو وپلورلې. کله چې له هغوې څخه وپوښتل شو نو په دې اړه هغوې خپله زیاته بې وزلي وښودله. پولیسو ته دا موضوع هغه وخت جوته شوه کله چې د نجونو پلار شکایت وکړ چې ورته د پلورل شویو لونو پر سر ولور/روپۍ نه دي ورکړل شوي. د نجونو والدین متهم شول او ورته د قید سزا چې د پلار لپاره یې یو کال او د مور لپاره یې درې میاشتې وه ورکړل شوه. د ۲۰۱۰ د مې په میاشت کې د یوناما د بشری حقونو څانګې ته دا معلومه شوه چې نجونې د مور ترسر پرستۍ لاندې هغه وخت راغلې کله چې هغه د جیل څخه ازاده شوه – په دې شرط چې هغه به ددې اجازه نه لري چې د ۱۶ کلونو څخه وړاندې هغوې واده کړي. هغه ملا چې ددغو نجونو نکاح یې تړلې وه په تعلیقی بند محکوم شو.[87]

د هیواد په شمال کې د یو فوکس ګروپ په مباحثه کې افغانانو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې کورنۍ زیاتره وخت د دوي کوچنۍ لونۍ د شخړو د حل لپاره په نکاح ورکوي. د اروزګان بزګران په تیره لسیزه کې د وچکالۍ له امله ډیر اغیزمن شوي دي او ددې سره بې وزلي او پورونه یې زیات شوي دي.[88]

د سیمه ایزو دودونو له مخې دا یوه بې عزتي ده کله چې څوک و نه کړای شي د خپلو زامنو ودونه وکړي، د اسلامي قانون له مخې د یو هلک کورنۍ باید د نجلۍ خپلوانو ته یوه اندازه پیسې د مهر په توګه برابرې کړي، دغه د پیسو اندازه توپیر کوي خو د دود له مخې معمولاً په سل ګونو زرو افغانیو ته رسیږي. چې سربیره د هلک کورنۍ اړه ده چې باید د واده لګښتونه هم په غاړه واخلي.[89]

په هغو مرکو کې چې د اروزګان په ولایت[90] کې د نارینه او ښځینه وو سره د یوناما د بشري حقونو څانګې له لوری ترسره شوې دا وویل شو چې په عمل کې د یوې لور واده اکثره وخت داسې تنظیمیږي چې بیا د زوي لپاره لاس ته راغلې پیسې ولګول شي. ځینې وختونه یوه کورنۍ خپله لور لومړۍ واده کوي او لاسته راغلې پیسې سپما کوي چې وروسته دغه پیسې د زوي د واده لپاره مصرف کړي. که چیرې د زوي واده په لومړي سر کې وشي او کورنۍ بې وزله وي نو پلار یې د واده لګښت کوي، دا د هغه ارزښت سره برابروي چې د راتلونکې فصل حاصلات تر لاسه کړي- په سهیل کې عموما د کوکنارو د کښت په حساب وي. د بیو لوړوالی او ټیټوالی او کم حاصلات د بزګرانو امکانات محدودوي: هغوي بیا کالي او یا هم شخصي شتمنۍ ورکوي، قرضداره کیږي او یا هم دا چې د یوې لور د واده کولو څخه وروسته پورونه پرې کوي. وروستني امکان ډیر زیات د پام وړ دی. پلار خپل پور ورکوونکي یا قرضدار سره غږیږي او ورته وړاندیز کوي چې د دوي کورنۍ د پور د پرې کولو په موخه سره خپلوي کوي او ورته د نجلۍ د واده وایي.[91] د دولت له خوا د کوکنارو د له منځه وړلو پروګرامونو

[87] د ۲۰۱۰ د جنورۍ د میاشتې د شکایت د تعقیب لپاره د یوناما د بشري حقونو د څانګې څیړنه. د ولسوالۍ قاضي چې د عدلي تعقیب چارې یې پرمخ وړې وې دا حکم درلود چې  دښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون په دغه قضیه کې د تطبیق وړ نه دی ځکه چې دا په تیر وخت نه تطبیق کیږي، دا جوته نه ده چې هغه څنګه دی پایلې ته رسیدلی دی ځکه چې دغه قانون د ۲۰۰۹ د اګست په میاشت کې نافذ شوی دی. د دې پر ځای عدلي تعقیب د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې له مخې شوی دی چې هغه دا صراحت لري  که د یوې قضیې په اړه په اساسي قانون او نورو قوانینو کې احکام نه وي نو محاکم کولای شي چې د حنفي فقهی پر اساس داسې پریکړې وکړي چې په کې عدالت په ښه توګه تامین شي.

[88] لکه چې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د ارزګان په ولایت کې د متمرکزې ډلې په بحث کې د نارینه وو سره وشوه راپور ورکړل شو، اپریل ۲۰۱۰.

[89] مخکینې ماخذ. دغه موضوع هم د هیواد په کچه د متمرکزې ډلې په بحثونو کې راپورته شوه.

[90] د ۲۰۱۰ په مارچ کې د یوناما د بشري حقونو څانګې د متمرکزو ډلو دوه بحثونه یو د نارینه وو لپاره چې په کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون استازي، قاضیان، څارنوالان، د پولیسو لوړ پوړي افسران او د ټولنې مشران شامل وو. بله ډله کې ښځې وې چې په کې ښوونکې، ډاکترانې او زده کوونکې راغونډې شوې و.

[91] د نارینه وو د متمرکزې ډلې غړو وویل چې که چیرې پور ورکوونکي وغواړي نو د هغه میرمن او لونې به د پوروړي کورته ورځي، د نجلۍ سره به ګوري، چې آیا هغه د دې وړ ده او کنه، او ورسره به ځینې موضوعات لکه چې کله واده صورت ونیسي خبرې کوي. دواړه پلرونه به د یو ملا تر مخې سره ګوري او د ملګرو او کورنۍ په حضور کې به وروستي ترتیبات نیسي. او که چیرې نجلۍ

هم د راپورونو له مخې د بزګرانو دا امکان له منځه وړی دی چې خپل پورونه ادا کړي. افغانان هغه نجونې چې په بڼه بیه د پورونو د پرې کولو لپاره پلورل شوې وي " د پور ناوې" په نوم یادوي.[92]

په سهیل ختیځ،[93] کې د هغو افغانانو سره چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې وشوې، دا څرګنده کړه چې د نجونو ودونه او خرڅلاو د بې وزلې په وړاندې د مقابلې یو میکانیزم دی. که چیرې د "ناوې بیه" په منځنې ډول د ۲ څخه تر ۶ زرو ډالرو پورې وي نو په دې صورت کې د لور واده کول یو ګټور کار دی. راتلونکې میره ځینې وختونه همدارنګه کولای شي د دې ژمنه وکړي چې د اوږده مهال لپاره به د خپلو خسرخیلو ملاتړ کوي. د هیواد په غربي سیمه کې په یوه قضیه کې چې د یوناما د بشری حقونو څانګې ته معلومه شوه یو سړی ۱۲ کلنه نجلۍ د دوهمې میرمنې په توګه په نکاح کړه، د ناوې بیه یې ورکړه او په دې توګه یې ژمنه وکړه چې د نجلۍ کورنۍ ته به اوړه او غوړي برابروي.[94]

هغو کسانو چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا ورسره مرکې شوې دي دا تایید کړه چې د مالي فشار له امله پلار کولای شي چې د خپلې لور ښیګڼې او راتلونکې له پامه وغورځوي او د یو نا مناسب واده لپاره موافقه وکړي. هغوئ د دې راپور ورکړ چې په ځینو بې وزلو کلیوالو سیمو کې لکه بادغیس، نجونې د څارویو سره بدلیږی او په یوه قضیه کې چې په شمال ختیځ کې وشوه یوه نجلۍ د یوې نقلیه وسیلې په بدل کې وپلورل شوه.[95]

د یوناما د بشري حقونو څانګې داسې قضیې څیړلې دي چې په هغو کې په نشه یی توکو روږدو والدینو خپلې کوچنۍ لونه پلورلې دي. د ۲۰۱۰ په اپریل کې د یوناما د بشری حقونو څانګې د یوې قضیې څیړنه کړې ده چې په هغې کې والدینو خپله شپږ کلنه لور په محلي بازار کې د شاوخوا ۴۰۰ ډالرو په بدله کې پلورلې ده او بیا کابل ته تښتیدلی دی. پولیسو د یادی شوی قضیې پلټنه پیل کړی.

## ۳. ۵ د ولور لوړه بیه

که څه هم د ولور **لوړه** بیه د ملي، نړیوالو او یا هم د شرعي قوانینو له مخې غیر قانوني نه ده خو ددې دود څخه ځینې د بشری حقونو بدی پایلې رامنځته کیږي. د هغو کسانو سره چې د یوناما بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې شوې په ګڼو ولایتونو کې د ولور زیاته بیه د ډیرو کورنیو له خوا چې غواړي خپلو زامنو ته ودونه وکړي یوه ناوړه او زیان رسونکې دود ګڼل شوی دی. هغوی وویل چې د بې وزلی له امله په کوچني عمر کې ودونه کیږي، نجونې پلورل کیږی او په لوړه کچه کورنی تاوتریخوالی رامنځته کیږي- له هغه ځایه چې نارینه په پور کې وي مایوسه او ناهیلي کیږی او یا هم دا چې په کلونو کلونو کار وکړي څو دخپلو میرمنو له امله پورونه اداء کړي.

پیغله وي نو کیدای شي واده د یو کال په موده کې ترسره شي. او که چیرې هغه لا کوچنۍ وي نو کیدلای شي واده د څو کلونو لپاره وځنډیږی. په ځینو وختونو کې د ۸ او ۱۰ کلونو نجونې سملاسي پور ورکوونکو ته واده کیږي او د هغوئ کورونو ته ځي. مارچ ۲۰۱۰.

[92] وګورئ: سمیع یوسفزي او ران مورو. د افغانستان د تریاکو ناوي: بزرګان دې ته اړ دي چې خپلې لونې وپلوري څو پورونه اداء کړي. نیوز ویک، ۷ اپریل ۲۰۰۸. دغه مقاله د هغې قضیې په اړه ده چې د لغمان په ولایت کې شوې ده چیرته چې د کوکنارو د یو بزګر ۲۰۰۰ ډالر پور کړل او ژمن شو چې ۲۴ کلو ګرامه تریاک به د حاصلاتو پرمهال ورکړي. د حاصلاتو د اخیتسنې لړ. وړاندې د دولت له خوا د کوکنارو د له منځه وړلو یو ټیم د هغه ټول حاصلات له منځه یوړل. هغه قاچاق کوونکي چې ده ورڅخه پور اخیستي وو پیسې وغوښتې. دغه قضیه د قومي مشرانو ته وړاندې شوه او په هغې کې پریکړه وشوه چې بزګر باید دغه ۴۵ کلن قاچاقچي ته خپله لور په نکاح ور کړي. هیڅوک نه پوهیږي چې څومره د پورونو ناوې دغلته دي خو دغه شمیره د کوکنارو د له منځه وړلو د پروسې د بریالیتو ب سره ډیریږي چې په کې ډیر بزګران نه شي کولای خپل پورونه اداء کړي.

[93] په جنوب ختیځو سیمو کې د پکتیا، پکتیکا، غزني او خوست ولایتونه شامل دي. د ۲۰۱۰ د فبروری او مارچ د میاشتو ترمنځ په ټولو ولایتونو کې د متمرکزو ګروپونو مباحثې جوړې شوې چې په کې نارینه او ښځینه دواړه شامل وو. ددې سربیره د ښځو دحقونو او د جنډر په اړه د پوهاوي د لوړتیا ورکشاپونه د خوست، پکتیکا او غزني په ولایتونو کې جوړ شول، چیرته چې د زیان راوړونکو او ناوړه دودونو لپاره ځانګړې غونډې د ورکشاپونو پرمهال په پام کې نیول شوې وي.

[94] د غور په ولایت کې د ښځو د چارو ریاست سره د یوناما د بشري حقونو څانګې ته معلومات ورکړل شول، اپریل، ۲۰۱۰.

[95] په ۲۰۰۹ کې د یوناما د بشري حقونو څانګې یوه قضیه یادداښت کړې ده چې یوه نجلۍ په کابل کې واده شوې او څو اونۍ ورسته هغه د خپل میړه له خوا د بغلان په ولایت کې د یوې نقلیه وسیلې سره بدله شوې ده.

د ولور بیه په افغاني ټولنه کې د ښځو او نجونو د هوسایني لپاره مرکزي او بنیادي فکتور دی چې په زوره د واده لامل ګرځي. د ناوې زیاته بیه ځینې وختونه کورنۍ په مالي لحاظ زیانمنوي او د هغو افغانانو د وینا له مخې چې ورسره د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا مرکې شوې دي واده په یو ډول مالي راکړه ورکړه او سودا بدلوي چې په هغوئ کې نجونې د زیاتې بیې ورکوونکي او زیانمن ته ورکول کیږي.[96] په مباحثو کې دا هم ویل شول چې د ناوې کورنۍ دغه پیسې د قالینو د رانیولو لپاره کاروي[97] څو په دې توګه د خپلو زامنو د ودونو لپاره سپما ولري. ګڼ شمېر کورنۍ د سوداګرۍ پورونه او یا هم د پرمختیا مرستې کاروي چې د واده مصارف پوره کړي؛ د ښځو یوې ډلې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې هغوئ هغه پیسې وکارولې چې د کاروبار لپاره د کوچنیو قرضو په توګه د اسیا د پرمختیایي بانک له خوا ورکړل شوې وې څو چې د وئ وکړای شي د ولور لګښت ورکړی او زامنو ته ودونه وکړي.[98] کورنۍ ډیری وخت د لګښتونو او پورونو په حال کې د زیات وخت لپاره بندې پاتې کیږي.

**د ټولنې آند او فکر**

د فاریاب په ولایت کې سپین ږیرو او دولتي کارمندانو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل چې د ناوې لپاره لوړه بیه ددې لامل ګرځي چې نجونې د هغو سیمو څخه وتښتولې شي او قاچاق شي چیرته چې د ناوې بیه ټیټه ده او دغه قاچاق د لوړې بیې سیمو ته کیږي. هغوئ څرګنده کړه چې یوه د قاچاقچیانو کړۍ شته چې د تاجکو او ترکمنو د قومونو نجونې او ښځې چې عمرونه یې د ۱۳ او ۲۲ کلونو ترمنځ دي د کندز، تخار او د بدخشان په ولایتونو کې رانیسي او بیا هغه د ناوو په توګه د فاریاب په ولایت کې په ترکمنو کورنیو پلوري.[99] د فاریاب ولایت یو تن مشر دا څرګنده کړه چې دغه دود ځکه پراختیا موندلې ده چې کورنۍ په دې نه توانیږي چې په محل کې د ناوې لپاره لوړه بیه ورکړي.[100]

په ځینو سیمو کې کورنۍ ددې لپاره ترتیبات نیسي چې د ناوو د لوړې بیې د ستونزې سره مقابله وکړي چې دا په نجونو باندې بیلا بیلې پایلې لري. د جوزجان ولایت په یوه ولسوالۍ کې افغان سپین ږیرو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته وویل، "موږ د ولسوالۍ مشرانو او ملایانو د جهیز د راکښته کولو مفکوره تر بحث لاندې ونیوله او دې نتیجې ته ورسیدلو چې اوسنۍ بیه چې ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ (۹۳۰۰ ډالر) ده ډیره لوړه بیه ده. نو له دې امله موږ د کورنیو څخه دا غوښتنه پیل کړه چې د زیات څخه زیات ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ (نږدې ۴۵۰۰ ډالر) د جهیز په توګه وغواړي- خو لا هم تر د دمه موږ د دې مشورې مثبتو پایلو ته ګورو."[101]

د سمنګانو ولایت په هغه ولسوالۍ کې چې زیاتره اوسیدونکي ئې تاجک دي محلي ملایانو داسې لارښوونې کړې دي چې د ناوې بیه د ۱۰۰۰۰ ډالرو څخه ۴۰۰۰ ډالرو ته راکښته کړي او د واده په مراسمو کې لګښتونه هم کم کړی. دغه لارښوونې د خرم[102] او سرباغ[103] په کلیوکې په بریالیتوب سره پلې شوې دي خو د نږدې پراته کلی ده

[96] "په ډیرو ټولنو کې مهر د قالین سره مبادله کیږي... او د ناوې والدین د ناوې بیه (مهر) اخلي. نو ځکه دا په دې مانا ده چې یو تن خپله لور پلوري." په شمال کې د ولایتي محکمې د مشر مرستیال د ۲۰۱۰د اپریل میاشت.

[97] د اسلامي قانون له مخې ناوې حق لري چې د نکاح لپاره یوه برخه (مهر) د زووم او یا هم د هغه د کورنۍ د نکاح پرمها ل واخلي. دغه تحفې که څه هم هغه د پیسو، ځمکې او یا هم بل ډول عقاریه او یا منقول ملکیتونو په شکل کې وي تر لاسه کړي، په تیورۍ کې دا د هغې شخصي ملکیت دی. د ناوې کورنۍ (په خاصه توګه مور) هم دې کې د اسلامی قانون له مخې حق لري چې ورته ورکړای شي- دې ته "د شیدو پیسې" وایي اود زووم کورنۍ باید هغه ورکړي- او دا هغه اندازه پیسې دي چې د هغو لګښتونو په بدله کې تادیه کیږي چې د هغوئ د لور د پاللو لپاره ترسره شوي دي. دغه د "شیدو پیسې" د قلین په نوم یادیږي. د پښتنو کورنیو ترمنځ دې ته ولور وایي او د تاجکو کورنیو ترمنځ د طویانې په نوم یادیږي. په شمال کې د بیلګې په ډول د قلین مقدار چې غوښتل کیږي د ۱۵۰۰۰۰ افغانیو څخه چې (۳۲۰۰ ډالر) کیږي تر ۴۰۰۰۰۰ افغانیو پورې چې (۸۵۰۰ ډالر) کیږي رسیږي. دغه معلومات چې د یوناما د بشری حقونو څانګې ته د مرکو/بحثونو پر مهال په شمال کې ورکړل شوي دي، اپریل ۲۰۱۰.

[98] د ازبکو د قوم د ښځینه ډلې سره مرکه، د فاریاب ولایت، اپریل ۲۰۱۰.

[99] د فاریاب په ولایت کې د مشرانو د ګروپ سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

[100] د فاریاب په ولایت کې د مشرانو د ډلې سره مرکې، اپریل، ۲۰۱۰.

[101] د جوزجان د ولایت د فیض آباد په ولسوالی کې د ملایانو او د کلي د مشرانو سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

[102] د سمنګانو په ولایت کې د خرم او سرباغ د ولسوالۍ د خرم کلي د شورا د غړو سره مرکه. اپریل ۲۰۱۰.

[103] د سمنګانو د ولایت د خرم او سرباغ د ولسوالۍ د سرباغ د کلي د یوې مدرسې د مشر سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

- اصل کې د ځوانو نجونو والدينو په "غصې سره هغه نه دي منلي."[104] د خوست په ولايت کې د صبريو د قوم جرګې د سروزرو مقدارچې بايد ناوې ته ورکړل شي وټاکلو او ددې لاربښوونه يې وکړه چې د جهيز د لګښت اندازه بايد د ۲۵۰۰۰۰ افغانيو (نږدې د ۵۰۰۰ ډالرو)[105] څخه زياته نه شي.

د کاپيسا د ولايت د تګاب په ولسوالۍ کې طالبانو د ۲۰۱۰ کال د جولای په مياشت کې يو حکم جاري کړ او هغې کې راغلي دي چې د ناوې بيه بايد ۳۸۰۰ ډالرو څخه زياته نه شي او متخلفينو ته د ۲۰۰۰ ډالرو جريمه ټاکل کيږي. د طالبانو يو تن استازي د راپورونو له مخې ويلي دي چې دغه پريکړه د ديني مشرانو سره د مشورو وروسته شوې ده.[106]

## ۳. ۶ د کونډو جبري ودونه او د ميراث حقونه

د ۲۰۰۹ په ډسمبر کې يوه ۴۰ کلنه کونډه د غزني په ولايت کې په فزيکي ډول د وفات شوي ميړه د ورور له خوا هغه وخت تر بريد لاندې راغله چې هغې ورسره له نکاح څخه انکار وکړ. د هغې ټپونه ډير سخت وو او په کابل کې يې د متخصص تر نظر لاندې درملنې ته اړتيا درلوده. د ښځو د چارو رياست له نوموړې سره مرسته وکړه چې د غه قضيه پوليسو ته راپور کړي، خو په دې اړه هيڅ ډول ګام پورته نشو.[107]

ناوړه دودونه نه يوازې د ښځو حقونه له واده څخه ترمخه او د واده پرمهال زيانمنوي بلکې هغه وخت هم د دې زيان لېدل کيږی چې ميړه يې مړ شي.

د کونډو جبري ودونه له دې څخه هم منځ ته راځي چې هغوي د خپلو خسرخيلو له خوا د ميراث په توګه ګڼلې شي، بلکې دا همدارنګه په دې پورې هم اړه لري چې د کونډې د وراثت حق له پامه وغورځول شي او هغه د ميړه خپلوانو ته واده کړای شي چې په هغې پورې تړلی هر ډول ميراث په دغه کورنۍ کې پاتې شي. دا چې د ښځو په جبري توګه په نکاح کول د هغې د ارادې خلاف صورت نيسي يوه انديښنه ده خو دا عمل د ټولو ملي او نړيوالو قوانينو او همدارنګه له اسلامي شريعت سره په مخالفت کې دی- چيرته چې موافقه او خوښه د هر ډول نکاح لپاره يو شرط دی.

زياتره وخت که چيرې يوه کونډه په هغه کورنۍ کې بيرته نه نکاح کيږي نو هغه ددې خطر سره هم مخ وي چې اولادونه له لاسه ورکړي. د افغانستان د مدني قانون له مخې کله چې ماشومان يو خاص عمر ته (۹ کلونه د نجونو، ۷ کلونه دهلکانو لپاره) رسيږی نو سرپرستي د پلار په غاړه وي، او د مړيني او يا هم طلاق په صورت کې هغوي د پلار د کورنۍ سره پاتې کيږي. پرخپله راتلونکې باندې د واک نه درلودل د ښځې لپاره د انتخاب کولو امکانات محدودوي. کونډې پخپل وار خپلې لونې په تنکي عمر کې واده کوي چې هغوي د خپل مرحوم ميړه د کورنۍ د خپلوانو د ناوړه سلوک څخه وژغوري.[108]

---

[104] د سمنګانو د ولايت د خرم او سرباغ د ولسوالۍد ده اصيل د کلي د شورا د غړو سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰.

[105] د خوست په ولايت کې د کار او ټولنيز چارو د رياست مرستيال د يوناما د بشري حقونو څانګې ته د يوې غونډې په ترڅ کې چې د ۲۰۱۰ په مۍ کې جوړه شوه معلومات ورکړل چې يو کال تر مخه د صبريو د ولسواليو مشرانو د خوست په ولايت کې د مهر او جهيز لپاره د پيسو اندازه تر ۲۵۰۰۰ افغانيو پورې راټيټه کړه. ددې پريکړې د تعقيب لپاره د صبريو د ولسوالۍ خلک په دې مکلف دي چې د غه نوي مقررات پلي کړي. هغه د يوناما د بشري حقونو څانګې ته ويل چې محلي طالبانو د دې پريکړې په نيولو کې فعال رول لوبولی او په جرګه کې يې ګډون لرلو.

[106] حبيب الرحمن ابراهيمي، طالبان زړونه تر لاسه کوي- او نور، اسيا ټايمز، ۱۰ سپتمر ۲۰۱۰.

[107] د هغې پيښې د څيړنې راپور چې ديوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا تر سره شوي، جنوري ۲۰۱۰.

[108] د افغانستان په څو ولايتونو کې د مرکو او بحثونو پر مهال د يوناما د بشري حقونو څانګې ته راپور ورکړل شوی، مارچ-اپريل ۲۰۱۰. په يو شمير هغو قضيو کې چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا يې څيړنه شوې، د ماشومانو ودونو د دې لپاره تر سره کېدل، چې کونډو غوښتل خپلې لونې د هغوي په کورنيو کې له تاوتريخوالي څخه وژغوري.

په ډيرو ولايتونو کې د يوناما د بشري حقونو څانگې په هغو مرکو کې چې د ډيرى افغانانو سره شوې دي هغوي څرگنده کړې ده چې د کونډو د جبري واده کولو له لارې د هغوئ په وراثت باندې د هغې کونډې ميره د کورنۍ د بل نارينه غړي له خوا قبضه کيږي چې دا يو ناوړه او زيانمونکى دود دى.

**قانون**

**د افغانستان داخلي قانون**

**د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون**

**درې ديرشمه ماده**
هغه شخص چى ښځه، د هغې د موروث په متروکه کى د تصرف څخه منع کړي، د هغې د شرعي ونډې د پرېښودو برسيره، له احوالو سره سم په قصير حبس چې له يوې مياشتې څخه زيات نه وي محکوميږي.

**څلور ديرشمه ماده**
هغه شخص چې د ښځې شخصي مالونه تصرف يا هغه له تصرف څخه په هغو کى منع کړي، له احوالو سره سم په قصير حبس چې له دريو مياشتو څخه زيات نه وي، محکوم او مال د ښځې په تصرف کى ورکول کيږي.

**شرعي قانون**

لکه څنگه چى د اجبارى واده په برخه کى ذکر شول، د واده لپاره د دواړو خواوو رضايت يو لازم شرط دى.
اکثراً کونډې ښځى د ميراث له حق څخه محرومولو په موخه د مړه ميره له خپلوانو سره واده ته مجبوريږى.
قران کريم له متوفى ميره څخه د ښځې د ميراث د حق په اړه واضح موقف لري.

١- ښځه د ميره له وفات څخه وروسته په دې صورت کى چې نوموړې د هغه څخه اولاد و نه لري له ټولې شتمنى څخه ١/۴ برخه ترلاسه کوي.
٢- ښځه د ميره له وفات څخه وروسته که چيرې هغوي ماشوم ولري له ټولى شتمني څخه ١/٨ برخه تر لاسه کوي.

"او شته دى ښځو لره څلورمه برخه له هغه مال چى پريښى وى تاسى که نه وى تاسى لره ولد، نو که ؤ تاسى لره ولد نو دى ښځو لره ثمن (اتمه برخه) له هغه ماله چى پريښى وى تاسى پس له ادا کولو د وصيت چى وصيت کوى تاسى په هغه سره يا پس له ادا کولو د دين (چى وى پر تاسى اى خاوندانو)."
(قران کريم، سورة النساء، ١٢ ايت)

د خپلي متوفى ښځې څخه د ميره له خوا ميراث وړل هم په قران کريم کې په لاندې ډول څرگند دى:

١- که چيرې ښځه اولاد ونه لري پدې صورت کې د متوفى ښځې له ټول ميراث څخه نيمايي برخه ميره ته رسيږي.

٢- په هغه صورت کې چې ښځه اولاد ولري، د متوفى ښځې له ټول ميراث څخه څلورمه برخه ميره ته رسيږي.

"او شته تاسى ته نيم د هغه مال چى پريښى دى ښځو ستاسى که نه وى دى ښځو لره ولد، نو که وى دى ښځو لره

ولد نو تاسی لره شته (څلورمه) برخه له هغه ماله چې پرېښی وی دی ښځو پس (له ادا کولو) د وصیت نه چې وصیت کړی وی (دی ښځو) په هغه سره یا (پس له ادا کولو د) دین څخه (چې وی په دی ښځو)."
(قران کریم، سورة النساء، ۱۲ ایت)

قران کریم همدارنګه په ډاګه کوي:

"ای هغو کسانو چې ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) نه دی حلال تاسی لره دا (کار) چې په میراث به اخلی تاسی ښځې په زور سره، او مه منع کوی تاسی دا (ښځې) له پاره د دی چې یوسی (تری واخلی) تاسی ځینی د هغه مال چې ورکړی وی تاسی دوی ته (په مهر کی) مګر چې راشی (وکاندی) دوی فاحشه (قبیح کار نشوز یا زنا) ښکاره، او ګزران کوی تاسی (ای میړو) له دی (ښځو) سره په نیکی طریقی سره!، پس که خوښی نه وی ستاسی دا ښځې نو (صبر وکړی) ښایی چې نه به خوښوی تاسی یو شی حال دا چې ګرځولی به وی الله په دی شی کی خیر ډیر."
(قران کریم، سورة النساء، ۱۹ ایت)

لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه (د بد د برخي لاندې) د اسلام د ظهور نه د مخه د ښځو سره د ملکیت په حیث چلند کیده او په حتی د هغوي وارثانو به یی ښځې په خپل تصرف کی راوستلی. قران کریم هغه له شرمه ډکه عنعنه د رضایت د تر لاسه کولو له لارې او اجباری ودونو د له منځه وړلو له لارې منع کړه او په ډاګه یې کړه چې د زور له لارې د ښځې د میراث وړل منع دی.

لاندې ایت هم د نارینه او ښځې ترمنځ اړیکه تعریف کړې:

"ای خلکو! (تل) وویرېږی له ربه خپله! هغه (رب) چې پیدا یی کړی تاسی له نفسه یوه نه (چې آدم علیه السلام دی) او پیدا یی کړه له دی (نفسه) جوړه د ده (چې حوا ده) او خپاره (خواره) یی کړل له دی دواړو څخه سړی ډیر او ښځې (ډیری)، او وویرېږی له الله هغه (الله) چې سوال کوی تاسی یو تر بله په (نامه د) ده سره او (وویرېږی له پریکولو) د خپلوی څخه، بیشکه الله دی پر تاسی ساتونکی (نو هیچیری) او هیڅ کله تری غافل نه شی چې جزا درکوی."
(قران کریم، سورة النساء، ۱ ایت)

**مثالي قضیې**

د کریمي دوسیه د یوې کونډې ښځې د اجباری واده د ستونزې، د میراث د حق د ردوني او ښايي د اولادونو د لاسه ورکولو د مسلې څخه پرده پورته کوي. کریمه د غزني له ولایت څخه یوه کونډه ده چې د خپل مړه میړه د ورور سره واده کولو ته اړه شوې او که واده و نه کړي نو د خپلو ۵ ماشومانو څخه به لاس په سرشی. نوموړې د یوناما د بشري حقونو څانګې ته ویلي دي چې د نوموړې میړه ډیر ښه او زړه سوانده سړي وه او ښه خوشحاله ژوند یې درلود. نوموړې څلور نجوني نرۍ ته راوړي او هغه مهال چې میړه یې د پوځې عملیاتو په ترڅ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ یو ماشوم هلک یې په نس وه، له مړیني درې میاشتې وروسته، د هغې خسرګنی د نوموړې ټول قیمتي شیان له ځانه سره یووړل. پنځه کاله وروسته او د خپلو ۵ ماشومانو څخه د جلاوالی په خاطر نوموړې د خپلي کورنۍ دغړو تر فشار لاندی د یوې ډلې له خوا چې یو ملا صاحب هم په کې ګډون درلود واده کولو ته اړه شوه.[109]

د ۲۰۱۰ کال په فبروی کې، د یوناما د بشري حقونو څانګې د پروان په ولایت کې د یوې ۲۲ کلنې کونډې دوسیه چې د نوموړې د مړه میړه یوه ۱۱ یا ۱۲ کلن رواني معیوب ورور ته په جبری توګه واده شوې، څیرې. د نوموړې خسرګنی غوښتل چې د نوموړې میراث کورنی ته ورسیږي، دغې کونډې ښځې د بل سړی سره لیدلي او د هغه سره یې د واده رضایت ښکاره کړی دی. نوموړی د خپل خسرګنی له کوره تښتیدلې او یوه ځایی

[109] د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د قرباني شخص سره مرکه ترسره شوی.

سرپټوني ته ورغلې. د نوموړې خسرګنۍ محکمو او ځايي چارواکو ته مراجعه وکړه څو کونډه په جبرى توګه تللو ته چمتو کړي. دا قضيه د افغانستان د بشري حقونو د کميسيون په ګډون په پاى کې د کونډې په ګټه فيصله شوه او نوموړې له هغې وروسته چې محکمې د هغې واده د خپل ليور سره فسخ کړ د خپلې خوښې د کس سره واده وکړ.[110]

**د ټولنې آند او فکر**

په جنوبي سيمه (اروزګان او نيمروز ولايتونو) کې د فوکس ګروپ د خبرو اترو پرمهال ښځو او نارينه وو وويل چې د کونډې خپلوانو ته د کونډې واده کول دوه اساسي علتونه لري: هغه ميراث چې د ميړه په جايداد کې نوموړې ته رسيږي، نوموړې د کور د پرېښودو څخه راګرځوي او همدارنګه دا د هغه شرم مخنيوي هم کوي چې کونډه د نوموړې د پخواني ميړه له کور څخه د باندې واده وکړي.[111]

يوه سړي د يوناما د بشري حقونو څانګې ته په مرکه کې د اروزګان د ولايت د ترينکوټ څخه د يوې ښځې په هکله چې وار وار يې د خپل پخواني ميړه د کورنۍ د يو بل شخص سره د واده کيدو څخه انکار کړى دى او د کندهار ولايت د کوم بل شخص سره يې پخپله خوښه واده کړى، ويلي دي. دا څه ډير لږ پيښيدونکى دي او په ډيره منفي توګه ورته کتل کيږي.[112] د بل قوم سړي چې غواړي د يوې کونډې سره واده وکړي نو هغه ته د يوه تښتوونکي په حيث کتل کيږي او د قومونو د پخلاينې لپاره مرکه[113] رابلل کيږي.

په جنوبي سيمه کې هغه کسان چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا پوښتل شوي ويلي دي چې کونډې زياتره په زور د متوفى ميړه د کورنۍ له خوا اړې ايستل کيږي چې د کورنۍ د نارينه غړي سره واده وکړي. هغوي وويل که څه هم د کونډې له خوا خپلو اولادونو ته د نه لاس رسي امکانات ډير کم دي، کونډې زياتره د خپلو اولادونو سره د پاتې کيدو په هيله په خپلو کورونو کې ودونه کوي.[114]

که چيرې په کورنۍ کې بالغ غړي نه وي يا نه غواړي چې د کونډې سره واده وکړي، کيداى شي چې کونډه د کورنۍ يوه تنکى هلک ته واده کړي څو په دې توګه د نوموړې جايداد کورنۍ ته منسوب کړي. د تنکي عمر ميړه کولاى شي بيا هغه مهال چې نوموړى ځوان شي بل واده وکړي. د تنکي ميړه او دوهمې ښځې له خوا معمولاً د اولى ښځې يعنې کونډې سره ښه چلند نه کيږي.[115]

په ارزوګان کې فوکس ګروپ بيلا بيلو خبرو اترو پرمهال ښځو او نارينه وو ګډون کونکو وړانديز وکړ چې د ميراث په خاطر د کونډوپه زور ودول بايد په قانون کې د تغيراتو د راوستلو په صورت کې منع شي. هغوئ وويل چې حقوقي مقررات بايد په ښکاره ډول توضيح شي چې ښځه کولاى شي د هر هغه چا سره چې نوموړى يې غواړي واده وکړي او همدارنګه د نوموړې د مړه ميړه له کورنۍ سره د نوموړې واده کول منع کړي.[116]

[110] د ۲۰۰۹ په فبروري کې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا قضيه څيړل شوى:
[111] د ۲۰۱۰ په اپريل او مارچ کې د نيمروز او اروزګان په ولايتونو کې د نارينه وو او ښځو سره د تمرکز د ډلو خبرې اترې ترسره شوي.
[112] د ۲۰۱۰ په مارچ کې د اروزګان په ولايت کې د نارينه وو سره د تمرکز د ډلو راپور شوي، خبرې اترې ترسره شوي.
[113] مرکه جرګې ته ورته ده چيرې چې دواړه خواوې پخپله پدې هوکړه کوى چې د يوې شخړې د دوستانه حل کولو لپاره مسله مرکچيانو ته وړاندې کړي.
[114] د ۲۰۱۰ په فبرورى او اپريل کې د پکتيا په ولايت کې د تمرکز د ډلو خبرې اترې ترسره شوي.
[115] دا د ۲۰۱۰ په مارچ کې د نارينه وو او ښځو د ډولو سره د اروزګان په ولايت کې د تمرکز د ډلو د خبرو اترو په ترڅ کې مطرح شوي.
[116] د ۲۰۱۰ په مارچ کې د اروزګان په ولايت کې د تمرکز د ډلو د خبرو اترو پرمهال څرګنده شوې.

## ۳. ۷ د ښځو پر خوځښت او ازادۍ محدودیتونه

"ښه دا ده چې ښځې او نجونې تر کوره محدودې وي او د هغوي د عفت او حیا ساتنه وشي."[117]

د یوناما د بشري حقونو څانګې د نارینه وو او ښځو سره د خبرو اترو له لارې دا معلومه کړې چې د خوځښت په ازادۍ د محدودیتونو له امله په ټولنه کې د ښځو ګډون له ننګونو سره مخ دې. دغه ننګونې په زور او د اسلام څخه د ناسم تعبیر اومانا اخیستلو او همدا ډول په هیواد کې د پراخیدونکې نا امنۍ له امله رامنځ ته کیږي.[118] دا د ښځو د بشپړو حقونو د تحقق، د ښځو خوځښت د ازادۍ د مخنیوی، په کار کې د ښځو د ګډون د مخنیوی او د یو شمیر نورو زیاتو حقونو لکه د ښوونې او روزنې او مناسبې روغتیایي پاملرنې ته د لاس رسي د لاسته راوړلو په برخه کې ستر خنډونه رامنځ ته کوي.[119]

په ځینو افغاني ټولنو کې چې ښځې منل شویو نورمونو ته غاړه نه ږدي، د ټولې کورنۍ او آن تر دې چې د ټولنې لپاره د بې عزتی لامل ګرځي.[120] د ښځې د سلوک او د ټولنې د عزت ترمنځ اړیکه (په خاص ډول د ټولنې د نارینه غړو) دې ته لار هواروي چې د ښځو سره د ملکیت، مال او جایداد په څیر چلند وشي.[121] هغوي د کور د باندې او د نارینه وو د وقار د ساتلو په خاطر په ټولنیزو معاملو کې د ګډون څخه منع کیږي. یو شمیر داسې عنعنوي دودونو که څه هم چې د اساسي قانون او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع له قانون سره په مغایرت کې راځي، رسمي بڼه ورکړل شوې. د بیلګې په توګه، د شیعه ګانو د شخصي احوالو قانون لاندې (۱۲۳ مه ماده)، د ښځو پر خوځښت او تګ راتګ ځینې محدودیتونه وضع شوی دی.

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون لاندې هغه کسان چې په زوره ښځه تجرید یا نوموړې د لیک لوست، کار او روغتیایي پاملرنې ته د لاس رسي د حق څخه محرومه کړي، د جنایي عمل مرتکب ګرځي. سربیره پردې، په اسلام کې جوته ده چې د پیغمبر مبارک ښځو په عامه ژوند کې د ښځینه سوداګرو، عالمانو او د پوهو میرمنو په حیث په فعاله توګه ونډه لرله. قران کریم په نارینه او ښځو دواړو د علم زده کړه لازمي بللې.

**قانون**

**د افغانستان داخلي قانون**

**د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون**

**یو دیرشمه ماده**
هغه شخص چې ښځه انزوا (یوازیتوب) ته مجبوره کړي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له دریو میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

---

[117] د ۲۰۱۰ د اپریل په میاشت کې د سرپل ولایت د سنګ چارک د ولسوالی د ملایانو او د ټولنې د مشرانو سره د تمرکز د ډلو د خبرو اترو پرمهال بیانیه.

[118] د مذهب او عقیدې د آزادي په هکله ځانګړی راپور ورکوونکی: کیدای شي د مذهب اداره او سمبالول ټولنیز مکانیزمونه رامنځ ته کړي او د ښځو موقف او حتی کله نا کاله د ډیرو اساسي حقونو د بیلګې په توګه د خوځښت ازادي او د محرم یا میړه نه پرته د سفر د حق مخنیوی وکړي، کنټرول کړي...، داسې میکانیزمونه ښایي د داسې واقعیت په واسطه نور هم غښتلی شي چې په عامه ژوند کې، د ښځو، ګډون د مذهب په شمول محدود او حتی د نشتون سره مخ کړي. ځانګړی راپور ورکوونکی، آمور، op.cit,. p26.

[119] په افغانستان کې په عامه ژوند کې د ښځو د ګډون په هکله د عنعنوي کړو وړو په اړوند د ژورې څیړنې او تحلیل او همدارنګه د توضیحی دوسیو لپاره، د یوناما/او.ایچ. سی.آر راپور ته مراجعه وکړئ؛ چوپتیا خشونت دی: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسوئ، جولای، ۲۰۰۹.

[120] د ۲۰۰۹ په اپریل کې، د بلخ په ولایت کې د یوې افغانی میرمنې سره چې د یوه نړیوال سازمان سره کا رکوي، مرکه.

[121] یوه مذهبي ښوونکې د داخلي کډوالو په کمپ کې د سرپل ولایت د سوزمه قلعه په ولسوالی کې وویل، چې واده شوې ښځې په عمومي ډول له واده وروسته خپل انفرادي هویت له لاسه ورکوی او د ټولنې خلک هغه "د پلانې د ښځې" په نامه یادوي، نه د هغې په خپل نوم، د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

**پنځه دیرشمه ماده**
هغه شخص چې ښځه د زده کړې، تحصیل، کار، روغتیایي خدمتونو ته د لاس رسي د حق او په قوانیو کې له نورو درج شویو حقوقو څخه د ګټې اخیستنې مانع شي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**شرعي قانون**

تر شرعي قانون لاندې، هیڅ څوک حق نه لري چې په ناقانونه توګه نور کسان تجرید یا انزوا ته مجبور کړي. میره د خپلې کورنۍ د غړو مالک نه دی او باید د هغوي د ښیګڼي لپاره عمل وکړي. قران کریم وایي: د ښځو سره په مهربانۍ چلند وکړئ.
"او ګزران کوی تاسی (ای میرو) له دی (ښځو) سره په نیکی طریقی سره!، پس که خوښی نه وی ستاسی دا ښځی نو (صبر وکړی) ښایی چی نه به خوښوی تاسی یو شی حال دا چی ګرځولی به وی الله په دی شی کی خیر ډیر."
(قران کریم، سورة النساء، ۱۹ ایت)

ټولو ته جوته ده چې د حضرت پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) لومړۍ میرمن حضرت خدیجه (رض) سوداګره او په عامه ژوند کې فعاله وه. د خپل میره ترڅنګه د شتمنۍ او د مالکیت د حق څخه د یوې مسلماني ښځي برخمن کیدل د اسلامی حقوقي کارپوهانو له خوا تفسیر شوی (قران کریم، څلورم سوره) او د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د یوې اشارې په حیث وړاندیز شوی چې ممکن نوموړې په فعاله توګه عایدات او شتمني تر لاسه او ترتیب کړي.

همدارنګه د شرعی قانون لاندې د ښوونې او روزنې حق ته مراجعه وکړئ.

**د ټولنې آند او فکر**

د پارلمان یوې ښځینه استازی د یوناما د بشري حقونو څانګې ته معلومات ورکړي:

"زه په کار نه کولو وګواښول شوم ځکه چې د کور نه د باندې د ښځې کار کول په مذهبي توګه منع دي او دا د شریعت سره په ټکر کې دي. کوم معاش چې زه تر لاسه کوم هغه حرام دی، او زه باید هرومرو په کور کې دننه پاتې شم."[122]

د بادغیس له ولایت نه یو شمیر ښځو د یوناما د بشری حقونو څانګې ته وویل چې هغوي غوښتل چې په یوه غونډه کې د ګډون په موخه هسپانیا هیواد ته سفر وکړي خو له هغه وروسته یې خپله پریکړه بیرته واخیسته چې کله یوه ځایي ملا صاحب د جمعې د ورځې په لمانځه کې هغوي ته ګواښ وکړ چې که چیرې هغوي د خپل محرم نه پرته کوم بهرنی هیواد ته سفر وکړي نو هغوئ به سنګسارې شي.[123]

د یوناما د بشری حقونو څانګې ته یوې ښځینه حکومتي کارکوونکي په مرکه کې وویل:

"زموږ د ملا صاحبانو غوښتني له مخي موږ باید ښوونځي، پوهنتون او آن تر دې چې له کوره څخه د باندې ولاړې نه شو. زموږ ملایان وایي موږ نه شو کولای چې والیانې، قاضیانې او ملایانې واوسو. که

[122] وګورئ د یوناما/او ایچ سی ایچ آر راپور: چوپتیا خشونت دی: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسوئ.
[123] د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

څه هم چې اوس مهال موږ په یوه بله ټولنه کې یو او زموږ حقونه د حکومت له خوا ساتل کیږي. که چیرې زموږ فعالیت تر کورونو پورې محدود شي نو څنګه کولای شو چې د راتلونکی نسل په حیث خپل مسؤولیت ته غاړه کیږدو څو د هغوي حقونه خوندي کړو."[124]

یو شمیر نارینه وو ګډون والو د نفقې د اسلامي مفکورې ذکر وکړ کومه چې نارینه د ښځو د ساتنې او مالي او فزیکي ملاتړ په برابرولو ځانونه ژمن بولي. د نفقې د اسلامي مفکورې په اړه هغوي وایي، په داسې حال کې چې د هغوي څخه په ښه توګه ساتنه وشي نو بیا ښځې او نجونې څه اړتیا لري چې له کور څخه د باندې ووځي.[125] یو شمیر اسلامي حقوقي کارپوهان په ټولنه کې د ښځو د فعال نقش په اړه اسلامي عمومي ملاتړ ته ګوته نیسي.[126]

## ۳. ۸ د ناموس په نوم وژنه

د پروان له ولایت څخه ۲۰ کلنه فرشته په ۲۰۰۹ کال کې په زور د خپل عمه/ترور زوی ته واده شوه، خو نوموړې د یوه بل شخص سره د هغه نه وروسته چې د خپلې انا او پلندر(ناسکه پلار) لخوا ووهل شوه کابل ته وتښتیده. پولیسو نوموړې د زنا د ارتکاب په تور ونیوله او په ۵ میاشتو بند محکومه شوه. د نوموړې د خلاصون په تعقیب هغه د خپل ماما کور ته ولاړه. د نوموړې مشر ماما د ۲۰۱۰ کال په جنوری کې هغه د پخلاینې د ډوډۍ پر مهال ووژله، په دې قضیه کې مشر ماما، انا او دوه نورې ښځې نیول شوي دي او د محاکمې انتظار باسي.[127]

چیرې چې ښځو ته د کورنۍ د وقار د وسیلې په حیث کتل کیږي، د واده په هکله د کورنۍ د حکم په وړاندې د هغوی مخالفت هغوي د جدي فزیکی ځورونې په خطر کې اچوي.[128] دا د ناموس تر نامه لاندې وژنې د یوه سړي حق د مصوونیت په لرلو سره د دې لپاره پیژني څو د ښځې ژوند له منځه یوسي ځکه چې د هغې غیر اخلاقي عمل د کورنۍ وقار له خطر سره مخامخ کړي. دا د کورنۍ د یوه یا څو خپلوانو له خوا د کورنۍ د یوه غړي وژلو ته څوک چې ګمان کوي قربانۍ شخص د کورنۍ لپاره بدنامي راوړي، وایي.[129] د لیدل شوی شرم په هکله مبارزه زیاتره د جبری واده، د ژوند د شریک د انتخاب، یا د نارینه سره د خبرو اترو پر سر د ښځې له خوا ولاړیږي. د جرم د څرنګوالي او د افتخاري کلتوري نظریې د جرم د اړیکې په نظر کې نیولو سره د ناموس په نوم وژنې یو ناوړه دود دی.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په هکله د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکی د ناموس په نوم وژنې د یوې جادوي څرګندونې په حیث بللې کوم چې د زیاترو ناروا جرمونو لپاره نقاب برابروي. ددغو ډول وژنو بنسټ په ژورو کلتوري عقایدو باندې ولاړ دی.

د هیواد په کچه په یو شمیر خبرو اترو او مرکو کې افغانانو د ناموس په نوم د وژنو د پیښو تصدیق کړی. په زیاترو قضیو کې دغه وژنې د هغو ښځو او نجونو په وړاندې ترسره شوی چې د ټولنې په ګمان یې قبول شوی ټولنیز نورمونه تر پښو لاندې کړي دي.

---

[124] له ښځینه حکومتي چارواکي سره مرکه، سمنګان ولایت، اپریل ۲۰۱۰.
[125] له مشرانو، ملایانو او قومی رهبرانو سره مرکه، سرپل، سنګ چارک ولسوالی، اپریل ۲۰۱۰. د ګروپ غړو ومنله چې اقتصادي اړتیاوو له ښځو څخه غواړي چې له کورونو څخه بهر کار وکړي.
[126] له اسلامي قانوني ماهرانو سره مرکې او مباحثې، مارچ- اکتوبر، ۲۰۱۰.
[127] قضیه چې د یوناما بشري حقونو څانګې ته یې راپور راغلي او تعقیب شوې ده، جنوري، ۲۰۱۰.
[128] خاص راپورتر امور، راپور ذکر شوی ص ۳۱.
[129] مخکیني ماخذ پاراګراف ۱۵۵ – ۱۵۸

## د افغانستان داخلي قانون

**د جزا قانون**

لومړی څپرکی، د جزا د قانون د ۳۹۴ څخه تر ۳۹۷ مادې د قتل د جرم سره معامله کوي.

کله چي دې تيري (جرم) کي د " ناموس" د نامه لاندې وژنه شامله وي نود جرم(تيري) کچه را ټيټيري .

**درې سوه اته نوییمه ماده**

که شخص د خپلې ښځې يا د يوې خپلې محرمې د ناموس څخه د دفاع په اثر د زنا کولو په حالت کې يا يې وجود د بل چا سره په يوی بستره کي مشاهده کړی او فی الحال دواړه يا يو د هغوي په قتل ورسوي يا يې زخمي کړي د قتل او زخم د جزا څخه معاف دي مگر په "تعزيري" توگه د حالونو سره سم په حبس چي د دو کلونو څخه زيات نه وي، محکوميږي.

**د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون**

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالي د منع قانون د "ناموس" په نوم وژني جنايي عمل نه بولي خو د جزا قانون ته مراجعه کوي.

**د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون ۲۲ ماده توضيح کوي، چې:**

۱- که شخص چي ښځه تر ضرب او جرحی لاندی ونيسی، له احوالو سره سم د جرم د شدت او خفت له په پام کی نيولو سره د جزا د قانون په (۴۰۷ څخه تر ۴۱۰) مادو کی د درج شويو حکمونو مطابق مجازاتيږي.

۲- که چيرې د دې مادې په (۱) فقره کی درج شوی اعمال، د مجنی عليها (زيانمن شوی) په مړينه تمام شي، مرتکب له احوالو سره سم د جزا د قانون په (۳۹۵ څخه تر ۳۹۹) مادو کی درج په اټکل شوې جزا محکوميږي.

## شرعي قانون

اسلام د انساني ژوند د پاکوالي/تقدس ملاتړ کوي. په قران کريم کې راغلي چې د يوه بې گناه انسان وژل د ټولو انسانانو د وژلو په شان ده. (قران کريم ۳۲:۵، ۱۵۱:٦ او ۳۳:۱۷)

اسلام له واده څخه د باندې د هر ډول جنسي اړيکو (زنا) د مخنيوی په هکله روښانه دريځ لري او په دې هکله د شريعت تر قانون لاندې د مجازاتو لپاره حدود[130] ټاکل شوي. دغه مخنيوی د ښځو او نارينه وو ترمنځ توپير نه مني. د دې لپاره چي يوه قضيه يوې اسلامي محکمې ته وړاندې شي بايد لوړ جدي معيارونه ترسره شي. د زنا تور څلورو شاهدانو ته اړتيا لري؛ او هغوي بايد جنسي عمل په خپلو سترگو ليدلی وي. که څه هم زنا د شرعی قانون مطابق د حدودو جرم دی ، شرعي قانون چي د جدي عدالت د تطبيق غوښتنه کوي همدارنگه انفرادي کسانو ته په خپل سر د دې جرم لپاره د سزا ورکولو حق نه ورکوي.

---

[130] د حدود (دحد جمع) جرمونه هغه جرمونه شميرل کيږی چي د الله تعالی له فرمان څخه سرغړونه وي، دغه جرمونه مطلق دي او اختياري نه دي. اووه جرمونه شته چي د حدود د جرم جزا ورباندې تطبيق کيږي: زنا، غلا، داړه ماري، رسوايي، تيري، د الکهولو څښل او ارتداد.

## حقوقي تحليل

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون د ناموس په نوم جرمونو لپاره کوم ځانګړی مجازات په نظر کې نه نیسی. د جزا د قانون ۳۹۸ ماده، چې پورته ذکر شوی، په هغه صورت کی چې د قتل په صورت کی قربانی شخص د متهم نږدې خپلوان اوسی او د زنا د عمل د ارتکاب په وخت کې نیول شوي وی، د قتل مجازات کم کوی. دغه قتل نه شی کولای له مخکی نه شی. دغه ډول مقررات، په ځانګړي ډول که د جرم نور شاهدان موجود نه وي، د ممکنه ناوړي استفادې یا تجاوز لپاره فرصت برابروي. لکه څنګه چې د داسې ماهیت د قتل لپاره سزا د داسی مودې لپاره چې د دوو کلونو څخه زیاته نه وي، کمه شي، کیدای شي د جزا قانون ته په دی نظر کتل کیدای شی چې د ناموس په نوم وژنی تبرئه کوی.

د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې نظر ده چې د جزا د قانون ۳۹۸ ماده باید په هر ډول جاري هڅو کې په جنایي قانون کې د اصلاحاتو د راوستلو په موخه لغو شي. دغې مادې لکه څنګه چې د قانون نورې مقررې د عمدي او غیر عمدي وژنو ترمنځ توپیر کولای شي، ضرورت نه لیدل کیږي. دغه ماده نه یوازې ښځې تحقیروی او د هغوي ژوند بې ارزښته کوی بلکه دا ماده د ناوړه کلتوري فعالیتونو حقوقي توجیه هم کیدلای شی.

## مثالي قضیي

که څه هم په زیاترو پیښو کې ښځې ښکیلې دي، د یوناما د بشري حقونو څانګې داسې یو شمیر دوسیې هم څیړلې چې نارینه او هلکان د " ناموس" د ساتلو لپاره په کې وژل شوي دي. د ۲۰۱۰ په مې کې د نیمروز په ولایت کې د یوه ځوان کورنی د راپور سره سم یو سړی او یوه ښځه په قتل ورسول. نورو ته د دواړو د واده کولو په هکله وعده ورکړل شوې وه. د قانون د پلی کولو د چارواکو مطابق او هغه چا چې د خبرو کولو پر سر لیدلي وه، وویل د هلک خپلوانو هغوي یوې لیرې سیمې ته یوړول، هغوی یې هلته وویشتل او د هغوی جسدونه یې په یوه ځا کې واچول. شکمن نیول شوي دي.[131]

داسې ښکاري چې ځینې د ناموس په نوم وژنې د ټولې ټولنې ملاتړ له ځانه سره لري. د ۲۰۱۰ په اګست کې د بامیانو په ولایت کې یوه نجلۍ د واده نه یوه ورځ وروسته په مشکوکه توګه وژله شوې ده . د راپور له مخې میره د واده په شپه نجلۍ د خپل پلار کور ته په دې خاطر چې ګواکې نوموړې پیغله/باکره نه وه، بیولې ده . نوموړې د خپل پلار په کور کې بله ورځ مړه وه. پولیسو د یوناما د بشري حقونو څانګې ته پدې اړه خبر ورکړ چې هغوي پدې هکله څیړنې پیل کړې دي خو د ټولنې د ځایي مشرانو له خوا د ګواښونو له امله د هغوي څیړنې نورې پرمخ نه ولاړې. بیا یو بل ټیم چې په هغه کې د جنایي څیړنو د ریاست ولایتی مشر هم شامل و د پیښې د ځای څخه لیدنه وکړه، خو ځایي خلکو د هغوي مخه هم ډب کړه څو د قتل په هکله څیړنې بشپړې نه کړي. د دې په تعقیب بیا چارواکو کوم عمل ترسره نه کړ.[132]

## د ټولنې آند او فکر

د سرپل، جوزجان، سمنګان او بلخ په ولایتونو کې د ځینو مرکو په ترڅ کی افغانانو د ناموس په نوم د وژنو د شتون تصدیق وکړ. د بیلګې په توګه د سرپل په ولایت کې د ولایتي محکمې مرستیال د یوې داسې قضیې راپور ورکړی چیرې چې ورور خپله خور له هغه وروسته چې له کوره د زور واده په خاطر له خپل مین سره وتښتیده، ووژله.[133]

---

[131] قضیه چې د یوناما بشري حقونو څانګې ته یې راپور رسیدلی او پلټنه یې شوې ده، می ۲۰۱۰.
[132] پلټنه او مصاحبې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا، اګست، ۲۰۱۰.
[133] د قاضي د و ینا سره سم، تورن شخص هیڅکله نه دی نیول شوي، مصاحبه، اپریل ۲۰۱۰.

په نورو سيمو کې، د ټولنې غړو د هغوي په سيمه کې د ځينو جرمونو د شتون څخه انکار وکړ او همدارنګه يې وويل چې هغوي د "ناموس" تر نامه لاندې د وژنو په هکله مالومات نه لري. د بيلګې په توګه د سمنګانو د ولايت د ده - اصيل د کلي د شورا نارينه وو غړو د مرکې په ترڅ کې وويل چې د "ناموس" په نوم وژنې (بد او د ښځو د زده کړې په هکله ممانعت) د هغوي په ولسوالۍ کې شتون نه لري او و يې ويل چې ټولنه دغه ډول کړنو ته د جرم په سترګه ګوري.[134] نارينه وو هم د خبرو اترو په ترڅ کې د هغوي په سيمو کې د ناموس په نوم د وژنو د شتون څخه انکا ر وکړ. که څه هم چې د يوناما د بشري حقوقو څانګې په شمالي سيمو کې د ناموس په نوم د وژنو په هکله يو شمير دوسيې څيړلې. د ۲۰۰۷ په مارچ کې د سرپل په ولايت کې له هغې وروسته چې د نجلۍ نامزد خپله نامزدي د نجلۍ د عکسونو د خپريدو وروسته فسخ کړه د نجلۍ پلار خپله لور ژيندۍ کړه.[135]

ځيني افغانان, (د پښتنو ښځو په ګډون) چې د يوناما له خوا ورسره مرکه شوې خبر ورکړی چې د "ناموس" په نوم وژنې د پښتنو په ټولنه کې په پراخه کچه ترسره کيږي.[136] د "ناموس" په نوم د کمې کچې د وژنو په اړه راپور د ترکمنو په ټولنه کې ورکړل شوې او داسې توضيح شوې: "ترکمنې نجونې غالۍ اوبدی او پلرونه يې نه غواړي چې د هغوي عايدات له لاسه ورکړي."[137]

## ۳. ۹ د ناوړه دودونو او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی په مقابل کې د ځان سوځونې غبرګون

> د ۲۰۰۹ په جولای کې د پنجشير په ولايت کې يوې ۲۰ کلنې اميندوارې ښځې خپل ځان ته اور واچاوه. نوموړې له مرګ نه وړاندې د يوناما د بشري حقوقو څانګې ته وويل چې په ۲۰۰۷ کې د واده راهيسې د خپل ميړه او ندرورګانو له خوا هره ورځ ټکول کيده. د پيښې په ورځ هم د نوموړې ميړه هغه په دې تورنه کړه چې د واده په شپه يې پيغلتوب نه درلود. نوموړې په ځان د خاورو تيل وشيندل او ځان ته يې اور واچاوه. نوموړې د ټپونو له امله څو ورځې وروسته مړه شوه. د نوموړې ميړه اوس مهال د هغې د ځان وژنې په تور په دوه کلن بند محکوم دی.[138]

ځان سوځونه په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي او له خطر نه ډکو عنعنوي کړنو د وژونکو فعاليتونو څخه يوه پايله ده. چارواکي د داسې ځان سوزونو پيښو کم شمير پلټي چې په هغی کې ادعا وشی چی د کورنۍ غړي د دې باعث وګرځی. دا د شهادت د نه شتون او همدارنګه د حکومتي چارواکو له خوا د بې پروائي له امله چې نه غواړي د داسې دوسيو څيړنې ترسره کړي، يو لامل دی.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون له مخې هغه عمل چې بل شخص ځان سوځونې ارتکاب ته هڅوي نا قانونه عمل دی. په ورته ډول، د شرعي قانون لاندی که يو شخص د بل شخص د ځان وژنې باعث وګرځی يا ځانو ته زيان ورسوي، د دغه عمل لپاره دمجرم په توګه مسؤول ګڼل کيږی.

حکومت وايی چې د ښځو د ځان سوځونې عمومي لامل خپګان دی او اټکل کيږی چې هر کال نږدې ۲۴۰۰ تنه ښځې ځانونه سوځې.[139] د زياترو ښځو لپاره داسې عمل/ځان سوځونه د ناوړه او تاوتريخوالي نه ډک کورني ژوند څخه د خلاصون لار ده.[140] که څه هم ځيني ښځې او نجونې د ځان د وژلو قصد نه لري خو زياتره بيا د خپلو ټپونو له وجې مري. د ماشومانو ودونه، په زور ودونه، د شخړو دحل لپاره په بد ل کې د نجونو ورکول، داخلي شخړې د ځان سوځونې اساسي لاملونه جوړوي.[141]

---

[134] د شورا له نارينه غړو سره مرکه، سمنګان ولايت، اپريل ۲۰۱۰.
[135] د قضيې راپور د يوناما د بشري حقوقو څانګې ته، چارچ ۲۰۰۷.
[136] د ښځو د غير حکومتي موسسو له مشرانو او مدافع وکيلانو سره مرکې، بلخ ولايت، اپريل ۲۰۱۰.
[137] له ساختماني کارګرانو سره مرکې د کول بقالی کلی، د اقچی ولسوالی، د جوزجان ولايت، اپريل ۲۰۱۰.
[138] د يوناما د بشري حقوقو د څانګې پلټنې، معلومات د ولايت د قاضی او د قرباني له ميړه له خوا. دغه راز د يوناما د بشري حقوقو څانګې له مرګ څخه مخکې له قرباني سره مرکه کړې ده، جولای ۲۰۰۹.
[139] د افغاني ښځو په منځ کې د ځانمرګي شميره زياته شوې ده، بنين هوا، ۳۱ جولای ۲۰۱۰.
[140] په ټول هيواد کې په مرکو او مصاحبو کې څرګنده شوې، مارچ/اپريل ۲۰۱۰.
[141] همدا ماخذ او د يوناما د بشري حقوقو د څانګې له خوا د قضيو د تحليل پر بنست.

**مثالي قضيې**

د هرات په ولايت کې د يوناما د بشري حقونو څانګې ته په يوه راپور ورکړل شوې قضيه کې ويل شوی دي چې يوې ۱۴ کلنې نجلۍ چې د ۲ کلنۍ په عمر کې نامزاد شوې او د خپل تره زوي ته په ۱۰ کلنۍ کې واده شوې د کورنۍ تاوتريخوالي له امله د ځان وژنې څلور کوښښونه کړی او د تره زوی يې نوموړې ته د طلاق ورکولو څخه انکار کړی دی.[142]

د ۲۰۱۰ په مۍ کې د نيمروز په ولايت کې يوې ۱۳ کلنې نجلۍ د پټرولو د شيندلو وروسته ځان ته اور واچاوه. نوموړې د ۱۰ کلونو په عمر واده شوې او د راپور سره سم د خپل ميړه او د هغه د کورنۍ سره د نوموړې ژوند له کړاو څخه ډک ښودل شوی دی. دغه دوسيه د يوه روغتون څخه د ليدنې پر مهال د يوناما د بشري حقونو د څانګې تر پاملرنې لاندې راغله او نجلۍ د ځان سوځونې څخه درې ورځې وروسته ساه ورکړه.

**قانون**

**د افغانستان داخلي قانون**

**د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع قانون**

**يو ويشتمه ماده**
که چيرې ښځه د تاوتريخوالي له امله په ځان سوځولو يا ځان وژنه او يا د کيمياوي يا زهري موادو او يا ځانته د نورو ضررناکو موادو په استمالولو مجبوره شي، د تاوتريخوالی عامل د مجنی عليها (زيانمن شوی) د ټپي کيدو او معلوليت په صورت کې په متوسط حبس او د مجنی عليها د مړينې په صورت کې، له احوالو سره سم په اوږده حبس چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکوميږي.

**شرعي قانون**

شرعي قانون ځان سوځونه، ځان ځورونه او ځان وژنه منع کوي.

قران کريم تصريح کوي:

"... او مه غورځوی ځانونه خپل په هلاکت کی او نيکی کوی، بيشکه چې الله دوستی کوی له نيکو کارانو سره." (سورة البقرة، ۱۹۵ ايت).

د يوناما د بشري حقونو څانګې د شرعي قانون د کارپوهانو نظر وغوښت، او هغوي وويل چې ځان وژنه د اسلام له نظره ( حرام )عمل دی خو دا د سزا وړ جرم نه دی. په ځينو حالاتو کې، چيرې چې يو شخص د فشار لاندې ځان سوځي يا د ځان سوځونې قصد کوی، هغه شخص چې د فشار مسؤول دی، په جنايي لحاظ د عمل مسؤول شميرل کيږي.

---

[142] قضيه د يوناما د بشری حقونو څانګې ته د څارنوالی له خوا راجع شوې، هرات، نومبر ۲۰۱۰. قضيه په محکمه کې ده او د راپورونو له مخې د نجلۍ ميړه ايران ته تښتيدلي دی.

په ۲۰۰۷ کې د هرات ولایت روغتیایي ولایتی چارواکو د هرات په ښار کې د ځان سوځونې یو ځانګړی واحد جوړ کړ. دا مرکز په میاشت کې د ځان سوځونې د ۸ او ۱۰ ترمنځ قضیې معامله کوي، دا ارقام د ۲۰۰۹ په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښیي. ډاکټران اټکل کوي چې ممکن په ولایت کې ورته شمیرموجود وي چې دوی یې نهویني ځکه چې دا پیښې د ښار څخه د باندې واقع کیږي او یا خو قربانیان پریښودل کیږي چې مړه شي. یوه ښځه په تصادفي توګه له ځان سوځونې څخه ۱۵ ورځې وروسته ومونډل شوه او غوښتل یې له هغه وروسته مړه شي چې د خسر او لیور له خوا وربانډې جنسي تیری شوي وو.[143] د قربانیانو زیاتره برخه د ۱۵- ۲۵ کلونو تر منځ ښځې وي او زیاتره یې غریبې او بې سواده ښځې دي. د دې واحد مسؤول ډاکټر وویل، په زور ودونه ستونزو ته لار هواروي. ځواني ښځې زړو کسانو ته واده کیږي، ښځې د پسونو او حتی د تریاکو په بدل کې ورکول کیږي. دغه ښځې د میړونو او په مساوي توګه د خواښو له خوا تر ناروا فشار لاندې وي. هغوي کله نا کله د مرستې د تر لاسه کولو په موخه ملایانو او د ټولنې مشرانو ته مراجعه کوي، هغوي حتی په همدې ځایونو کې هم د ناوړه ګټې اخیستنې او تحقیر سره مخ کیږي. ډاکټر په دې نظر دی چې د ځان سوځونې د قضیو څخه د خلاصون یوازینی لار په زور ودونو ته د پاي د ټکي ایښودل دي.[144]

## ۳. ۱۰ د ناوړه دودونو او تاوتریخوالی په غبرګون کې له کورونو څخه تېښته

د لوګر ولایت څخه پلار خپله ۱۶ کلنه لور په یوه بوډا د واده په پلمه خرڅه کړې. نجلۍ د یوه هلک سره جلال اباد ته وتښتیدله. پولیسو نوموړې له کور څخه د تیښتې او زنا په تور نیولې. نوموړې د لوګر ولایت د ماشومانو په تادیبي مرکز کې توقیف وه چیرې چې د راپور سره سم په نوموړې جنسي تیری شوی دی. ابتدایي محکمې نوموړې په ۷ کلونو بند محکومه کړې ده او د کابل د ماشومانو تادیبي مرکز ته استول شوې ده چې وروسته د نوموړې پلار د هغې ځوانه خور په بدل کې ورکړه.[145]

د یوناما د بشری حقونو څانګې موندلې کله چې ټولنیز او کلتوري حالات ښځو او نجونو ته د ناوړه دودونو د مخالفت یا د تاوتریخوالي څخه د تیښتې/خلاصون اجازه نه ورکوي، هغوي زیاتره تیښتې ته اړې کیږي. د بیلګې په توګه، د پنجشیر په ولایت کې له کور څخه تیښته (شینګري)[146] ډیر معمول کار دی. نجونې د جبری نامزادۍ څخه د خلاصون او همدارنګه د معشوق سره د فرار په موخه له کور څخه تیښتې.

که څه هم د افغاني قانون لاندې له کور څخه تیښته جرم نه دی، خو د قانون پلی کونکي چارواکي زیاتره نجونې د تیښتې لپاره نیسي، بندې کوی یې او حتی تر عدلي تعقیب لاندې یې راولي، هغوي معمولاً د زنا د قصد لرلو تور لګوي.[147] د جزا د قانون د ۴۲۵ مادې لاندې، یو شخص د یوې ښځې سره چې ۱۸ کلنه یا د ۱۸ کلونو څخه زیات عمر ولري فرار وکړي د تښتونې[148] د عمل مرتکب نه ګڼل کیږي. دا په دې دلالت کوي چې یوه ۱۸ کلنه یا د هغه څخه د لوړ عمر ښځه چې د واده کولو په موخه تښتي، مجرمه نه شمیرل کیږي.

---

[143] د راپورونو له مخې "مایوسي" ښځې چې بده استفاده ورڅخه شوي وي د اور په ذریعه ځانونه سوځوي ای ایف پی ۲۸ سپتمبر، ۲۰۱۰.

[144] پورتنی ماخذ.

[145] د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا تحقیق، جنوري، ۲۰۱۰.

[146] د شینګري مختلف ډولونه شته: الف) کله چې نجلۍ او هلک دواړه غواړي ازدواج وکړي مګر کورنۍ او ټولنه یې مخالفه وي (د تېښتې خطر شته)؛ ب) کله چې نجلۍ له تېښتې څخه پخوا نامزد شوې وي، دود داسې دی چې د هلک کورنۍ ته چې نجلۍ ورته نامزد شوې وه په بدل کې بله نجلۍ ورکول کیږي؛ ج) د عادي شنګري لپاره (کله چې نجلۍ او هلک په خپله خوښه ازدواج کوي او کورنۍ یې مخالفت نه کوي)، معمولا هغه تحفې چې د مشرانو له خوا ټاکل کیږي د غرامت لپاره کافی بلل کیږي.

[147] د یوناما د بشري حقونو څانګې د قانون انفاذ له مسولینو سره مرکې. پولیس هغه ښځې چې "تیښته" کړي وي په دې اتهام نیسي چې د زنا قصد یې درلوده. "د زنا عمل" د افغانستان د جزا قانون او د شرعي قانون له مخې جرم ګڼل کیږي.

[148] د جزا قانون ۱۴۸ ماده وایي: دغه ماده د مدني قانون له ۸۰ مادې سره سمون لري چې وایي: "که یوه عاقله نجلۍ چې د پخوالي عمر ته رسیږي ازدواج کوي، ازدواج یې رسمي دی."

له کور څخه تیښته کیدای شي د کورنیو او ټولنو ترمنځ په شخړه واوړي. کله نا کله، لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، کورنۍ مجبوریږي چې د شخړې د هوارولو لپاره بله نجلۍ په بدو کې ورکړي. له کور څخه د تیښتې پیښې همدارنګه کله نا کله د هغوي د خپلوانو له خوا د ناموس په نوم وژنو ته لار هواروي.

## مثالي قضیې

ښځې او نجونې ډېر ځلې په کور کې دننه له تاوتریخوالی څخه د خلاصون په موخه تښتي. ډېر ځلې د ډېرو ستونزو ریښې د ناوړه دودونو لکه د ماشومې په واده کې پرتې وي. د یوناما د بشري حقونو څانګې د فراه په ولایت کې د یوې ۱۴ کلنې نجلۍ پېښه څوک چې له کوره تښتول شوی او بیا په زور سره چې کله نوموړې ۹ کلنه وه واده شوې، څېړلې. نجلۍ ویلي چې هغه د خپل خسر سره د جنسي رابطې نه د انکار په خاطر وهل شوې ده . د نوموړې میړه او د هغې خواښې هم د نوموړې سره په دې خاطرناوړه چلند کاوه چې ګواکې هغې د خپل خسر سره ناوړه اړیکې لرلې.

د یوناما د بشري حقونو څانګې کارکوونکو د نوموړې نجلۍ سره مرکه کړې او لیدل شوې چې د نوموړې نجلۍ د لاس دوه ګوتې ماتې شوې او همدارنګه د نوموړې په بدن تیل څڅول شوي دي (د ادعا سره د نوموړې د خسر له طرفه) د نوموړې پښې هم سوځول شوي (د ادعا سره سم د نوموړې د خواښې له خوا). نوموړې همدارنګه ادعا کوي چې د نوموړې میړه هغه د لاسونو څخه د یوې شپې لپاره راځوړنده کړې. د نوموړې نجلۍ پلار پولیسو ته پدې هکله خبر ورکړی (او هغوي نجلۍ د خسر د کور څخه راویستې) او د ښځو د چارو ریاست ته یې وسپارله. د ښځو د چارو ریاست نوموړې نجلۍ روغتون ته ولیږله او د پولیسو څخه یې غوښتنه وکړه څو مرتکبین ونیسي. تر اوسه د کورنۍ او قومي اړیکو له امله پولیسو په دې هکله هیڅ اقدام نه دی کړي. د یوناما د بشري حقونو څانګې خپلو هڅو ته دوام ورکړی، څو قضیه د اړوندو چارواکو سره په جریان کې واچوي.[149]

### د افغاني محاکمو له خوا له هغو ښځو سره چلند چې له کورونو څخه تښتي

د ۲۰۱۰ په اګست کې د سترې محکمې عالي شورا په ۵۷۲ [150] تصویبي شمیره کې څارنوالانو ته د کورونو څخه د تیښتې د دوسیو په هکله د معامله کولو په موخه لارښوونې کړي. د لارښوونې مطابق، محکمې باید معلومه کړې چې تیښته د مجرد او یا واده شوی/متاهل ښځې لرې، د تیښتې لامل او انګیزه او د هغه ځای معلومول کوم ځای ته چې نجلۍ تښتیدلې (د خپلوانو یا بیګانه کور). که چیرې نجلۍ د کور د غړو له خوا د ځورونې او مزاحمت څخه د خلاصون په موخه د یوه خپلوان کور ته، د شرعي محرم کور ته یا کوم عدلي اداري ته پناه وړي، بیا باید د شرعي لید د نظره پیښې ته د جرم په سترګه و نه کتل شي. په معکوس ډول که چیرې ښځه د یوه بیګانه کور ته ولاړه شي، که څه هم چې ښایي د تیښتې لامل د ناوړه سلوک څخه خلاصون وي، لارښوونه تصریح کوي چې نوموړې ځان د داسې جرمونو لکه بدلمنۍ او نورو ورته جرمونو کوم چې د عالي شورا په حواله د شرعي قانون لاندې نامشروع ګڼل کیږي، په دې توګه منع او د سزا وړ دي، ځان د خطر په معرض کې اچوي.

دا لارښود ښایي د هغو نجونو په وړاندې چې له کورونو څخه تښتي د هغوي د نیونې په هکله یو مثبت ګام وي. نو بیا هم دقیق تحلیل وړاندیز کوي چې محکمه د اساسي قانون ۱۳۰ ماده (کوم چې محکمو ته پداسې حالاتو کې د حنفي فقهې د تطبیق صلاحیت ورکوي چیرې چې د جنايي قانون لاندې واضح مقررات شتون ونه لري) هغه عنعنوی کړنو ته مشروعیت ورکوي کوم چې د ښځو خوځښت محدودوي او د شرعي قانون لاندې کوم بنسټ ونه لري.

[149] قضیه چې د یوناما له خوا تحقیق شوي، اګست ۲۰۱۰.

[150] ۵۷۲ شمیره منظوري، یو امر یا لارښوونه چې د اګست په لومړۍ ۲۰۱۰ د سترې محکمې د عالي شورا له خوا خپره شوې چې د قانون د پرمختګ د بین المللي سازمان له خوا دغوښتنې په ځواب کې نشر شوه او د "تیښتې" د جرم په اړه یې د نیولو او تعقیبولو قانوني بنیاد توضیح کړی دی. دغه غبرګون له یوناما سره شریک شوی. دغه منظوري د اصلاح ورځپاڼې ۲۵ اګست ۲۰۱۰ کې چاپ شوې.

هغو اسلامي قانون پوهانو چې د يوناما د بشري حقونو څانګې سره يې مشورې کړې په دې نظر دي چې دا لاربنود غير حقيقي او د اسلامي شريعت سره په ټکر کې دی.[151] هغه ښځې چې د خشونت سره مخ دي ښايي خپلې کورنۍ يا د قانون د تطبيق ادارو ته چټک لاس رسي و نه لري او يا ښايي هغوي د کورنۍ په غړو او حکومتي چارواکو باور و نه کړي او يا د ساتنې د تر لاسه کولو لپاره په يوه بيګانه لکه ګاونډي باور وکړي. د دې سربيره، د شريعت د قانون لاندې د زنا جرم په مساوي توګه په نارينه وو او ښځو د تطبيق وړ دی. د زنا د ارتکاب احتمال په سبب مجازات په شريعت کې هيڅ ډول حقوقي بنسټ نه لري. ځکه نو د لاربنود بنسټ په انګيرنه استوار دی او اټکل کيږي چې ښايي عمل واقع شوی وی او ممکن ښځه تر اغيزې لاندې راغلي وي. د يوناما د بشری حقونو څانګه په دې نظر ده چې دا لاربنود د جنسيت د تساوي د اساسي قانون د ضمانتونو او همدارنګه د ۳۱ مادې (اجباري تجريد) او ۳۵ مادې (ښوونې او روزنې، کار او روغتيايي خدمتونو ته د نه لاس رسي) او د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون سره په مغايرت کې دي.

د نړيوال قانون، شرعي قانون او ملي قوانينو ترمنځ محسوس او د درک وړ تضاد ښايي د حکومت له خوا د شرعي قانون د يوې جامع شرحې او بيان د ترويج کولو له لارې حل شي، د دې په ځای چې ملي قوانين کمزوري کړي، هغه د نړيوالو قوانينو سره همغږې کوي او د نړيوالو بشري قوانينو په وړاندې د افغانستان د تعهداتو په برخه کې مرسته کوي. د يوناما د بشري حقونو څانګه وړانديز کوي چې د سترې محکمې عالي شورا دې د اساسي قانون د ضمانتونو، ملي او شرعي قانون او د افغانستان د بشري حقونو د تعهداتو سره سم په دغه لاربنود کې اصلاح او تجديد نظر راولي.

## ۳. ۱۱ ښځو لپاره زده کړو او روغتيايي خدمتونو ته لاس رسي باندې د ناوړه دودونو منفي اغيزې

د بشری حقونو څخه د ښځو د برخمن کيدو او معارف او روغتيايي پاملرنې ته د ښځو د لاس رسي په شمول هغوی د هيواد د يو شمير نورو ناوړه دودونو د ننګونو سره لاس او ګريوان دي. د ماشومانو ودونه د دغو کړنو له جملې څخه تر ټولو مخربه او ويجاړونکی کړنه ده. يوه نجلۍ چې په ۱۲ کلنۍ کې واده شي ځنګه کولای شي خپلې زده کړې پرمخ بوځي، او کيدای شي په تنکۍ عمر کې اميندواره شي او په فزيکی او رواني لحاظه د مورولۍ لپاره چمتو نه وي.

د ښځو پر عليه د تاوتريخوالی د منع د قانون لاندې، د ښځې/نجلۍ نه د ښوونې او روزنې د حق اخيستل جنايي جرم شميرل کيږي- اسلام همدارنګه وايي چې ښځه او نارينه ورته حقونه لري او د علم زده کړه د ټولو مسلمانانو دنده ده. د افغانستان اساسي قانون هم د ټولو وګړو لپاره د زده کړې او همدارنګه د مناسبې روغتيايي پاملرنې د برابرولو د حق ضمانت کوي.

### د روغتيا حق

روغتيايي ډاکټرانو[152] د يوناما د بشری حقونو څانګې ته د ښځو د هغو ناروغيو په هکله چې په کم عمر کې جنسي اړيکو او د ماشوم د زيږون څخه راولاړيږي، تشريحات وړاندې کړي دي. په دې ستونزو کې د مهبل څيريدل، د رحم او يا هم د ښځو په تناسلی مجرا کی د غير طبيعی سوری جوړيدل (فيستوله) شاملې دي.[153] د بلخ په ولايت کې ډاکټرانو د يوناما د بشري حقونو څانګې ته ويلي چې هغوي دغه ورستي ستونزه په يوې ۱۴

[151] د يوناما د بشری حقونو څانګې دغه منظورې له ديني پوهانو سره شريکه کړه او له هغو څخه يې وغوښتل چې د شرعي قانون په بنسټ يو قانوني نظر برابر کړي. اکتوبر ۲۰۱۰.

[152] له نسايي ولادي ډاکټرانو سره مرکې، جوزجان ولايت، اپريل ۲۰۱۰.

[153] فيستوله هغه حالت دی چې مهبل، مثانه او/يا د سترې کولمې لاندې برخه د ماشوم د زيږون له کبله صدمه ګوری او بيا وروسته په بشپړ ډول ترميم نه شی او غير طبيعی سوری پاتی کيږی. ځکه په معمول ډول د نجلۍ وجود دومره توان نه لري چې د زيږون د پيښې مقاومت وکړي. که د دغه حالت درملنه پيدا ونه شی، کيدای شی د ټول ژوند لپاره له غير طبيعی لارو څخه د ميتازو او غايطه مواو د بهيدو سبب وګرځي.

کلنې ماشومې نجلۍ کې لیدلې ده چې د نومورې ۵۰ کلن میړه د هغې د روغتیایي درملنې څخه انکار کړی او ویلی یې دي چې د خپلې ښځې د درملنې پر ځای هغه د پیسو سپما ته ترجیح ورکوي، ترڅو بل واده پری وکړي.[154]

په عمومي توګه د پرمختګ په حال هیوادونو کې په کم عمر کې امیدواری د میندو د زیاتې مړینې په مخکښنه لاملونو کې راځي. هغه نجونې چې د ۱۵ کلنۍ څخه وړاندې، کله چې د دوي وجود د زیږون لپاره چمتو نه وي، ماشومان زیږوي د هغو ښځو په پرتله چې ۲۰ کلنۍ وي د زیږون پر مهال یې ۵ ځله د مرګ امکانات زیات دي.[155]

افغانستان د نړۍ په کچه د میندو د مړینې تر ټولو بد ارقام لري.[156] د منیدو د مرګ مړینې کچه د کم عمر کې ودونو، زیاتو امیندواریو او د نورو فکتورونو[157] ترڅنګ د لیک لوست د ټیټې کچې او د پوهاوي د نه شتون سره تړلې دی.[158] د دغو په پایله کې په کال کې نږدې ۲۴۰۰۰ ښځې چې زیاتره یې د ۱۸ کلونو نه کم عمر لري خپل ژوند له لاسه ورکوي. د ۱۸ کلونو څخه کم عمر نجلۍ نوی زیږول شوی ماشوم د خپل ژوند په لومړی کال کې ۶۰ ٪ د مرګ زیات چانس لري. په افغانستان کې د شخړو له امله د ملکی تلفاتو په پرتله (د یوناما د بشري حقونو څانګې په ۲۰۰۹ کې د شخړو له امله د ۲۳۱۲ ملکي تلفاتو شمیر ثبت کړی دی) د میندو د مړینې کچه ۱۰ ځلې لوړه (۲۴۰۰۰، په کال کې[159]) ښودل شوي.

د کم عمر ودونه نه یوازې ماشومې نجلۍ ته زیان رسوي بلکې هغه ماشوم ته هم زیان رسوي چې نومورې یې نړۍ ته راوړي. د وخت نه وړاندې زیږون، د زیږون په مها ل کم وزنه ماشوم او کمزوري فزیکی او رواني وده هغه ډیر پیښیدونکي خصوصیات دي چې ځواني میندې ورسره مخامخ کیږي.

یو شمیر روغتیایي کارکوونکو ښځو د یوناما د بشری حقونو څانګې ته ویلي چې نوې ناوې د نوي زیږول شویو ماشومانو د پاملرنې او ساتلو په برخه کې لږه تجربه لری او یا هم هیڅ تجربه نه لري. هغوي د داسې پیښنو یادونه وکړه چیرې چې ځوانو کم تجربه میندو په تصادفي توګه خپل ماشومان سوځولي او یا هم زندۍ کړې دي.[160]

په ځوانو ناویو باندې له واده څخه وروسته په سمدستی ډول د ماشومانو د زیږون په هکله ټولنیز فشارونه زیات دي.[161] زیاتره ناوې نیستمنې وی او یا هم کم لیک لوست لري، هغوی د کورنۍ د پلان یا کورنیو خدمتونو په هکله کم معلومات لري او یا نه شي کولای د ماشومانو د زیږون تر منځه د واټن په هکله د خپل میړه سره معلومات شریک کړي. د ماشومانو د شمیر او د زیږون ترمنځ د واټن په هکله په ازادانه توګه د پریکړې حق د

154 له ډاکټرانو سره مرکې، بلخ ولایت، اپریل ۲۰۱۰.

155 سارانجا جین او کاتلین کورتز، په ماشومتوب کې د ودنې د منع کولو لپاره نوې لارې، د لاملونو او پروګرامونو یو نړیوال تحلیل، د ښځو په باب د څیړنو نړیوال مرکز، اپریل ۲۰۰۷ (د یو این ایف پی ای او د ابردین د پوهنتون له څیړنو څخه)؛ دغه راز وګورئ: افغانستان د دې یادونه کوی چې د زریزې انکشافي هدفونه نورې پانګونې ته اړتیا لري، مشترکه مطبوعاتي وینا، (د افغانستان حکومت، د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف، یو این ایف پی ای، ۲۲ سپتمر ۲۰۱۰ او د زیږون پر مهال مرګونه: ۱۹۹۰- ۲۰۰۸ نړیوال بانک، د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف او یوان ایف پی ای له خوا، ۲۰۱۰).

156 د میندو د مړینی کچه چی په ۲۰۰۱ کال کی په هرو ۱۰۰۰۰۰ ولادتونو کی ۱۶۰۰ وه، په ۲۰۱۰ کی په هرو ۱۰۰۰۰۰ ولادتونو کی ۱۴۰۰ ته راټیټه شوی، خو دا رقم لا هم د نړۍ تر ټولو بد حالت څرګندوی. وګورئ: افغانستان خبرداری ورکوی چی د زرمی د ځلورم او پنځم هدف ته د رسیدو لپاره لا زیاتی پانګونی ته اړتیا ده، مشترک مطبوعاتی کنفرانس (د افغانستان اسلامی جمهوریت، WHO، UNICEF، UNFPA)، دسپتمبر ۲۲مه کال ۲۰۱۰، او، د میندو د مړینی سیر: ۱۹۹۰ تر ۲۰۰۸ هغه تخمین چی د WHO، UNICEF، UNFPA او نړیوال بانک له خوا شوی دی، ۲۰۱۰ کال.

157 همدا ماخذ. مطبوعاتي بیانیه، د افغانستان د عامې روغتیا د سرپرست وزیر له خوا.

158 همدا ماخذ.

159 وګورئ: د یوناما د بشري حقونو راپور، د ملکی کسانو د ساتنې په اړه کلني راپور ۲۰۰۹.

160 د افغاني ښځو له یوې ډلې سره مرکه، د چمتال ولسوالی، بلخ ولایت، اپریل ۲۰۱۰.

161 د کاري ګروپونو سره مصاحبې، د یوناما د بشري حقونو څانګه مارچ/اپریل ۲۰۱۰.

بشري حقونو د نړيوال قانون لاندې په رسميت پيژندل شوي،[162] او د ښځې له خوا د ماشومانو د بيا پيدا کولو له حق څخه سرغړونه د ښځو په وړاندې د خشونت د رامنځ ته کولو په مانا ده.[163]

په افغانستان کې د ماشومانو د ودونو په هکله په ښه توګه د اطلاعاتو او ارقامو راغونډول ډير مهم دی څو داسې ستراتيژي ګانې تيارې شي چې دا ناوړه دود له منځه يوسي. د اطلاعاتو داسې راغونډول د بشرپالنې د چارو د فعالينو په مرسته ترسره کيدلای شي. د بيلګې په توګه، د خوراک نړيوال سازمان د تغذيوی پروګرامونو له لارې د هغو ميندو سره چې خپلو ماشومانو ته شيدې ورکوی ملاتړ کوي او د هغو ماشومانو د عمر پته لګوی چې دا مرستې تر لاسه کوی څو د ميندو د عمر د معلومولو سره کار نه لري.[164] د ميندو د عمر په هکله د اطلاعاتو راغونډول به د ارزښت لرونکو معلوماتو د برابرولو لپاره امکانات برابر کړي او د نورو هدف وړ پروګرامونو لپاره به د ځواب ويلو امکانات هم برابر کړي.

لکه څنګه چې پورته يادونه وشوه، په افغانستان کې د ښځو د خوځښت د ازادې څخه انکار يا د ښځو په سفر کولو جدی محدوديتونه ډير زيات دي. د دغو په نتيجه کې روغتيايي خدمتونو ته لاس رسي هم له محدوديت سره مخ کيږي.

**د تعليم حق**

> د نيمروز په ولايت کې ۱۰ کلنې شهناز (مستعار نوم) د يوه ۴۵ کلن سړی سره چې د هغې پلار خوښ کړی و د واده کولو په سر خپل مخالفت ښکاره کړ. نوموړې په ښوونځي کې وه او غوښتل يې خپل درسونو ته دوام ورکړي. د نوموړې پلار له دې کار څخه پښيمانه و خو ويل يې چې نوموړې نيستمن دی او د ناروغی د درملنې لپاره دغو پيسو ته ضرورت لري. په دغې دوسيې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د له منځه وړلو ولايتي کميسيون (چې په کې د پوليسو، څارنوالی، محکمې او د ښځو د چارو د رياست غړي شامل دي) خبر شول او هغو کسانو ته يې چې په دې قضيه کې ښکيل و اخطار ورکړ او ويې ويل چې د شهناز ودول غير قانوني کار دی. د دې په ځواب کې د شهناز پلار سړی ته بيرته خپلې پيسې ورکړې او نوموړي د ښځو په وړاندې د خشونت د له منځه وړلو ولايتي کميسيون ته ژمنه ورکړه چې هغه خپله لور ژر واده نه کړي. شهناز خپلو زده کړو ته دوام ورکوي.[165]

له نجونو څخه د تعليم د حق اخيستل يو ناوړه دود او د بشري حقونو د اساسي ضمانتونو څخه سرغړونه ده. د يوې ماشومې نجلی ودول ژورې پايلې پريږدي. د تعليم د حق نه محروميدل د تنکي ودونو يو لامل او ددغه ناوړه دود يو علامت دی. تنکي ودونه نه يوزای د ماشوم ژوند بلکه د ماشوم د ژوند پوټانسيال هم له منځه وړي.

د امنيتي انديښنو سره تړلې دوديزې کړنې په افغانستان کې د نجونو د تعليم په وړاندې تر ټولو لويه ستونزه وړاندې کوي.[166] د يوناما د بشري حقونو څانګه په دې نظر ده چې د يوه هيواد کار د بالقوه نيمايي ځواک يعنی د هغه هيواد د نيمايي قشر د کار څخه ګوښه کول، او همدارنګه د ښځو د تعليم د لاسرسي د حق په شمول به د هغه هيواد په بشپړ اقتصادي او بالقوه انکشاف بدې اغيزې واچوي.

د ټولو افغانانو لپاره چې عمرونه يې د ۱۵ کلونو څخه زيات دي د بالغانو د ليک لوست ارقام ۲۸ ٪ دي، دا ارقام د ښځو لپاره يوازې ۱۲,۶ ٪ دی. هغه نجونې چې ژر ودونه کوي نه شي کولای خپلې زده کړې پای ته ورسوي.[167] ځواني ناوې ستونزمن کارونه پرمخ وړي، د هغوي د خوځښت، د ماشومانو د زيږون او ټولنيزو نورمونو په

---

[162] د CEDAW ۱۶ (۱) ماده "عيني حقونه چې د خپلو ماشومانو د شمير او د دوې په منځ کې د فاصلې په اړه په ازادانه او مسؤولانه ډول پريکړه وکړي او د دې حق ولري چې معلوماتو، تعليمی او هغو وسيلو ته لاس رسي پيدا کړي چې دغه حقونه تامين کړي"، تضمينوي.

[163] د کوماراسوامی راپور، کلتوري رواجونه چې په کورنيو کې له ښځو سره خشونت ښکاره کوي. نقل شوی پراګراف ۹۰.

[164] د خوراک نړيوال پروګرام له خوا يوناما ته برابر شوی معلومات، اکتوبر ۲۰۱۰.

[165] د يوناما د بشري حقونو او د ښځو د رياست له خوا تحقيق شوې پيښه، اپريل ۲۰۱۰.

[166] په ټول هيواد کې له افغاني ښځو او سړو سره د مرکو او مباحثو په اساس، مارچ/اپريل ۲۰۱۰.

[167] وګوری: د افغانستان د بشري پرمختګ راپور ۲۰۰۷.

هکله چې د واده او تعلیم په اړوند نا سازګار لرلید لري، نوې محدودیتونه وضع کوي. [168] فشارونه د یو شمیر زیاتو اړخونو څخه د هغو د کورنیو په شمول چې نه غواړي لوڼې یې له هغو ښځو سره چې واده شوي دي ښوونځي ته ولاړې شي، متوجه دی.

په افغاني ټولنه کې د ښځو په هکله بې اعتنايي او په تنکی عمر کې د هغوي ودونه او د پلرونو له خوا د هغوي ودول د دې پر ځای چې والدین د هغوي تعلیم ته زړه ښه کړي، ترجیح ورکوی خپلې لوڼې په کورونو کې وساتي. [169] هغه نجونې چې د بلوغ عمر ته رسیدلی وی او ددې په خاطر چې د ځورونې او نا امنی څخ بی ساتلې وي، د کورنیو له خوا د ښوونځي پرېښودو ته اړ ایستل کیږي. د ښوونځی او لیک لوست لپاره نا کافي سرچینې، د ښځینه ښوونکو نشتوالی او د حکومت ضد عناصرو له خوا ګواښونه هغه ټول لاملونه دي چې ښوونځیو ته د نجونو د تللو څخه مخنیوي کوي. [170]

**قانون**

**د افغانستان داخلي قانون**

**د افغانستان د اسلامی جمهوریت اساسی قانون**

**درې څلویښتمه ماده**
زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تأمینیږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي.

**دوه پنځوسمه ماده**
دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوی او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي اسانتیاوی د قانون له حکمونو سره سم تامینوي.

**د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون**

**پنځه دیرشمه ماده**
هغه شخص چې ښځه د ښووني، تحصیل، کار، روغتیايي خدمتونو د لاس رسی د حق او په قوانیو کې له نورو درج شویو حقوقو څخه د ګټې اخستنی مانع شي، له احوالو سره سم په قصیر حبس چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

**شپږمه ماده**
د تاوتریخوالی مجنی علیها (زیانمن شوی/قربانی) د لاندې حقوقو لرونکی ده:
۳) په وړیا توګه، بیړنیو روغتیایي خدمتونو ته لاس رسي.

[168] د افغانانو له نظره د ماشوم ازدواج، لاملونه، پایلې او د حل لارې - د راپور دوهمه ضمیمه، د زیږون پرمهال د ښځو په روغتیا د جنسیت پر بنسټ د خشونت اغیزې، میډیکا موندیالی.
[169] په ټول هیواد کې له افغاني ښځو او نارینه وو سره د مرکو او مباحثو په اساس، مارچ/اپریل ۲۰۱۰. ځینو ښځو او نارینه وو چې د یوناما د بشري حقونو څانګې ورسره مرکې کړې دي ویلی دی، چې ډیرې کورنی په نجونو باندې ځکه پانګونه نه کوي، چې له واده وروسته هغوي د بل چا "ملکیت" ګرځي.
[170] دغه خبره په یو شمیر مرکو او مباحثو کې ښکاره شوي. دغه راز داسې سیمې شته چې هلته د نجونو ښوونځي شته، لکه په پنجشیر کې د پریان ولسوالی، په پروان کې د خلزی کلی او د کاپیسا په ولایت کې یو شمیر ولسوالی..

**شرعي قانون**

**د زده کړې حق**

اسلام ښځو ته د زده کړې هغومره حق ورکړی چې نارینه وو ته یې ورکړی. د قرآنکریم لاندېني آیت پر دې ټینګار کوي چې نارینه او ښځې باید د علم د ترلاسه کولو لپاره یو شان زیار و باسي، او دا چې د زده کړې له امله نارینه او ښځینه دواړه مساوي اجر تر لاسه کوي.

.... ووایه (اې محمده!) ایا برابر دی سره هغه کسان چې پوهیږی (او خاوندان د علم دی) او هغه کسان چې نه پوهیږی (جاهلان وی، بلکه برابر نه دی) بیشکه هم دا خبره ده چې پند اخلی خاوندان د خالصو عقلونو.
(سورة الزمر، ۹ ایت).

ورکوی (الله) حکمت (نافع علم سره له عمله) هر چا ته چې اراده وکړي (د ورکولو یی) او هر چا ته چې ورکړ شو حکمت (نافع علم سره له عمله) نو په تحقیق سره ورکړی شو (ده ته) خیر ډیر، او نه اخلی پند مګر خاوندان د عقلونو (صافو چې د وهم او نفسی غوښتنو شوائب پکی نه وی).
(سورة البقره، آیه ۲۶۹).

او (هم داسی) له خلکو څخه هم او (هم داسی له نورو) ژوندیو خوځیدونکو او څارویو څخه هم چې سره مخالف دی رنګونه د هغو هم داسی (لکه دغه اختلافات) بیشکه هم دا خبره ده چې وویریږی له الله څخه له بندګانو د دغه (الله) پوهنده عالمان، بیشکه الله ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه مغفرت کوونکی دی (د خطیاتو).
(سورة فاطر، آیه ۲۸)

رسوالله (ص) فرمایلی دی: "د علم پلټنه هریو (نارینه او ښځینه) مسلمان باندې فرض دی" (ابن ماجه او بیهقي)
د شریعت عالمان اکثره په دې عقیده دي چې د مسلم یا الناس کلمه کله چې د آسمانی کتابونو او لارښوونو په سیاق کې یاده شي، نو مطلب ترې دواړه ښځینه او نارینه دی. نو ځکه ویلای شو چې اسلام ښځو ته په برابر ډول د تعلیم حق خوندي کوي تر څو د خپل دین او په ټولنیزو وجایبو باندې په پوره ډول پوهې شي. اسلام نارینه او ښځې پر دې مکلفوي چې ماشومان په بهترینه توګه او د اسلامي لارښوونو سره سم وروزي. سربیره پر دې، عایشه (رض) چې د رسول الله (ص) له میرمنو څخه یوه وه، په خپله یوه لویه عالمه او فقیهه وه. له هغی (رض) څخه زیات شمیر احادیث روایت شوې دي. او هغه د پیغمبر د پیروانو استاده پاتی شوې ده. د رسول الله (ص) د شخصي ژواندنه په باب کې د هغه پیروانو ته د معلوماتو د ورکولو کې ډیره لویه برخه د هغې له خوا ترسره شوې ده. د هغې له مرستې پرته مسلمانان به له ډیرو معلوماتو څخه بې برخې پاته کیدل. حضرت عایشه رض په یو داسې عمر کې باسواده او د تعلیم خاونده وه چې په هغه عمر کې اکثره نارینه له تعلیم څخه بې برخې وو.
د پیغمبر (ص) په کورنی کې داسې نورې ښځې هم وې لکه حضرت زهرا او حضرت زینب رضی الله عنهما.

په یو بل حدیث کې رسوالله (ص) فرمایی:
ابودرداء (رض) په یو حدیث کې روایت کوي: له رسول الله (ص) څخه مې واورېدل چې و یې ویل: څوک چې په یوه لاره کې سفر کوي چې په هغه کې د علم په لټه ده، الله پاک (ج) هغه ته د جنت د لارې سفر ورپه برخه کوي. پرښتې د هغه کس لپاره خپلې وزرې اوارو‌ي چې د علم په لټه کې وي. د اسمانونو او ځمکې او ان د سمندرونو په ژورو اوبو کې مخلوقات د طالب العلم لپاره د مغفرت غوښتنه کوي. پر عابد باندې د عالم برتري د پوره سپوږمی پر نورو ستورو برتري ده. او علما د انبیای کرام وارثان بلل کیږي. او انبیاء دینار او درهم په میراث نه پرېږدي او د هغوی یوازینی میراث علم دی او څوک چې هغه ترلاسه کړي، نو خیر کثیر ورپه برخه شوې دی.
(له سنن ابوداود څخه ژباړل شوې)

**د روغتیا حق**

که څه هم مونږ نشو کولای یو ځانګړی آیت او حدیث د ښځو د روغتیا لپاره ذکر کړو، خو په قرآن کریم او نبوی

احادیثو کې چې کوم ټینګار پر پاکي او سوتره والی باندې شوی، په دې موضوع پورې اړه نیسي:

پیغمبر (ص) فرمایی: نظافت د ایمان برخه ده. او په یو بل روایت کې راغلی چې نظافت د ایمان نیمایي ده. د اسلام لاربښووني دواړه ښځې او نارینه وو ته متوجه دي، هیڅوک نشي کولای چې ښځې د روغتیا د حق له لاسرسی څخه بې برخی کړي.

**د تعلیم له حق څخه محرومول، او په ماشومتوب کې له ودولو سره د هغه تړاو**

په یوې سروی کې چې په افغانستان کې د ۲۰۰ واده شویو ماشومانو په اړه د ښځو او ماشومانو د حقوقي څېړنې د مؤسسې له خوا ترسره شوې وه، له اکثره واده شویو کوچنیو نجونو څخه چې مرکه ورسره شوې وه، د تعلیم حق ورځني اخیستل شوی و.[171] په کلیوالو سیمو کې بې سوادي، او مکتبونو ته نه لاسرسی، د هیواد او د اسلامي شریعت له قوانینو څخه د معلوماتو ټیټه کچه، او په ماشومتوب د ناوړو او منفي عواقبو په اړه ناکافي معلومات له هغو کلیدي عواملو څخه بلل کیږي چې په ماشومتوب کې ودونه رواجوي. په یاده شوې سروي کې زیاتره میندې او پلرونه (۷۱ سلنه) چې خپل ماشومان یې واده کولو ته اړ ایستلي وو له بې سوادانو څخه وو. د پلرونو بې سوادي په ماشومتوب کې د ودوني ستر لامل بلل کیږي. د هغو ماشومانو نجونو چې په ماشومتوب کې واده شوې وو او تر سروي لاندې نیول شوې وی، ۷۰ سلنه یې بې سوادې وې.[172]

د تعلیم له لارې ښځو ته واک ورکول د ماشومتوب د ودوني د ناوړه دودونو د کمولو لپاره یوه مهمه کړنلاره ده. ننی ماشومې ناوې به حتماً د سبا له بې وزلو میندو څخه وي چې په خپل وار باندې خپلې نجونې بیا په ماشومتوب کې کوژده یا واده ته ورکړي. او هغه میندې چې زده کړه یې کړې وي ډیر احتمال شته چې د نجونو د تعلیم د ارزښت په اړه معلومات ولري او همداراز د روغتیا او تغذیې په اړه لا زیات معلومات ولري چې دا کار په خپل وار د ماشومانو د مړینې کچه راټیټوي.[173]

د نړی تر ټولو بې وزلې هیوادونه په ماشومتوب کې د ودوني تر ټولو د لوړې کچې لرونکي دي. څیړنې دا ښیي چې د ښوونځي د لوړې کچې زده کړه په ماشومتوب کې د واده کولو خطر کموي. هغه نجونې چې اته کاله یا زیات زده کړه وکړي په دوی کې دا احتمال کمیږي چې په کوچنی عمر کې واده وکړي او هغه کسان چې هیڅ یا درې کاله یې تعلیم کړې وي په دوی کې دا احتمال چې په کم عمر کې واده وکړي ډیر زیات دي.[174] تر ۱۶ کلونو پورې اجباري تعلیم په ماشومتوب کې د واده چانس په زیات ډول راکموي.

ددې په نظر کې نیولو سره چې متوسطه یا ثانوي زده کړې په دې موضوع کې ټاکونکي دي چې آیا نجونې د ۱۸ کاله عمر څخه مخکی واده کوي یا نه، نو باید د تعلیم په دغې مرحلې کې د نجونو په ښوونځیو کې د ساتلو لپاره د هڅوني پروسه ګړندی شي. د نړیوال خوراکي پروګرام د بیلګې په ډول نجونو ته د لومړی کلاس څخه نیولې تر نهم ټولګی پورې غوړی ویشي چې کورو ته یې یوسي، دا یو تشویقي شی دی چې نجونې په هغو سیمو کې چې د نجونو د ثبت نام کچه د هلکانو په پرتله تر ٪۲۵ پورې ټیټه ده، دې ته وهڅوي چې ښوونځي پرې نه ږدي.[175]

---

[171] په افغانستان کې د وخت د مخه ودونه، د ښځو او نجونو په اړه د قانوني څیړنو مرکز، ۲۰۰۸، ۱۷۱.

172 پوتنۍ ماخذ.

[173] وګوری، سارانجا جین او کاتلین کورتز، په ماشومتوب کې د ودنې د منع کولو لپاره نوې لارې: د لاملونو او پروګرامونو یو نړیوال تحلیل، د ښځو په باب د څیړنو نړیوال مرکز، اپریل ۲۰۰۷، او د ماشومانو ودونه او قانون، د قوانینو د اصلاحاتو نوښتونه، یونیسف، جنوری ۲۰۰۸.

[174] پوتنۍ ماخذ، په بنګلادیش کې ترسره شوې سروي دا څرکنده کړه چې له ابتدایي څخه پورته زده کړې په دې چې آیا نجونی د ۱۸ څخه په کم عمر کې واده کوي یا نه، یو ستر فاکتور بلل کیږي. ۲۰ مخ وګورئ.

[175] د هغو معلوماتو پر بنسټ چې د نړیوال خوراک پراګرام څخه د ۲۰۱۰ په اکتوبر کې تر لاسه شوې، دغه پروګرام د هڅونې لپاره شا و خوا ۶۵۰۰ زده کونکو ته (چې په ۱۰ او ۱۲ ټولګیو کې زده کړه یې کاوه) او ۴۶۹۰۰ ابتدایی زده کوونکو باندې (چې د ۶-۱ ټولګیو پورې وو) تشویقی غوړی ویشلې دي. او همدارنګه د معلمانو د ټرینینګ پروګرامونو ۲۰۰۰۰ ګډونوالو باندې هم غوړي ویشلې دي.

## ۴. د ناوړه دودونو په وړاندې د دولت غبرګونونه

### ۴. ۱ تر دې دمه د ښځو پر علیه د تاټریخوالی د منع د قانون تطبیق

د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع قانون د دولت له طرفه یو اوچت ګام دی چې د ښځو او نجونو د حقونو د خوندی توب او د ودې ورکولو په لور تر سره شوې دي. نوموړی قانون چې د ۲۰۰۹ کال د آګست په میاشت کې تصویب شوی دی، د دولت لوړې ادارې په دې مکلفوي چې نوموړی قانون په اغیزمنه توګه پلي کړي.

د یوناما د بشری حقونو څانګې د هغو خبرو اترو چې د قانون د پلي کولو څواکونو او عامو وګړو سره یې کړې دي، خبر تر لاسه کړې چې پولیس او د قضائیه قوې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون له شتون څخه آګاه وي. خو بیا هم دوی د دې قانون په اړه د هیواد په کچه ډېر لږ روزنې او لارښوونې تر لاسه کړی او یایې بیخي نه دې تر لاسه کړي. په ځانګړی توګه چیرته چې نوموړی قانون له نورو جنایی قوانینو سره ارتباط نیسي. د هیواد په زیاترو کلیوالو سیمو او یا لرې پرته ولایتونو کې نوموړی قانون یا ناپیژندلې پاتې دي او یا نه پلي کیږ.ي.

د هرات ولایت د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع تر قانون لاندې د عدلي تعقیب تر نورو ولایتونو مخکښ دي. تر نوموړی قانون لاندې اولنی عدلي تعقیب د یوې ښځینه څارنوالي تر مشرتابه لاندې د ۲۰۰۹ کال د آګسټ په میاشت کې پیل شو. د ۲۰۱۰ کال د نومبر تر میاشتې پورې څارنوالانو تر نوموړی قانون لاندې په ۸۸ قضیاو کې اتهامات وړاندې کړي دي.[176] د څارنوالی د رئیس له قوله هغه لومړنی بې میلي چې د اړوندو قضیاوو په تعقیبولو کې موجوده وه، د هغو ظرفیت جوړونوونکو او لارښوونکو تریننګونو په نتیجه کې له منځه ولاړه چې د نړیوالو سازمانونونو او په ځانګړی ډول د آی.ډی.ایل.او د موسسې له خوا برابر شوې وو.[177]

د هیواد په کچه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیوې څانګه[178] چې د لوی څارنوالی په چوکاټ کې فعالیت کوي په رسمي توګه د ۲۰۱۰ کال د مارچ به میاشت کې پرانیستله شوه. نوموړې څانګې د ۲۰۱۰ تر آګسټ پورې ۱۳۲ شکایتونه تر لاسه کړې وو چې زیاتره یې له کابل څخه او همدارنګه له ۱۲ نورو ولایتونو څخه رارسیدلی وو. نوموړې شکایتونو کې د کورني تاوتریخوالی، اجباري یا د کم عمر ودونه، جنسي تیری، او د کورنیو اختلافاتو د اوارولو په موخه نجونې په بدو کې ورکول، سوزول/ له کیمیاوي موادو څخه کار اخیستل شامل وو. د قضایاوو د عدلي تعقیب لا اوس هم روان دی.[179]

څارنوالانو د هغې قضیې په اړه چیرته چې په دایکندي کې یوه ملا پر دوو ماشومو نجونو باندې په زور تیری کړی و، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع له قانون څخه کار واخیست، خو په پایله کې محکومیت د جزاء د قانون له احکامو سره سم ترسره شو. په دې قضیه کې محکمې یو قرباني په څلورو کلونو نظربند حبس محکومه کړه چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع تر قانون لاندې غیر قانوني بریښي.[180]

---

[176] د هغو معلوماتو له مخې چې د یوناما د بشري حقونو څانګې د څارنوالی له دفتر څخه ۲۰۱۰ کال د نومبر په میاشت کې ترلاسه کړی، ۶۶ دعوی ګانې د څارنوالی له لارې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون تر ۲۲ مادې لاندې (چې د ژوبلولو او معلولولو په اړه ده) اقامه شوې دی. او همدارنګه د جزاء د قانون د۴۰۹ مادې لاندې دعواوې اقامه شوې دی. د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د ۳۷ مادې پر بنسټ چې ایجابوي زیانمن شوی کس یا دهغه وکیل یو شکایت واړندې کړي ترڅو د هغه لپاره دعوی اقامه شي، ځینی دعواوې د زیامن شوی کس د شکایت د ترشاکېدلو په نتیجه کې ساقطیږي. یو قتل عمد چې د یو اجباري واده د هڅې په نتیجه کې رامنځته شوی وو، محکومیت پړاو ته ورسید او په پایله کې مجرم ته د ۱۶ کاله بند سزا حکم وشو.

[177] د هرات د څارنوالي د رئیس سره مرکه، نوامبر ۲۰۱۰

[178] نوموړی څانګه ۲۲ تنه کارکوونکي لري او هدف یې دا دی چې د ښځو په وړاندې راپیښیدونکې تاوتریخوالي وڅېړي او تعقیب یې کړي او په کورنیو شخړو کې د منځګړیتوب لارې چارې وهڅوي او نوموړې قضایاوې دې څانګې ته ارجاع کړي، او هم ګټو خواوو تر منځ همغږي رامنځته کړي چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع په برخه کې کار کوي، او دا چې دا یقیني کړي چې د کارونو د پرمخ بیولو لپاره کافي مالي سرچینې موجودې دي. دا معلومات د یوپول د دفتر له خوا د ۲۰۱۰ کا د آګست په میاشت کې برابر شوې وو.

[179] د یوپول له خوا د برابر شویو معلوماتو له مخه، آګست ۲۰۱۰.

[180] د جنسي تیری نوموړې قضیه ویل کیږي چې په دایکندي کې پیښه شوې وه، او د دغې پیښې راپور یوناماته د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې ورکړ شو. د یوناما د بشري حقونو څانګې ټولې قانوني لارې چارې ولټولې، او لا تر اوسه پورې له چارواکو سره په تماس کې دي او اندېښنې یې له اړوندو چارواکو سره شریکوي.

حکومت د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع لپاره یو ملي کمسیون جوړکړی دی.[181] او هڅې رواني دي څو د نوموړی کمیسیون ورته څانګې په ولایاتو کې هم پرانیستلې شي چې ورته دندې او تشکیل ولري. د ۲۰۱۰ د اکتوبر تر آخره پورې په ۲۲ ولایتونو کې ولایتي کمیسیونونو شتون درلود.[182] خو په ځینو سیمو کې امنیتي اندیښني د کمیسیونونو د جوړولو پر وړاندې خنډ جوړوي.

د نوموړې کمیسیون لومړنی تحلیلونه ښیي چې په میاشتنیو غونډو کې د حکومتي استازو غیرحاضري، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون په اړه د محلي چاراواکو د معلوماتو کموالی او د ښځو چارو د ولایتي رئیسانو کمزورې مشرتابه چې د غونډو مشري يې پر غاړه ده، د قضایاوو د ارجاع لپاره د میکانیزم نه شتون او د غړو ترمنځ کمزورې همغږي له هغو ستونزو څخه شمیرل کیږی چې دا کمیسیونونه ورسره لاس او ګریوان دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې باور ده چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون ریښتینی پلي توب دا ایجابوي چې د قانون د پلي کولو کارکوونکو د ظرفیتونو په لوړولو او عامه پوهاوی کار وشی څو مدني ټولنې په دې وتوانیږي چې د قانون له پلي کیدو څخه نظارت وکړي او عامو وګړو ته د قانون په اړوند روزنې برابرې کړي او پوه يې کړي چې کوم کوم عملونه ددې قانون تر حکمونو لاندې جرم بلل کیږي.

## ۴ . ۲ د قانون پلي کول او عدالت ته لاسرسی

د یوناما د بشري حقونو څانګې داسې معلومات ترلاسه کړی چې پولیس او قضائیه قوې زیاتره د قانون په پلي کولو کې په بې طرفه ډول عمل نه کوي. د فوکس ګروپ د مباحثو په جریان کې د یوناما د بشري حقونو څانګې دا اوریدلې چې هغه قوانین چې د ښځو د ژغورنې لپاره دي په پراخه پیمانه له بې پامی سره مخامخ دي او نه تطبیق کیږي. د قانون د پلي کولو افسران زیاتره دودونه تطبیقوي حال دا چې دوی باید په فعاله توګه د هغو مخنیوي وکړي لکه څرنګه چې قانون يې ایجابوي.

کله چې چارواکي قضایا د خپلو شخصي معیارونو او ارزښتونو پر بنسټ، او نه د قانون د حکمونو سره سم فیصله کوي، نو د قانون حاکمیت تر پوښتنې لاندې راځي ځکه چې پر قضائیه قوې باندې د خلکو ویسا کمیږي. که چیری دا قوانین چې هغه عملونه جرم ګڼي چې د ښځو پر سلامتیا او انساني کرامت تیری بلل کیږي، د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع قانون په شمول ، په سمه توګه تطبیق نشي نو د افغاني ښځو پر ژوندانه باندې به ډیرې لرې مثبتې اغیزې ولري.

حکومت مکلف دی چې د اوسنیو موجودو قوانینو د پلي کیدو لپاره اړین ګامونه اوچت کړي، او ډاډ ورکړي چې ښځې د قانون په وړاندې له نارینه و سره برابر حق لري او د برابرې ژغورنې مستحقې دي. دولت همدارنګه یو

[181] د ۲۰۰۵ کال د جون په میاشت کې دولت د ښځو پر علیه د تاوتریخوالي د منع لپاره یو کمیسیون جوړ کړی و، او دا کمیسیون د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون له تصویب څخه وروسته د تاوتریخوالی د له منځه وړلو ملي کمیسیون ته واړول شو. د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کی د وزیرانو شورا دی کمیسیون ته وظیفه ورکړه چی د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی واقعی وڅیړی او تعقیب یی کړی چی په دی خاطر به کمیسیون د ولایاتو په کچه خپلی نماینده ګی جوړی کړی. د نوموړیو کمیسیونونو دندې په لاندې ډول دي: په هیواد کې د تاوتریخوالی د ریښو په اړه څیړنې او تحقیقات؛ د مناسبو مخنیوونکو تدبیرونو په اړه تصمیم نیول؛ د تاوتریخوالی د مخنیوي لپاره د عامه خبراوي د پراګرامونو ډیزاین کول او اجرا کول؛ د حکومتي او غیر حکومتي هغو فعالیتونو همغږي کول چې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره ترسره کیږي؛ هغه احصائیوی معلومات او شمیرې راټولول چې په تاوتریخجنو جرمونو پورې اړوند وي؛ د مقررو او طرز العملونو وړاندیز کول چې د ښځې پر علیه د تاوتریخوالي د منع د قانون د بهترې پلي کېدنې سبب وګرځي؛ او د وزیرانو شورا ته د تاوتریخوالی د راپور د وړاندې کولو په اړه تیاری نیول. د ملي او ولایتي کمیسیونونو غړو جوړښت په لاندې ډول دي: د ښځو چارو وزارت (د رئیس په توګه - چې په ولایتي کمیسیونونو کې بیا د ښځو چارو ریاست د هغه استازیتوب کولای شي)، د کورنیو چارو، د عدلیې، عامې روغتیا، اطلاعاتو او فرهنګ، پوهنې، لوړو زده کړو، کار او ټولنیزو چارو، شهداؤو او معلولیلونو، ارشاد حج او اوقاف وزارتونو (په ولایتي کمیسیونو کې دغه غړیتوب د معینیت په کچه ده)، لوی څارنوالي، او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون.

[182] د ښځو چارو د وزارت او د یوناما د ساحوي دفترونو د برابر شویو معلوماتو له مخې هغه ولایتونه چې ولایتی کمیسیونونه پکې جوړ شوې دي په لاندې ډول دي: کاپیسا، وردګ، بامیان، داکندي، بدخشان، تخار، بغلان، کندوز، بلخ، سمنګان، جوزجان، فاریاب، هرات، فراه، نیمروز، کندهار، هلمند، اروزګان، غزني، ننګرهار، لغمان، او کونړ.

مثبت مکلفیت لري چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي ته غبرګون وښيي او له هغو څخه د ژوند په ټولو ساحو کې مخنيوي وکړي، که څه هم نوموړی تاوتریخوالي د دولت د استازيو له خوا تر سره کېږي يا د عامو وګړو او يا مؤسسو له خوا. د نړيوال قانون تر حکمونو لاندې دولتونه همداراز د شخصي عملونو په اړه مسؤول ګڼل کېږي که دوی په ډېر زيار سره د تاوتريخوالی له هغو عملونو څخه مخنيوي و نه کړي، هغوی ته سزار ور نه کړي او يا يې و نه څېړي چې د بشری حقونو څخه سرغړونې بلل کېږي.[183]

## مثالي قضيې

د يوناما د بشري حقونو څانګې يوه داسې پېښه څېړلې چېرته چې د ننګرهار ولايت د جلال آباد په ښار کې پوليس يوه ۱۷ کلنه ښځه په دې پلمه توقيف کړې وه چې دوی هغه په يوه هوټل کې يوازې موندلې وه. دوی هغه په دې تورنه کړی وه چې ګوندې هغې غوښتل چې د زنا په جرم لاس پورې کړي او په همدې دليل هلته يوازې ليدل شوې وه. د يوناما د بشري حقونو څانګې دا قضيه تعقيب کړه او ويې موندل چې هغه نجلی باندې اجبار شوې و څو له يوه ۱۳ کلن هلک سره واده وکړي، او په کورنۍ کې د ليورونو له خوا ورسره تاوتريخوالی هم شوې و. نوموړې په ماشومتوب کې د ودونې يوه قرباني وه او له هغې څخه د تعليم حق اخيستل شوې و، هغې اجازه نه درلوده چې خپله کورنۍ وګوري او يا د ليورونو کور پرې ږدي. او همداراز په فيزيکي ډول ورباندې تيری شوی و. کله چې نجلی هڅه وکړه چې له دې شان تاوتريخوالی څخه وتښتي نو پوليسو د زنا په تور توقيف کړه.[184]

په ۲۰۰۹ کال کې د خوست د عامې روغتيا رياست د يوناما د بشري حقونو څانګې ته راپور ورکړ چې دوی په شفاخانه کې يوه ۱۷ کلنه نجلی بستري کړې چې د هغې پلار هوډ کړې و چې د هغې ستونې په دې دليل پرې کړي چې له هغه سړی سره يې د ازدواج څخه انکار کړی و چې پلار يې ورته غوره کړی و. ځايي چارواکو هيڅ کوم اقدام و نه کړ او پيښه د يوه کورنۍ اختلاف په حيث له پامه وغورځول شوه.[185]

## له عدالت سره سليقوي چلند

دغه دوه پېښې چې پورته يې يادونه وشوه، څرګندوي چې څرنګه چارواکي کيدای شي د عدالت په پلي کولو کې يوه سليقوي کړنلاره غوره کړي. او زياتره په فعاله توګه په هغو قضاياوو کې ځانونه ښکيل کړي چې داسې انګيرل کيږي چې په کې ښځو ټولنيز آرونه او معيارونه ترپښنو لاندې کړې وي. او د ښځو په وړاندې ترسره شوې تاوتريخوالی له شخصي کورنيو اختلافاتو څخه وشميري او سترګې ترې پټې کړي. خو دوه ګون معيارونه په دا شان پيښو کې بيخي جوت دي.

هغو افغانانو چې د يوناما د بشری حقونو د څانګې د هيواد په کچه په فوکس ګروپ کې برخه اخيستې وه، يادونه کړی وه چې د چارواکو له خوا نه اقدام، يو له هغو لاملونو څه دي چې ناوړه دودونه تلپاتې کوي. دوی همدارنګه وويل چې ډېرې داسې تاوتريخوالی شته چې د ښځو په وړاندې کيږي خو کله هم پوليس او څارنواليو ته د ځينو دلايلو له امله د هغو په اړه راپور نه ورکول کيږي. نوموړی دلايل دا دی: په قضائي سيستم باندې د خلکو له خوا نه اعتماد؛ د کافي روزل شوي پرسونل په شمول د ښځينه پوليس نشتوالی: او هغه ټولنيز بنديزونه چې د جنسي تاوتريخوالي د راپور ورکولو په وړاندې موجود دي؛ او همداراز د قربانيانو ويره چې مکړه عدلي سيستم هم هغوي قربانيان وګرځوي.

د ښځې د موقعيت په اړه در ريښه لرونکو دوديزو باورونو له امله، د يوناما د بشري حقونو څانګې دا ومونده چې په زياترو پيښو کې قضائي چارواکو ددې پرځای چې مجرم ته سزار ورکړي هڅه کړې ده چې ښځينه قرباني ته سزا ورکړي. دا حقيقت څرګندوی چې زيات شمېر ښځينه بنديانې په "اخلاقي جرمونو" محکومې شوې دي. د

---

[183] پايليک ۱۲ وګورئ، د سيډا کميټې عامې سپارښتنې شميره ۱۹ کال ۱۹۹۲. همدارنګه د ملګرو ملتونو عمومي غونډې اعلاميه وګورئ چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د مخنيوي لپاره په ۱۹۹۳ کې صادر شوې وه. A/RES/48/14.
[184] ياده شوې پيښه د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ۲۰۱۰ کال په جنوري کې وڅېړل شوه.
[185] د ۲۰۰۵ کال د مې په مياشت کې د خوست ولايت د عامې روغتيا له رئيس سره په مرکه کې د يوناما د بشري حقونو څانګې ته راپور ورکړ شو.

یوناما د بشري حقونو د څانګې د شمیرو له مخې د ۲۰۱۰ کال د آګست په میاشت کې ۵۶۵ (تر محاکمې لاندې او محکومې شوې) ښځینه بندیانې د اخلاقي جرمونو په تور بندیانې وې.[186]

**د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی د پیښو په وړاندې د دولت په غبرګون کې وروستی بهتروالی**

د یوناما د بشري حقونو څانګې په دې وروستیو کې په حکومتي چارواکو کې د هغوی په هغه غبرګون چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د پیښو پر ضد یې څرګندوي، بهتروالی محسوس کړی دی. لکه څنګه چې وړاندې په دې راپور کې ورته اشاره وشوه، پولیس په ځینو مواردو کې د ښځو ګټې په نظر کې نیولې دي. د بېلګې په ډول، په ۲۰۰۹ کال د خوست په ولایت کې یوه کاکا غوښتل چې خپله کوچنۍ وریره یوه بوډا سړی ته په نکاح ورکړي. د هغې نجلۍ مور کابل ته د پیښې راپور ورکړ او ویې ویل چې نجلۍ ۱۳ کلنه ده او نه ۱۸ کلنه لکه څنګه چې د هغې کاکا یې ادعا کوله. او مور یې وویل چې د نجلۍ کاکا هیڅ ډول حق نه لري چې د هغې لور په زوره میره ته ورکړي. چارواکو په کابل کې د نجلۍ د کاکا د ګرفتاري او کابل ته یې د انتقال امر ورکړ څو ترې تحقیقات وشي.[187] د یوناما د بشري حقونو څانګې بیا معلومات تر لاسه کړل چې موضوع د نجلۍ د پلار او نیکه په واسطه اواره شوې ده او نجلۍ له اجباري واده څخه وژغورله شوه. [188]

دولتي چارواکو په ځینو مواردو کې د هغو کوژده شویو نجونو ملاتړ کړې چې له اجباري ودونو سره مخالفې وې. د ۲۰۰۹ په دسمبر کې په یوه پیښه کې چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا څېړل شوې وه، یوه ۱۲ کلنه نجلۍ او د هغې کورنۍ د هغه څه سره مخالفت وښود چې نجلۍ په دوه کلنۍ کې یوه ۶۰ کلن بوډا ته په نامه شوې وه. د نجلۍ پلار یو زر امریکایي ډالره (1000$) تر لاسه کړې و او توافق یې کړی و چې کله چې نجلۍ لویه شوه پلار به یې زر ډالره نور هم تر لاسه کړي او نجلۍ به د هغه بوډا سړی کورته ولیږي. کله چې لس کاله وروسته هغه بوډا سړی غوښتنه وکړه چې د واده مراسم ترسره شي، نو هلته نجلۍ اعتراض وکړ چې ما کله هم له دغه واده سره موافقه نه وه کړې چې د هغې پر اساس زه د یو اویا کلن بوډا مېینه شم. نو کورنۍ هغه پیسې بېرته بوډا سړی ته مستردې کړې او پولیس او ځارنوالي هغه سړی ته اخطار ورکړ چې له نجلۍ سره په زوره واده و نه کړي.[189]

دا شان پیښې ښایي چې خلکوته دا څرګنده کړي چې حکومت د هغو قوانینو په پلې کولو کې لیوالتیا لري چې د ښځو حقونه خوندي کوي.

**د شخړو د اوارولو دودیز میکانیزمونه**

د مثال په توګه په ختیځه سیمه[190] کې کله کله د څېړنې او تعقیب چارواکې هغه پیښې چې په ناوړه دودونو پورې اړوندې وي ددې پر ځای چې خپله ورباندې اقدام وکړي د شخړو د اوارولو دودیزو میکانیزمونو ته یې ارجاع کوي. په اکثرو افغاني ټولنو کې خلک په پراخه پیمانه پر محلي جرګو او شوراګانو باندې تکیه کوي[191] چې زیاتره یې هغه ناوړه دودونه تلپاتې کوی چې ښځې لا زیاتې قرباني کوي.[192] حتی هغه قضیې چې د رسمي عدلي سیستم له خوا څېړل کېږي او تعقیبېږي، دا احتمال شته چې بېرته د شخړو د اوارولو دودیزو سیستمونو ته راجع شي. د مثال په توګه یوه محکمه ښایي چې یو جنسي تیری کوونکی په حبس محکوم کړي، خو په عین وخت کې

---

[186] د ۷۰ مدعی علیه ښځینه بندیانې چې په ۲۰۰۸ کې د WCLRF له خوا تر سروې لاندې نیول شوې وې، دې نتیجې ته ورسید چې اکثره ښځینه د اخلاقي جرمونو په تور بندیان شوې دي (چې عمده ترین یې زنا او له کور څخه تیښته ده). د ملګرو ملتونو له مخدره توکو او جرمونو سره د مبارزې د دفتر راپور ـ افغانستان: ښځینه بندیانې.

[187] د ۲۰۱۰ کال د اپریل ۵، د خوست د ځارنوالی د دفتر له رئیس سره مرکه.

[188] پیښه د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا وڅېړل شوه.

[189] پیښه د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا وڅېړل شوه.

[190] نوموړی سیمه لاندې ولایتونه رانغاړي: ننګرهار، لغمان، کونر او نورستان.

[191] جرګه یوه پښتو کلیمه ده چې د قومي مشرانو د راټولیدو په معنا ده. او شورا په دري ژبه کې استعمال لري او د مشرانو د غونډې په معنا ده.

[192] لکه څنګه د یوناما د بشري حقونو څانګې او د بشري حقونو د عالي کمشنری د دفتر په راپور (*Silence is Violence*) کې یې یادونه شوې وه.

محلي ميکانيزمونه ښايي دا تصميم هم و نيسي چې په قرباني باندې يو واده تحميل کړي او يا د بد په بدل کې د نجونو د ورکولو د پروګرام وړانديز وکړي.

که څه هم ډېرکم پيښيږي، قومي او ديني مشران چې په دوديزو ميکانيزمونو کې ونډه اخلي کله کله د ښځو او ماشومانو د ژغورلو لپاره تدبيرونه نيسي. د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په مياشت کې د يوناما د بشري حقونو څانګه خبره شوه چې دوه نجونې چې يوه يې پنځه کلنه او بله يې اووه کلنه وه د لغمان د ولايت د مهترلام په ښار کې په بدو کې ورکول شوي وې. ويل کېږي چې د نوموړيو نجونو پلار دوهمه ښځه په دې شرط کړې وه چې خپله مشره لور په بدل کې ورکړي، لوربې چې په دې خبره پوهه شوه، له کوره وتښتيده، او شخړه راپورته شوه . پلار په دې مجبور شو چې د دې بدنامۍ د جبران لپاره خپلې دوه کشرې نجونې د خپلې نوې ښځې پلار ته ورکړي. د اړوندو موسسو اوچاراواکو په شمول د يوناما د بشري حقونو د څانګې د بيا بيا غوښتنې باوجود هم پوليس هيڅ يو اقدام و نه کړ. د کلي مشرانو بيا يوه جرګه جوړه کړه او فيصله يې وکړه چې ماشومان به خپل کور ته ځي او پلار به ۴۰۰۰۰ افغاني (شاو خوا ۹۳۰ امريکايي ډالره) زيانمن شوی سړی ته ورکړي.[193]

افغانستان اوس مهال د يوه قانون مسوده تر کتنې لاندې لري[194] چې د عدليې وزارت له خوا وړاندی شوی دی. د نوموړې مسودې پر اساس د ښځې او د دوديزو ميکانيزمونو تر منځ اړيکې تاکل کېږي او دا هدف تعقيبوی چې دواړه سيستمونه بايد اوړه په اوړه کار وکړي څو عدالت ته لاسرسی او د افغانستان له قوانينو سره - د ښځې پر وړاندی د تاوتريخوالي د منع قانون په ګډون - سازګاري لا پياوړی شي. که چېرې د پليتوب، نظارت او څارنې کافي ميکانيزمونو باندې سنبال شي، دا نوی قانون کولای شی د ناوړه دوديزو کړنو په کچه کې کمښت رامنځته کړي او د ښځو او نجونو حقونو ته وده ورکړي او ويې ژغوري.

## ۵. د ديني مشرانو ونډه

د يوناما د بشري حقونو څانګې وموندله چې قومي او دينی مشران اکثره د ښځو په ګټه کار نه کوي او د هغو اقدامات ښايي چې د ښځو پر ضد ناوړه دوديزې کړنې تلپاتې کړي.

ډېری هغو افغانانو ښځينه او نارينه چې د دې راپور په چمتو کولو کې ورسره مرکې شوې وی، وويل چې د حل لاره به دا وي چې ديني عالمانو ته روزنې او تعليم ورکړل شي[195] څو د هغوی معنوي غږ ځايي ټولنو ته دا پيغام وروروسوي چې د هغوی ناوړه دوديزې کړنې چې له ښځې سره تبعيض څرګندوي، د اسلام له قانون سره په سمون کې نه دي. [196]

د ۲۰۱۰ کال د مى په مياشت کې د هرات ولايت علماو شورا يوه فتوی صادره کړه چې ښځې پرته له محرم (خاوند، پلار، ورور او نورو تاييد شويو محارمو) څخه د سفر له کولو څخه حتی د حج[197] په جريان کې هم منع کوي. نوموړې فتوی همدارنګه امر کړی دی چې هغه ښځې چې له بهرنيو موسسو سره کار کوي دهغوی پلارونه او خاوندان شرعي مکلفيت لري چې هغو له دې کار څخه منع کړي. د علماو د شورا هغه سخت دريځې غږې چې دا شان فتواګانې صادروي، زياتره د دې فتوا ګانو په اړه اړين استدلالونه او شرعي ماخذونه په سمه توګه نه بيانوي. که چېرې د فتواګانو د سرچينو استدلالونو په اړه زياتره سپيناوی وشي نو دا مرسته کوي څو د اسلامي اصولو او دفقه د احکامو په رڼا کې په دې اړه د مباحثې دروازه پرانيستل شي.

---

193 پيښه د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر په مياشتې کې د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا وڅيړل شوه.
194 نړيوال شريکبانې به شمول د يوناما د بشري حقونو څانګې په دې خبرو اترو کې ښکيل دي.
195 ديني عالمان بايد غوره شي او هغوی ته د قرآن کريم او دهغه عصري ترجمې په اړه لا پراخه روزنه او پوهنه ورکړل شي لکه څرنګه چې په مصر او ماليزيا کې کېږي. له پنځه تنو شيعه عالمانو چې د بلخ د علماوو د شورا غړې وي مرکه، اپريل ۲۰۱۰.
196 د مثال په توګه، "ملايان بايد [د دې شان کړنو په وړاندې] په اسلامې ارزښتونو کې روزنه ومومي او په هغو سنبال واوسي څکه چې دوی کولای شي په ټولنو کې د ويښتابه په زياتېدو کې ستر رول ولوبوي". دبلخ ولايت د مدافع وکيل سره مرکه، اپريل ۲۰۱۰. نور نارينه او ښځينه چې مرکه ورسره شوې و، د ديني مشرانو د ونډو په اړه ورته څرګندونې وکړې.
197 افغان ملايان د ښځو پر سفرونو باندې د طالبانو په شان محدوديتونه وضع کوي PAN 26 May 2010.

ډېر داسي عالمان هم شته چې په جرأت سره د ښځو په ګټه خبرې کوي. په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په میاشت کې د جلال آباد په ښار کې د ښځې د نړیوالی ورځ د لمانځلو په خاطر جوړه شوې وه د ننګرهار د علماو له شورا څخه ۱۵ تنه دیني عالمانو په یوه غږ ژمنه وکړه چې سمدلاسه به یې د ناوړه دودیزو کړنو د زیانونو په اړه په خپلو اړوندو جوماتونوکي خلکوته پوهاوی ورکړي.[198] لکه څرنګه چې وړاندې په دې راپور کې یاده شوې، د یوناما د بشري حقونو څانګې همداراز موندلې ده چې په دیني عالمانو کې داسې وتلي عالمان هم شته چې د بدل ودونو، زیات مهر (ولور) د اخیستلو پرضد او هغو په غندلو کې مخکښ رول یې لوبولی دی. او همدارنګه مرسته یې کړې چې ځینې ناوړه دودیزې کړنې له منځه یوسي. د جوزجان د ولایت د فیض آباد له ولسوالی څخه مشران داسي وایي:

"مونږ د کلیو مشران او دیني عالمان هڅه کوو چې د خپلو ولسوالیو خلکو ته د اسلامي قوانینو، د بشري حقونو، د افغانستان او نړیوال قوانینو سره سم، د جمعې د لمونځونو په جریان او د نورو ورته مراسمو په ترڅ کې د ښځو د حقونو په اړه معلومات ورکړو. په اسلامي متونو کې داسې راغلي چې ستاسو په منځ کې هغه ښځه غوره ده چې مهر یې تر ټولو کم وي. دا باید ټولو هغو کورنیو ته یوه لارښوونه وي چې د زیات مهر غوښتونکي دي. دا د پاک خدای کلمه ده."[199]

په افغانستان کې دیني مشران ډېر زیات رول لري، او باید د حکومت او د مدني ټولني له خوا وهڅول شي څو خپله مطالعه په شریعت او بشري حقونو کې لا پراخه کړي. که دیني عالمان د اسلام جامع تفسیر د بشري حقونو او له نړیوالو معیارونو سره سم وکاروي، دوی کولای شي چې د ټولنې په هغه باورونو او برداشتونو کې بدلون راولي چې د ناوړه دود لامل دي.

## ۶. د حکومت ونډه: د اسلام او بشري حقونو په اړه یو ملي ډیالوګ ته وده ورکول

حکومت کولای شي چې د اسلام او بشري حقونو په اړه یو جامع ملي ډیالوګ ته وده ورکړي. د اشان ډیالوګ کولای شي چې د هغو غړونو نفوذ کم کړي چې د هغو حقوقي اصلاحاتو سره مخالف دي چې هدف یې د ښځو د حقونو خوندي کول دي. حکومت کولای شي په دې حقیقت باندې ټینګار وکړي چې کوم حقونه په نړیوال قانون او د هیواد په اساسي قانون کې تصریح شوې دي، د اسلام له جامع لارښوونې سره په مطابقت کې دي. دا هم ممکنه ده چې د دودیزو کړنو فرهنګي تنوع وساتل شي، اسلامي لارښوونې رعایت شي، او په عین وخت کې ددې ډاډ پیدا شي چې د ښځو بنسټیز بشري حقونه خوندي شي.[200]

د اساسي قانون ۳ مې او ۱۳۰ مې مادې[201] چې اساسي قانون له اسلام دین سره تړي، کېدای شي په داسې توګه وکارول شي چې هغه حقونه چې په دې قانون کې تضمین شوې دي خوندي شي. داسې یو تفسیر چې هدف یې د اسلامي قوانینو او د بشري حقونو نړیوال قانون همغږی وي، کېدای شي نړیوالو معیارونوته د لا زیاتې پابندي تضمین وکړي. لکه څرنګه چې په دې راپور کې اشاره ورته وشوه د قانون دواړه ساحې د یو بل بشپړونکې دي او کولای شي په دوه اړخیزه توګه پلي شي. د یوناما د بشري حقونو څانګې دا شان تدبیرونه د ناوړو دودونو په له منځه وړلو کې حیاتي بولي.

[198] د افغانستان ټایمز د مارچ ۲۰۱۰ په ۶ مه ګڼه کې وګورئ: *Ulama vow to raise awareness on women's rights*.

[199] د جوزجان د ولایت له قومي او دیني مشرانو سره مرکه، اپریل ۲۰۱۰.

[200] د مثال په توګه، ترکیه خپل مدني قانون تعدیل کړی او د تعدیل شوی قانون پربنسټ، پر ښځو باندې د سړو برتري له منځه تللی او د ازدواج په چارو کې ښځه هم د څه ویلو حق لري. دا کار په کورنۍ کې د ښځو او نارینه وو مساوات ډاډمن کوي.

[201] ۳ ماده وایي: " په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي. او ۱۳۰ ماده وایي: که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفی فقهې د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمین کړي."

## ۷. د نړیوالی ټولنی غبرګون

د هغو دوه اړخیزو پروګرامونو برسیره چې نړیوالو ډونرانو سره طرح شوي دي، د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان (NAPAW 2008-2018) د حکومت د هغه لرلید او د پالیسي چوکاټ څرګندوی دي چې غواړي ښځو ته صلاحیت ورکړي او د هغوی په وړاندې موجوده تبعیض له منځه یوسي. دا د حکومت لپاره تر ټولو عمده وسیله ده چې د هغی له لاری کولای شي د ښځو او نجونو هغه حقونه چې په اساسي قانون، د پراختیا په ملي ستراتیژي او نورو ملي او نړیوالو پالیسیو کې تضمین شوی، خوندي کړي.[202] نړیوال ډونران د افغانستان حکومت سره د پالیسي د چوکاټ په تطبیق کې مرسته کوي.

د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان داسي هدفونه رانغاړي چې دهغو له ډلې څخه لاندې یادولای شو: ناوړه دودونه جرم ګڼل او تر عدلي تعقیب لاندې نیولو په شمول، اجباري او په ماشومتوب کې ودونه؛ د بشري حقونو او دهغو بشري حقونو په اړه چې اسلام یې تضمین کړی، په ځانګړی توګه د ښځو او نجونو د حقونو په اړه د معلوماتو او عامه پوهاوی زیاتول؛ د ښځو د حقونو لپاره اوږدمهاله عمومي کمپاینونو تطبیق چې دواړه ښځې او نارینه په نظر کې نیسي څو په ټولنه کی د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی قبلولو کچه راټیټه شي؛ د ښځې د بیسوادی د کچې کمول، او په ښوونځیو کې د نجونو د داخلیدو او پاته کېدو د کچې لوړول.[203]

د ۲۰۱۰ کال په جولای کې د کابل د کنفرانس په ترڅ کې حکومت او د هغه نړیوالو شریکانو ژمنه وکړه څو د ښځو لپاره د عمل ملي پلان هدفونو ته لومړیتوب ورکړي او داسي یوه ستراتیژي رامنځته کړي چې د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون تطبیق کړي، چې په هغه ستراتیژی کې قربانیانوته د خدمتونو د برابرولو لپاره مالي سرچینې برابرول هم شامل و.[204]

د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې باور ده چې د افغان حکومت او نړیوالو مرسته کوونکو هیواونو تر منځ دا "قرارداد" چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو حقونه خوندي کړي او وده ورکړي، لکه څرنګه چې د کابل د کنفرانس په وروستنی اعلامیه کې[205] راغلی دی، داسي یوه بې سارې موقع ده چې د هغې په مرسته کولای شو نړیوالې سرچینې د ناوړه دود ونو د له منځه وړلو لپاره افغانستان ته را جذب کړو. نوموړې کړنې د هغو ننګونو چې د افغانستان د ښځو لپاره د عمل په ملي پلان کې رانغښتل شوي، اصلی لامل بلل شوی دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه له نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه کوی چې دغه ژمنی ته لومړیتوب ورکړی او تمویل یې کړی.

### ۷. ۱ د ښځو د بشري حقونو په خوندي کولو او وده ورکولو کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې ونډه

د یوناما د صلاحیت[206] سره سم، د یوناما د بشري حقونو څانګه د هغو هڅو ملاتړ کوي چې موخه یې د افغان ښځو او نجونو د حقونو خوندي کول او وده ورکول وي. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی پر ضد تبلیغ کول او

---

[202] د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان وګورئ:
[http://afghanistan.unifem.org/media/pubs/08/NAPWA_EN.php]

[203] پورتنی ماخذ.

[204] د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ کې د کابل د کنفرانس په وروستی اعلامیه کې افغان حکومت افغان هیوادوالو ته بیا ژمنه کوي او د نړیوال ټولنه افغان حکومت ته.
[http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/Kabul%20Conference%20Communique.pdf]

[205] پورتنی ماخذ.

[206] لکه څنګه چې د امنیت د شورا په (۲۰۱۰) ۱۹۱۷ شمیر پرېکړه کې راغلی دي. د ماموریت صلاحیت په کلنی اساس باندې بیا نوی کیږي.

راپور ورکول زمونږ د لومړیتوبونو څخه دي. د یوناما د بشري حقونو کارکونکي د هیواد په ټولو برخو کې په ساحوي او ولایتي دفترونو کې د ښځو د بشری حقونو څخه د سرغړونو په اړه څارنه کوي او په منظمه توګه راپور ورکوي. ټولې اندیښنې له اړوندو دولتي چارواکو سره شریک کېږي او انفرادي پېښو څخه په دوامداره توګه څارنه کېږي څو د قربانیانو کرامت او مصؤونیت خوندي شي او وده ومومي.

د ملګرو ملتونو له نورو شریکانو، ځایي ښځینه ټولنې، او د بشري حقونو له سازمانونو سره د یوناما دبشري حقونو څانګه د افغاني ښځو د حقونو په اړه تبلیغ او ورڅخه ملاتړ کوي چې په هغه کې د قانونی اصلاحاتو هغه پروسې شاملې دی چې د ښځو پر حقونو باندې اغیزه کوي. او همدارنګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی پېښو په اړه کارکول او د سیاسي او تصمیم نیولو په چارو کې د ښځو ونډې ته وده ورکول دي.

د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالی د منع د قانون د تطبیق د هڅولو په خاطر د یوناما د بشري حقونو څانګې لاندې فعالیتونه په پام کې نیولی دي: پر چارواکو، او قومي او دیني مشرانو ترمنځ په پراخه پیمانه د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د قانون توزیع کول؛ ورکشاپونه او د قانون د پلې کولو چارواکو، دیني او قومی مشرانو سره د اسلام او بشري حقونو په اړه مباحثې؛ د ښځو د حقونو او د هغو عملونو په اړه چې د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع تر قانون لاندې جرم ګڼل کېږي د عامو افغانو د پوهاوي لپاره راډیویي پروګرامونو خپرول. د یوناما د بشري حقونو څانګه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د له منځه وړلو لپاره په ټول هیواد کې د ولایتي کمیسیونونو په جوړلو کې ملاتړ او اسانتیاوې برابروي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه د ټولو بدلونونو د دوامدارې څارنې او راپور ورکونې پر اهمیت ټینګار کوي، د هغو بدلونونو په شمول چې د اوسنې سولې پروسې، او مجدد ادغام سره تړاو لري. څو دا ډاډمن کړو چې د ښځو حقونه د پالیسي جوړوونکو په اجنداو کې مرکزي ځای لري. د دې لپاره چې ټول هغه ناوړه دودونه چې په دې راپور کې اشاره ورته شوې ده له منځه لاړ شي، د یوناما د بشري حقونو څانګه په حکومت باندې غږ کوي چې د نړیوال شریکانو، دیني مشرانو او مدني ټولنې په ملاتړ د ښځو پر علیه د تاوتریخوالی د منع د قانون د پلې کولو لپاره لا زیات اقدامات وکړي.

## ۸. سپارښتنې

**د افغانستان اسلامی حکومت ته**

- په لوړه کچه، د جمهور رئیس په شمول، باید په ښکاره او دوامداره توګه تأکید وشی چی د ښځو د حقوقو پرمختګ او ساتنه په ټول افغانستان کی د سولی، بیا پیوستون او پخلاینی یوه نه بیلیدونکی برخه او د هیواد د سیاسی، اقتصادی او امنیتی ستراتیژیو مرکزی ستن ده.
- د هغو ناوړه دودونو عدلی تعقیب او څارنی په شمول چی د قانون له مخی د سزا وړ ګڼل شوی، د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د له منځه وړلو د قانون په کافی اندازه تطبیق؛ د زیانمنو شوو وګړو لپاره د خدماتو او د ښځو پر وړاندی د تاو تریخوالی د مخنیوی عالی کمیسیون پیاوړی کول.
- د افغانستان د ښځو لپاره د ملی کاری پلان د تطبیق تسریع کول، په ځانګړی توګه د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون لپاره یوی ملی ستراتیژی ته وده ورکول او عملی کول.
- جمهور رئیس سم له واره کولای شی چی فرمان صادر کړی چی هغه ښځی او نجونی چی "له کور څخه د تیښتی" په جرم بندیانی شوی دی خوشی کړی چی د افغانی قوانینو له مخی جرم نه دی (معمولاً هغه ښځی چی له کوره وتښتی د زنا په نیت لرلو متهمی کیږی).
- جمهور رئیس کولای شی په ملی کچه د مباحثو یوه لړی پیل کړی چی د شرعی قانون او د افغانستان د بشری حقونو نړیوالو مسئولیتونو جامع تفسیر او تعبیر وړاندی کړی.

## د عدلیې وزارت

- د داخله وزارت په مرسته دې ډاډ ورکړي چې پولیس او څارنوالان د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون، د هغه ناوړه دودونو په هکله چې د قانون له مخې د سزا وړ ګڼل شوي د ټولو شکایاتو د درج کولو، او د مؤثرې پلټنې او عدلي تعقیب له لارې، تطبیق کړي.
- د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي لپاره عالي کمیسیون سره یو ځای د قانون تطبیق کوونکو ټولو مأمورینو ته د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون د تطبیق په برخه کې، د اجباري او د ماشومانو ودونو او د شخړو د حل په مقصد په بدو کې د انجونو د ورکولو د تشخیص، پلټنو او عدلي تعقیب په شمول، د ظرفیت د لوړولو په خاطر روزنیز پروګرامونه برابر کړي.
- د تاو تریخوالی هغو ښکار شوو وګړو ته دې حقوقي مرستې برابرې کړي چې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون له مخې خپل شکایتونه درج کوي.
- سپارښتنه دې وکړي چې ولسي جرګه دې د جزاء د قانون ۳۹۸ ماده، چې د ناموس په نامه وژنو سزا ته تخفیف ورکوي، بیرته وګرځوي.
- د سترې محکمې او ولسي جرګې سره دې د واده اجباري راجستر کول په نظر کې ونیسي چې خاوند او میرمن څخه غواړي چې باید د یوې ثبت کوونکې مرجعې حضور ته د واده لپاره حاضر شي.
- ولسي جرګې ته دې سپارښتنه وکړي چې د نارینه او ښځو دواړو لپاره د واده قانوني سن تعدیل او حد اقل ۱۸ کاله یې وټاکي چې د بشر د حقونو د برابرئ د نړیوال ستاندارد ضمانت کوي.
- د سترې محکمې او د لوی څارنوالی سره دې د هغو قوانینو بیا کتنه په نظر کې ونیسي چې د ښځو حقوق متأثره کوي تر څو چې د دې قوانینو مطابقت د ملي او نړیوالو ستاندردونو سره ډاډمن کړای شي. په هر ډول بیا کتنه کې دې د افغانستان د مدني ټولنې برخه اخیستنه ډاډمنه کړي. د داسې بیا کتنو څخه وروسته دې د هغو قوانینو تعدیل یا بیرته ګرځول وغواړي چې د بشري حقونو د ډاډمنولو سره مطابقت نه کوي.
- د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون بیا کتنه او د هغې د تطبیق د وړتیا ارزونه دې پیل کړي تر څو د ممکنه تعدیلونو ځای تشخیص کړای شي. د بیلګې په توګه، د ۳۹ مادې تعدیل ته دې پاملرنه وکړي چې مشخص کوي چې عدلي تعقیب د متضرره شوي شخص د شکایت پر اساس پیل کیږي، په داسې حال کې چې باید څارنوال ته هم اجازه ورکړل شي چې یوه قضیه پیل کړای شي.
- ډاډ دې ورکړي چې هغه قانون چې د رسمي عدلي سیستم او د شخړو د حل غیر رسمي میکانیزمونو (لکه جرګه او شورا) تر منځ د اړیکو مشخص کولو لپاره وړاندې شوي دي، د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون په شمول د ملي قوانینو سره مطابقت ولري او دودیز میکانیزمونه د بشري حقونو څخه سرغړونې ته پرې نه ږدي.

## ستره محکمه او لویه څارنوالی

- ټولو محاکمو او څارنوالیو ته دې هدایات صادر کړي چې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون تطبیق کړي او ورسره دې د دې قانون څخه د استفادې په هکله، د جرایمو د نورو قوانینو سره د دې قانون د اړیکو په شمول، مشخصې لارښونې وکړي.
- د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې په نظر کې نیولو سره دې د "اخلاقي جرایمو" تر نامه لاندې د ښځو نیول، عدلي تعقیب او سزا ورکولو قانوني بنسټ ته بیا کتنه وکړي. د سترې محکمې عالي شورا باید "له کور څخه تیښتې" د "جرم" په هکله خپله قضایي فیصله تجدید کړي تر څو چې دا فیصله د اساسي قانون د تضمیناتو، ملي قوانینو او شریعت او د دولت د بشري حقونو د نړیوالو مسئولیتونو سره برابره شي.

## د ښځو د چارو وزارت

- ښځو ته دې مشخصې مرستې ورسوي چې د پولیس او څارنوالیو سره د ناوړه دودونو په هکله خپل شکایتونه درج کړي.

- د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالی د مخنیوی ملي او ولایتي کمیسیونو ته دی کافي مرستی ورسوی؛ په ټولو ولایاتو کی دی ولایتي کمیسیونونه جوړ کړی او د هغوی په مؤثره توګه فعالیت لپاره دی د ټریننګونو برابرولو په شمول لازم تدابیر ونیسی.
- د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون په هکله د پوهاوی زیاتولو په خاطر دی په ملی کچه د ښځو او نارینه و سره کمپاینونه په لار واچوی تر څو چی خلک د ښځو پر وړاندی تاو تریخوالی او د ښځو د حقونو په برخه کی حساس او ویښ شی او په دی کی دی کلیوالو سیمو ته ځانګړی توجه وکړی.
- د عامی روغتیا او معارف وزارتونو سره یو ځای دی د سرپناه ، روانی – ټولنیز حمایت، طبی درملنی او تعلیم ته لاسرسی د برابرولو له لاری هغو ښځو او انجونو ته مرستی برابری کړی چی د ناوړه دودونو له کبله زیانمنی شوی دی.

**د کورنیو چارو وزارت**

- د ښځینه پولیسو د جذبولو په شمول دی په پولیسو کی د کورنیو د ستونزو په وړاندی د غبرګون واحد پیاوړی کړی.

**د حج او اوقافو وزارت**

- ملایانو، امامانو او دینی ښوونکو ته دی د ښځو د حقوقو او د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون په هکله د پوهاوی د زیاتولو په موخه روزنیز پروګرامونه جوړ او تطبیق کړی.
- د شرعی قانون پر بنیاد دی داسی مواد ترتیب او وړاندی کړی چی د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون تکمیل کړی او ملاتړ یی وکړی.

**د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت**

- پر کلیوالی ټولنو د ځانګړی تمرکز سره دی د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون، د ښځو پر وړاندی تاو تریخوالی او د هغی د نتایجو په هکله د عامه پوهاوی د زیاتولو په موخه راډیویی او ټلویزیونی پروګرامونه تولید او خپاره کړی.

**د عامی روغتیا وزارت**

- د هغو ښځو او انجونو لپاره دی چی د ښځو پر وړاندی تاو تریخوالی څخه زیانمن شوی ځانګړی پروګرامونه او وړیا علاج برابر کړی.
- د میندو او ماشومانو پر مړینه باندی د ماشومانو (د کم عمر انجونو) د ودولو د اثر په برخه کی دی معلومات راغونډ او تحلیل کړی.

**د معارف او لوړو زده کړو وزارتونه**

- د هلکانو او انجونو ښوونځیو لپاره دی داسی نصاب او مواد جوړ او ترتیب کړی چی د ماشومانو ودولو په شان د ناوړه دودونو قانونی منع کولو په شمول، د ښځو پر وړاندی تاو تریخوالی په ګوته کوی.
- کورنیو سره د مادی مرستو کولو په شمول په ښونځیو کی د انجونو د ساتلو پروګرامونه پیاوړی کړی.

**د مالیې وزارت**

- د ښځو چارو، حج او اوقافو، عدلیې، عامې روغتیا، اطلاعاتو او فرهنګ، معارف او لوړو زده کړو وزارتونو ته دې په کافي اندازه مالي امکانات برابر کړي تر څو چې دوی وکړای شي چې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون له مخې خپل مسئولیتونه سر ته ورسولای شي.

**دیني مشرانو ته**

- د مربوطه وزارتونو سره یوځای (لکه د ښځو چارو او د حج او اوقافو وزارت) دې د ملایانو، امامانو او دیني ښوونکو لپاره د ښځو د حقوقو او د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون په هکله روزنیز پروګرامونه جوړ کړي.
- د شرعي قانون پر بنیاد دې داسې مواد ترتیب او وړاندې کړي چې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون تکمیل کړي او ملاتړ یې وکړي.
- د ښځو چارو وزارت سره یوځای دې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون، د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي او دهغې پایلو په هکله د پوهاوی زیاتولو ملي کمپاین کې مرسته وکړي او په دې کې دې کلیوالو سیمو ته ځانګړې توجه وکړي.
- د ناوړه دودونو په هکله دې خبرې وکړي چې د اسلامي تعلیماتو او اصولو سره مطابقت نه لري او د شریعت ماهرینو تر منځ دې پر اسلام او د ښځو پر حقوقو بحثونه په لار واچوي.
- جمهور رئیس سره دې مرسته وکړي چې په ملي کچه پر اسلام او د بشر حقونو د مباحثو یوه لړۍ پیل کړي.
- پر ستره محکمه دې غږ وکړي چې د هغو ښځو د نیولو، عدلي تعقیب او جزا ورکولو قانوني بنیاد ته بیا کتنه وکړي چې "له کور څخه په تیښتې" تورنې وي، او همدا شان د هغه د سترې محکمې د عالي شورا مصوبه بیا نوې کړي چې "له کور څخه تیښتې" د "جرم" په هکله دی.

**مدني ټولنې (د بشري حقونو او ښځو سازمانونه، او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون) ته**

- د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون تطبیق دې تشویق کړي، او د عدلي تعقیب په شمول دې د حکومتي ادارو له خوا د دې قانون د تطبیق د څرنګوالي کتنه او څارنه وکړي او په هکله دې یې په عامه کچه رپورټ ورکړي.
- ښځو ته دې مشخصې مرستې ورسوي چې د پولیس او څارنوالیو سره د ناوړه دودونو په هکله خپل شکایتونه درج کړي.
- د ټولنیزو رسنیو، مشرانو او شورا ګانو سره یوځای دې د جوماتونو، د حج او اوقافو وزارت، او د ښځو چارو وزارت له لارې دیني مشرانو او د ټولنو رهبرانو ته د ښځو د حقوقو، د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي، او ناوړه دودونو په هکله روزنیز پروګرامونه عملي کړي.
- په هره حکومتي پروسه کې چې هدف یې د قوانینو بیا کتنه وي او په هغې کې د ښځو پر حقوقو اثر غورځي، د مدني ټولنې فعاله برخه اخیستنه دې ډاډمنه کړي.
- حکومت دې تشویق کړي چې د جزاء د قانون ۳۹۸ ماده بیرته وګرځوي چې د ناموس په نامه وژنې په صورت کې د جرم حکم له منځه وړي.
- حکومت دې تشویق کړي چې ټولې هغه ښځې خوشې کړي چې "له کور څخه تیښتې" تر عنوان لاندې نیول شوې دي، او هغه قضایي فیصله دې نوې کړي چې "له کور څخه تیښته"، "جرم " بولي.

**نړیوالو مرستندویو ته**

- د چاراوکو د روزنې، په ملي کچه د عامه پوهاوي کمپاینونو، او د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو ولایتي کمیسیونو سره مرستو په شمول دې د حکومت هغو ابتکارونو ملاتړ لا زیات کړي چې موخه یې د ښځو پر علیه د تاو تریخوالي د منع قانون تطبیق دی.

- د افغانستان د ښځو لپاره د کاري پلان د تطبیق په برخه کې دې د حکومت ملاتړ وکړي، په ځانګړې توګه د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون د تطبیق لپاره د ملي ستراتیژۍ د ودې او عملي کولو په برخه کې.
- د ولایاتو څارنوالیو سره د تخنیکي مرستو پروګرامونو ته دې وسعت ورکړي، په ځانګړې توګه د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون د تطبیق په موخه.
- د ماشومانو ودولو او نورو ناوړه دودونو د له منځه وړلو په موخه دې د حکومت او مدني ټولنې ابتکارونو ته مشخصې مرستې برابرې کړي.
- د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون له مخې د ناوړه دودونو د غیر قانوني والي په هکله دې د عامه پوهاوي پراخه کمپاینونو سره مرستې وکړي.
- د ښځو د حقوقو او د ښځو پر علیه د تاو تریخوالی د منع قانون په هکله د نارینه و د پوهاوي د زیاتولو لپاره پروګرامونو سره دې مرستې وکړي.
- ملایانو او دیني ښوونکو لپاره پر شریعت، بشري حقونو او ناوړه دودونو له منځه وړلو باندې دې د حکومت او مدني ټولنې تعلیمي پروګرامونو حمایت وکړي.
- هغو پروګرامونو ته دې وسعت ورکړي چې له کورنیو سره مادي مرستې کوي چې انجونې یې په ښوونځیو کې پاتې شي.
- هغو پناه ځایونو سره دې مرستې زیاتې کړي چې د تاو تریخوالی ښځینه مصدومینو ته پناه ورکوي. ډاډمنه دې کړي چې د ټولو پناه ځایونو ښه مدیریت کیږي او د هغو ښځو د حیثیت د خوندیتوب تضمین کوي چې ورسره مرسته شوې ده.
- پر جمهور رئیس دې غږ وکړي چې ټولې هغه ښځینه بندیانې (له محاکمې څخه مخکې او یا مجرمې ګڼل شوې) خوشې کړي چې "له کور څخه تیښتې" د ارتکاب په تور نیول شوې دي.
- پر حکومت دې غږ وکړي (ټولې حکومتي اداري) چې د هغو ملي قوانینو بیا کتنه وکړي چې د ښځو حقوق متأثره کوي تر څو د بشري حقونو د ملي او نړیوالو ضمانتونو سره یې مطابقت ډاډمن کړي.

## لومړی ضمیمه

**نړیوال حقوقي معیارونه**

**<u>جبري ودونه</u>**

**د بشري حقونو نړیواله اعلامیه**

**۱۶ ماده**

۱- هر بالغ نر او ښځه حق لري له هر ډول نژادي، قومي، تابعیتي او یا مذهبی محدودیت څخه پرته یو له بل سره واده وکړي او خپله کورنی جوړه کړي. د ازدواجي ژوند په ټوله موده او د هغه د انحلال په وخت کې ښځه او میره د واده په اړوندو چارو او د هغه په انحلال کې د مساوي حقونو لرونکې دي.

۲- واده باید د ښځې او نر په مکمل رضایت سره په آزادانه توګه تر سره شي.

**د مدنی او سیاسی حقونو نړیوال کنوانسیون**

**۲۳ ماده**

۲- د ښځو او نارینه و لپاره کله چې د واده عمر ته رسیږي د واده کولو او کورنی جوړولو حق په رسمیت پیژندل کیږي.

۳- هیڅ واده د دواړو خواوو له آزادانه او کامل رضایت پرته نه شی ترل کیدای

**د اقتصادی، ټولنیزو او کلتوری حقونو نړیوال میثاق**

**۱۰ ماده**

۱- واده باید د دواړو خواوو په آزادانه رضایت سره چې قصد یې لري واقع شی.

**د ښځو پر وړاندې د ټولو شکلونو د توپیر د له منځه وړلو کنوانسیون**

**۱۶- ماده**

۱- د دغه تړون ژمن هیوادونه ټول هغه تدبیرونه نیسی تر څو د واده په ټولو موضوع ګانو پوري تړلي او کورنی اړیکو کې د ښځو په وړاندې توپیر پاي ته ورسوي په ځانګړي ډول د ښځې او نارینه د برابری پر بنسټ.

الف) په واده کې عین برابر حق.

ب) په ازاداه توګه د ژوند د شریک د انتخابولو برابر حق او د بشپړ او ازاد تمایل پر بنسټ واده کول.

**<u>د ماشوم واده کول</u>**

**د ماشوم د حقونو کنوانسیون.**

**۱ ماده:**

ماشوم هر هغه انسان دی چې تر اتلسو کلونو ټیټ سن ولري مګر دا چې د ماشومانو د قانون پر بنسټ ژر بلوغ ته ورسیږي.

**۳ ماده**

۱- د ماشومانو په اړه ټول هغه اقدامات چې د عامه او یا د سوکالی د خصوصی موسسو ، د قانونی محکمو، د اداري چاراواکو او یا هم د تقنیني ارګانونو له خوا وي د ماشوم لوړي ګټې باید تر هر څه د مخه په پام کې ونیسی.

**۱۹ ماده**

۱- غړي هیوادونه باید ټول قانونی، اداري، ټولنیز او تعلیمي تدبیرونه تر لاس لاندي ونیسی تر څو ماشوم د هر ډول جسمی او ذهني تاو تریخوالي، ناوړه ګټې اخیستنی، ټپی کیدني، غفلت او د بې پروایی سلوک، ناوړه چلند او یا هم زښبناک (استثمار) چې په کې جنسي ناوړه ګټه اخیستنه شامله ده، څخه وساتی په داسي حال کې چې کله هغه د مور او پلار او یا یو د دواړو څخه، یا د قانوني سرپرست او یا هم د کوم بل شخص تر پاملرنې لاندې وي.

**د ښځو په وړاندي د توپیر د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون**

**۱۶- ماده**

۲- د یو ماشوم کوژده او واده په هیڅ ډول قانونی اعتبار نه لري او ټول لازم اقدامات د قانوني تدبیرونو په شمول باید ونیول شي تر څو چې د واده لپاره لږ تر لږه عمر وټاکل شي او د وادونو ثبت په یوه رسمی راجستر کې جبري وي.

**<u>د شخړو د حل لپاره د نجونو ورکول</u>**

**د ښځو په وړاندي د توپیر د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون**

**۶- ماده**

غړي هیوادونه مکلف دي چې د قانون جوړونی په شمول هغه ټول لازم تدبیرونه ونیسی تر څو د ښځو د قاچاق د ټولو ډولونو او د فحشا په خاطر د هغوی د ګټې اخستنی څخه مخنیوی وکړي.

**د ماشوم د حقونو کنوانسیون**

**۱۹ ماده**

۱- غړي هیوادونه باید ټول قانونی، اداري، ټولنیزاو تعلیمي تدبیرونه تر لاس لاندي ونیسی تر څو ماشوم د هر ډول جسمی او ذهني تاو تریخوالي ، ناوړه ګټې اخیستنی، ټپی کیدني ، غفلت او دبې پروایی سلوک ، ناوړه چلند او یا هم زښبناک (استثمار) چې په کې جنسي ناوړه ګټه اخیستنه شامله ده، څخه وساتی، په داسي حال کې چې کله هغه د مور او پلار اویا یو د دواړو نه، یا د قانوني سرپرست او یا هم د کوم بل شخص تر پاملرنې لاندې وي.

**۳۴ ماده**

غړي هیوادونه مکلف دي چې د ماشوم په وړاندې د هر ډول جنسي استثمار او تیري مخه ونیسی، د همدي کبله غړي هیوادونه دی په ځانګړي ډول ټول ملي ، دوه اړخیز او څو اړخیز اقدامات تر لاس لاندي ونیسي تر څو د لاندنیو پیښو د رامنځته کیدلو څخه مخنیوي وکړي:

الف) ماشوم دې ته هڅول او ور باندې زور اچول چې په هر ډول غیر قانونی جنسي فعالیت کې ګډون وکړي.

ب) د فحاشی لپاره د ماشومانو استثمار او په نورو غیر قانونی جنسی فعالیتونو کې د هغوي کارول .

**۳۵ ماده**
غړي دولتونه باید ملي، دوه اړخیزه او څو اړخیز اقدامات تر لاس لاندي ونیسی څو چي په هره موخه اوبڼه د ماشومانو د تښتونې، پلورنې او قاچاق مخنیوي وکړي.

**۳۶ ماده**
غړي دولتونه د استثمار د نورو بڼو په وړاندي چي د ماشوم د هوساینی هر اړخ ته زیان رسوي، له ماشوم څخه محافظت وکړي.

**د ماشوم د حقونو په کنوانسیون کي د ماشومانو د پلورنې، د ماشومانو د فحاشۍ او د ماشومانو د بربنډو عکسونو او یا فلمونو په اړه اختیاری پروتوکول**

**۱ ماده**
غړی دولتونه باید د ماشومانو سوداګري، د ماشومانو فحاشی او د ماشومانو د بربنډو عکسونو او یا فلمونو جوړول منع کړي لکه چي په موجوده پروتوکول کي ذکر شوي دی.

**۲ ماده**
الف) د ماشومانو پلورل یعنی هر هغه عمل او یا انتقال چیرته چي یو ماشوم د یو کس او یا څو تنو له خوا نورو ته د حق الزحمي او یا بل هر ډول ملحوظ د تر لاسه کولو په موخه انتقال شي.
ب) د ماشوم فحاشی یعنی د ماشوم څخه په جنسی فعالیتونو کي د حق الزحمي او یا بل هر ډول ملحوظ د لاس ته راوړلو لپاره کار اخیستل.

<u>**د میراث حقونه**</u>

**د ښځو په وړاندي د توپیر د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون**

**۱۵- ماده**
۱- دغه تړون ته ژمن دولتونه د قانون په وړاندي د ښځي او نارینه په برابر ګڼلو باندې توافق لري.

۲- دغه تړون ته ژمن دولتونه په مدني مسالو کي ښځو ته د نارینه وو سره په یو شان قانوني ظرفیت قایلیږی او د دغسی یو شانته ظرفیت د ښودولو په خاطر یو شانته امکانات برابروي په خاصه توګه دا دولتونه ښځو ته برابر حق ورکوي تر څو چي قراردادونه وکړی او ملکیت ولري او د محکمو او د محاکمو په دیوان کي د کار په ټولو پړاوونو او طرزالعمل کي د دوي سره برابر چلند کیږی.
۳- د دغه تړون تعهد کوونکي دولتونه موافق دي چي ټول قراردادونه او ټول هغه قانونی حیثیت لرونکي خصوصي سندونه چي قانوني اغیز لري او په هغوی کي د ښځو قانوني ظرفیت محدود شوي وي باطل اعلام شی.

**۱۶ ماده**
۱- غړي دولتونه باید ټول مناسب تدبیرونه ونیسی تر څو د واده او کورنی په ټولو اړیکو پوري تړلي موضوعاتوکي د ښځو په وړاندي توپیر پاي ته ورسوي په ځانګړي ډول د نارینه وو او ښځو د برابري پر بنسټ هغه باوري کړي.
ج) همدغه شان برابر حقونه او مسوولیتونه د واده او د واده د فسخ کولو پر مهال دي

## پوهنې او کافي روغتیا یي پاملرنې ته د لاسرسي حق

**د بشري حقونو نړیواله اعلامیه**

**۲۵ ماده:**

۱- هر څوک حق لري د ژوندانه دا سي معیار ولري چې د ده او د ده د کورنۍ د روغتیا، سوکالۍ لپاره کافي وي په دې کې خواړه ، کالي، کور، طبي پاملرنه او اړین ټولنیز خدمات او د ده د بیمې حق، د بیکارۍ، ناروغۍ، معیوبیت، کونډتوب، زړښت او په داسي شرایطو کې چې د معیشت د نشتوالي په صورت کې تر غور لاندې نیول کیږي او د ده د وسه تیر وی، شامليږي.

**۲۶ ماده**

۱- هر څوک حق لري چې له ښوونې او روزنې څخه برخمن شي. ښوونه او روزنه لږ تر لږه په لومړنیو او بنسټیزو مرحلو کې وړیا وی.، لومړنۍ زده کړې اجباري وي، ثانوي زده کړې باید عمومیت پیدا کړي او عالی زده کړې باید په مکملو مساوي شرایطو کې د ټولو پر مخ خلاصی وي، تر څو ټول د خپلو استعدادونو پر بناء له هغه نه ګټه واخلي.

**د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوری حقونو نړیوال میثاق**

**۱۲ ماده**

۱- د دې میثاق غړي دولتونه د هر چا د جسمی او روانی معیاري روغتیا څخه د ممکنې ګټې اخیستل په رسمیت پیژني.

۲- هغه تدبیرونه چې د میثاق غړي دولتونه به یې د دغه حق څخه د پوره ګټې اخیستلو لپاره و نیسی د لاندې چارو د سرته رسولو لپاره به دغه لازم اقدامات کوي:

الف) له زیږیدو څخه د مخه د ماشومانو په مړینه کې کمښت راوستل، د ماشومانو په مړینه کې کمښت او د هغوي سالمه وده.

ب) د چاپیریال روغتیایی حالت ښه کول او د ټولنیزو صنعتی ځایونو د حفظ الصحي ساتنه.

ج) د خوریدونکو ، وبایی او د شغل سره د تړلو او نورو ناروغتیاوو مخینوی، درملنه او کنټرول.

د) د داسي شرایطو برابرول چې هغه د ناروغۍ په صورت کې د ټولو لپاره طبي خدمت او طبي پاملرنې ته رسیدنه باوري کړي.

**۱۳ ماده**

۱- د دې میثاق غړي دولتونه د هر چا د زده کړې او روزنې حق په رسمیت پیژني، د ښوونې او روزنې د هدف په اړه د غړو هیوادونو موافقه دا ده چې ښوونه او روزنه باید د انسانی شخصیت د پوره ودې، او د هغې د احساس او د بشر د حقونو او آزادیو درناوی کولو روحیه تقویه کړي. بر سېره پر دې د میثاق غړی هیوادونه په دې هکله هم سره موافق دي چې ښوونه او روزنه باید ټول کسان په یوه آزاده ټولنه کې ګټور رول لوبولو ته آماده کړي، د ټولو ملتونو، قومی، نژادي، قومي او مذهبی ډلو تر منځ مفاهمې، زغم او دوستي ته پراختیا ورکړي او د ملګرو ملتونو د سولی ساتنې فعالیتونه حمایه کړي.

۲- د دې میثاق غړي دولتونه دا منی چې دغه حق د بشپړعملي کولو لپاره باید:

الف) لومړنۍ زده کړې او روزنه جبری شکل ولري او په وړیا توګه هر څوک ور څخه استفاده وکړاي شی.

ب) منځنۍ زده کړې او روزنه په مختلفو شکلونو، د مثال په ډول فني او حرفوي شکلونو کې باید عامی شي او په ټولو لازمو وسایلو په ځانګړي ډول په تدریجي توګه عامه ښه ونیسی او په وړیا توګه هر څوک ورڅخه ګټه واخلی.

ج) لوړي زده کړي ټولو ته په برابر ډول، د ظرفیت، په هره مناسبه طریقه او په ځانګړي ډول د وړیا روزنی د عام شموله تعارف پر بنسټ د لاسرسي وړ وي.

د) اساسی زده کړې او روزنې په ځانګړي ډول په هغو کسانو کې وهڅول شی او یا پیاوړي شی چې نه دي توانیدلی چې د خپلو لومړنیو زده کړو دوره بشپړه کړي.

**د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون**

**۱۰- ماده**

دغه تړون ته ژمن دولتونه د ښځو په وړاندې د توپیر د له منځه وړلو لپاره ټول لازم تدبیرونه نیسی چې د ښوونی او روزنی په برخه کې دوي ته هم د نارینه وو سره سم حقونه برابر شي په خاص ډول په لاندې ساحو کې د ښځو او نارینه وو برابرول یقیني کوي:

الف) د حرفوي او مسلکی لارښوونو لپاره ورته د زده کړو شرایط په کلیو او همدارنګه په ښارونو کې د زده کړې له ټولو کټګوریو څخه د برې لیکونو تر لاسه کول، دغه برابرتیا د ښونځیو څخه مخکې دوري (وړکتون) عمومی زده کړې، تخنیکی او مسلکی زده کړی او همدارنګه عالي تخنیکي زده کړې او همارنکه د حرفوي زده کړو ټول ډولونه برابر شي.

ب) ورته درسی نصاب او ازموینی، د مشابه تجربی او تحصیل لرونکو ښوونکو ته رسیدنه او د یو رنګه معیار د ښوونځی د ودانی او تجهیزاتو څخه ګټه اخیستل چې د مشابه کیفیت درلودونکي

ه) زده کړې ته د دوام ورکولو لپاره برابر امکانات په واک کې لرل د لویانو لپاره د عملی لیک لوست د پروګرامونو په ګډون، په ځانګړي ډول هغه پروګرامونه چې د ښځې او سړي ترمنځ په زده کړو کې موجوده فاصله سره کموي، د رامنځته کولو له لاري.

د) د ښوونځیو څخه د نجونو د خارجولو د اندازې کمول او هغو ښځو او نجونو ته زمینه برابرول چې بی وخته یې ښوونځی پرې ایښی وي.

ه) مشخصو تعلیمي معلوماتو ته رسیدنه څو ددې سره مرسته وکړي چې د کورنیو رو غتیا او سوکالي باوري شی چې په کې د کورنی د پلان کولو په اړه مشوره هم شامله ده.

**۱۲ ماده**

۱- غړي دولتونه دی د صحی څارنی په ډګر کې د ښځو په وړاندې د ټولو توپیرونو د پای ته رسولو د پاره د تدبیرونه ونیسی تر څو دوي وکولاي شي چې صحی خدمتونه د کورنی ژوند د تنظیم د پروګرام د جوړولو اړوندو خدمتونو په ګډون د نارینه او ښځو د برابری پر بنسټ دادمن شي.

۲- غړي هیوادونه د ښځو د پاره د اولاد زیږدون او د زیږونی نه وروسته دوره کې لازم خدمتونه برابروي او د حالاتو د غوښتنی پر بنسټ دغه خدمتونه او همدارنګه د مناسبو خوړو د ورکولو او د امیندواری په دوره کې وړیا شیدي ورکول برابروي.

**۱۴ ماده**

۱- غړي هیوادونه هغه خنډونه چې کلیوالی ښځې ورسره مخامخ دي او د پام وړ رول چې دوی یې د کورنی اقتصاد او د ژوند د پاینښت لپاره لوبوي د هغه کارونو په ګډون چې د غیر- پولی اقتصاد په سکتور کې یې سرته رسوي په محاسبه کې نیسی او ټول هغه تدبیرونه نیسی تر څو د دغه تړون د موادو پلی کول په کلیوالو ښځو باندې تضمین کړي.

۲- غړي هیوادونه په کلیوالی سیمو کې د ښځو په وړاندې د توپیر د پای ته رسولو په خاطر ټول هغه تدبیرونه نیسی تر څو د کلی په پراختیا کې د ښځو او نارینه وو د برابري پر بنسټ دي او د دوي ګډون او ګټه اخیستنه ډادمنه وي په ځانګړي ډول د ښځو لپاره لاندې حقونه تامینوي:

الف) په ټولو کچو د پرمختیایی پلانونو په جوړولو او پلی کولو کې د دوي ګډون.

ب) د اطلاعاتو، مشورو او د کورنی د تنظیم د خدمتونو د پروګرام په ګډون مناسبو روغتیایی آسانتیاوو ته لاسرسی لرل.

ج) د حیاتی سواد د زده کړې په ګډون ټولو رسمی او غیر رسمی روزنو، زده کړو ته رسیدنه او همدارنګه د ټولو محلی او پراختیایی خدمتونو څخه ګټه اخیستنه، ترڅو خپل تخنیکی مهارتونه زیات کړي.

**د ماشوم د حقونو کنوانسیون**

**۲۴ ماده**

۱- غړي دولتونه د لوړ معیار د روغتیایی خدمتونو څخه د ماشوم د برخمن کیدلو د حق سپارښتنه کوي او د ماشوم د درملنې او روغتیا د ساتنې په اړه وړ آسانتیاوی رامنځته کوي. دولتونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې ددغه ډول روغتیایی خدمتونو څخه یو ماشوم هم بې برخې نه دی.

۲- غړي دولتونه باید د دغه حق بشپړ پلي کول تل و څاري په تیره بیا مناسب اقدامات دي په دغه اړه تر لاس لاندي ونیسي:
الف) د نویو پیدا شوو او نورو ماشومانو د مړیني کچه دي را ټیټه کړي.
ب) دا ډاډ تر لاسه کړي چې د درملنې او وقایوي مرستو په اړه د ماشومانو سره لومړنی روغتیایی مرستې تر سره کړي.

۳- غړي هیوادونه باید ناوړه دودونو د له منځه وړلو په اړه ټول اغیزمن او ګټور اقدامات تر لاس لاندي ونیسي.

**۲۸ ماده**

۱- غړي هیوادونه د زده کړي په برخه کې د ماشوم حق په رسمیت پیژني د دغه حق په صعودي توګه د لاس ته راوړلو په هکله باید دولتونه د برابرو فرصتونو له مخې په تیره بیا:
الف) لومړني زده کړي اجباری او په وړیا توګه یې د ټولو د پاره زمینه برابره کړي.
ب) د ثانوي زده کړو د بیلابیلو ډولونو د پراختیا د حرفوي او عمومی منځنیو زده کړو په ګډون وهڅوي او هغه د هر ماشوم د پاره چمتو کړي او د اړتیا په صورت کې د مالی مرستو او وړیا زده کړو په برخه کې هم وړ مرستې تر لاس لاندي ونیسی.
ج) لومړنی زده کړي د غوښتونکو د وړتیا له مخې د هر ډول وسایلو به برابرولو سره هغوي ته برابري کړي.
د) د حرفوی زده کړو په اړه معلومات او لارښوونی د ټولو ماشومانو د پاره چمتو او د هغو د تر لاسه کیدو زمینه برابره کړي.
ه) داسې وړ اقدامات تر لاس لاندي ونیسی چې ښوونځیو ته د منظم تګ زمینه برابره شي او زده کوونکی وهڅول شی هره ورځ باید ښوونځی ته ولاړ شی او په همدغه ترتیب د ناکامیو اندازه دي را ټیټه کړي.